# «ستره ستاره شهيده سوه خو!فکري واړنګی به ئې ځليږي»

## سريزه

په دې کتاب کي چې دستارې اڅکزی دژوند د مبارزوبيلا بيلی برخي توضيح سوي دي،نه يوازی داچی دستارې دژوند زحمتونه ،هيواد پالنه اودمبارزو مهم اړخونه په کښي ياد سوي دي.بلکي؛ دافغانستان داوسني وخت دپيښواو تاريخی اسنادو په حيث يو په زړه پوري کتاب دی، چي راتلونکي نسلونه به دستارې اڅکزۍ دلاسته راوړنو اود سياسي ،ادبي او ټولنيزوغورځنګونويوه ښه بيلګه وګرځي. او دهيواد خلک او ښځي به دهمدغه سي مبارزو شاهدي وي،را تلونکی تاريخ به وياړ په کوي اودتاريخ يا تجريبه سوؤ مبارزوپرقد م به افغانان خپل ګام برابروي. اوپه ډيره بيا دښځينه غورځنګ دپاره به دغه اثرډيرمهم اواړين وګڼل سي.زموږ نارينه ولس که دتاريخ په اوږدوکی مبارزې کړي دي،لاسته راوړني لري ،خو! نجونواوښځوهم دافغانستان په سياسي اوټولنيز تاريخ کي ځانګړی ځای ځانته خپل کړی دی،اوپه تحولاتو کې بشپړه برخه اخيستې ده.چي دلته يوه بيلګه ئې دهمدغه منوري مبارزي ستارې اڅکزۍ يادولای سو.هغه وخت چي په ۱۳۴۲هـ ش کال يا په ۱۹۶۴م کال کې دپاچاه محمد ظاهر خان په وخت کي دويښ زلميانو دفشار په نتيجه کې مطلقه شاهي په مشروطه شاهي واوښتل نو؛ اساسي قانون هم جوړسو داساسي قانون سره سم دډموکراسۍ ډول هم خپل ږغ وچت کی اودويښ زلميان غورځنګ هم دهد ف دترسره کيد و وروسته دزندانونو څخه راخوشی کړل سوه.په کندهارکي دحاجي محمد انور خان اڅکزي کورنۍ دلومړنۍ کورنيودجملې څخه وه چي د کورنۍ ټولی نجوني ئې دښوونځۍ پرلوری ورروانې کړې.او ښځي ئې هم ودې ته وهڅولې چي ښوونځی ولولی او په هيواد کی دنارينو په څيرپه دولتي او غيري دولتي څانګو کی دخدمت وړوګرځي.داکارپه هغه وخت کې يوعام اوعادي يا معمولي کارهم نه وو.دې کار په خپل وخت کي قربانۍ ته ضرورت درلود، جرئت ته ئې ضرورت درلوداودنا دپوهه ولس په مخ کې يوټينګ عزم اومقاومت ته ئې ضرورت درلودی.خونوموړی مقاومت اوجرئت دجهل اوناپوهۍ په مقابل کي دستارې دپلاراودهغې دکورنۍ سره موجودوو، چي د ښځوغورځنګ ئې دکاميابۍ وځنډ و ته ورسوي.دلته نه يوازی په دې منورغورځنګ کی دکورنۍ او قومي مشرحاجي محمدانورخان اڅکزی هلی ځلي دستايلووړدي بلکي؛دهمدغه کورنۍ د نورو

غړوځوانانواويادكورنۍ دهلكانواو نجونوغښتلي توب،مقاومت اونه ستړې كيدونكې مبارزه د تعليم اوتربې په خاطر دښځواو نارينو دپاره دستايني وړبولم.

دكندهارپه هغه شرايطو كى چي يو ځل ۱۳۳۹هـ ش كال او ۱۹۶۱م كال سره برابره يولويه بلوا دښځوپرآزادۍ باندي وسوه، چي په سلهاوكسان په كښي ووژل سوه او ډيركسان په كښي معيوبه سول. نوموړى ارتجاعي تحريک په كندهاركي دځينو تندروه ملا يانو دخوا څخه تر سره سو، چي يولړنا پوهه ولسي خلكو ئې هم ملاتړ كاوه.چي ددې جملې څخه يوهم صالح محمد خان پوپلزى دكرزاوسيدونكى وو.ددې بغاوت په نتيجه كې سينماته اورواچاوه اوپه زرغونه انا ليسه كې د ليسې مديره اونورزده كونكي اوښوونكي لت وكوب اوزخمياني كړې. خو! دنيكه مرغه چي جنګماران او بغاوت كونكي ډيرژردقانون منګلوته وسپارل سوه.

كه څه هم په دغه وخت كي به ستاره اڅكزى ډيره وړوكې يا كوچنۍ وه. ممكن په لومړۍ ټولګى يا دوهمه ټولګۍ كي وه.خودغه حالت ئې په خپلو سترګوليدلى هم ؤ. بيا ئې هم ديوې هوډاندي نجلۍ په ځيرخپل درس اوزده كړى ته دوام وركړ.ستارې اڅكزۍ لومړۍ زده كړي په زرغونه انا ليسه كي دبكلوريا تركچى پوري ترسره كړې.اووروسته ترهغه دكابل پوهنتون ته دكانكوردازموينې دترسره كولوڅخه وروسته بريالۍ سوه.اودليسانس سند ئې دكابل پوهنتون دتعليم او تربيې په برخه كى ترلاسه كى. قهرماني ستاري اڅكزى دهيوادپالني،لوړجرئت،لوړاخلاق او دمظلو مانوسره دمرستي درس دخپل پلاراوكورنۍ څخه په ميراث اخيستى وه ، يوه ورځ ستارااڅكزۍ،چي كورنۍ نوم يې توريپكۍ وه، په رخصتي اروپاه ته راغلې وه نوما پوښتنه ځيني وكړه چي تا ولي خپل ژوند په خطركي اچولى دى؟ تا ته خو هر څه دلته په جرمني كي موجودوه.ژوند دي بيمه درلودله،كوردي بيمه درلودله خاوند دي ښاغلى ډاكټردرويزه اڅكزى دډاكټرۍ تركچي په خپله په المان كي دكيميا په برخه كې زده كړي كړي دي ، نو تاته څه پيښه ده ، چى دغه ښه ژوند پريږدې او كندهار ته ځې .خو!هغې خپلي نيكي هيلي راته بيان كړې اوبيا يې دغه لاندي ځوخبري هم را سره شريكي كړې .چي زه به ئې ستاسو ويونكو سره شريكي كړم.

ستارې به ويل :زه اوس په عملي توګه دكندهارښځوته كاركوم،دهغوى رسمي دوسې په محكمواو ښارنوالۍ اونورودولتي مؤسيسوكې ورخلاصوم.خلك زما دخدمت

څخه ډیررازی دي.اوغریب عام ولس زما سره ځان ډیرخوشحاله اومسؤن احساسوي، نوځکه زما هم دوی نه زړه کیږي چي یوازي ئې پرېږدم.اوزه بیرته المان یا جرمنی ته ولاړه سم. خو ! برسیره پردغه اهدافوخطرهم په سترګووینم. ځکه چی په وارو،وارواخطارونه راکړل سوي دي. اودشپې پاڼي ئې هم دکورشاه وخواته را ته پاشلی دي.که څه هم ما دغه یوه خبره ورته وکړه ماوویل:ستا خدمت کول ستا په ژوند کی دی، که ته ژوندۍ وې، نوته به خلکوته دخدمت مصدرسې .دغسی خبری ډیري سره تاواوبالاسوې.څو ستاره ودې ته راغله چي که دغه پلاروغه ځیني راووتلم نوپربیا به فکرپروکړم. چی زه څومره تاثیرپه دباندی کی دهیواد لرلای سم او څومره په دننه کی دهیواد.



**په پورته عکس کي ډاکټردرویزه،دستارې ورورمحمد کریم خان اڅکزی او ستاره اڅکزی لیدل کیږي**



**ستاره دخپلی مور حجانۍ بي،بي سره**



**په عکس کې پر درویزه او محمد کریم خان برسیره بل ورور محمدعلم بڅرکی دی.**



**ستاره اڅکزی دښوونځی په دوران کې**

**ستارې اڅکزی ویل :**

( زه چې کوچنۍ وم پلاربه مې ما او خویندو ته ویل چې: "حق نه ورکول کیږي بلکه حق اخیستل کیږي". ددې حق اخیستلو لپاره موږ په کندهار کې لومړنۍ نجوني وو چې ښوونځی ته پربایسکل تلواوراتلو .په کندهارکې د ښځو د حقونو فعاله ستاره اڅکزۍ (۲۰۰۹-۱۹۹۵م )

زه په واقیعت کي ددې دغه دهیواد پالني اوښې روحې ته حیرا ن پاته سوم ، هغه دکلي او کوڅې دخلکو خبري مي را یادی سوې چي همیشه به یې و ستارې ته دمیراني لقبونه ورکول.خواوس هغه زموږ.په منځ کي نشته او هغه دهیوادپه خاطرځان دهیواددخلکوستونزوته سپرکی اودشهادت جام یې په اسلامي اوافغاني عزت سره پورته کی.دافغانستان خلک به ددې یاد تل ساتي.اودغي ورځي ته به یوه غمګینه ورځ وایو.او په هیوادکي به د مباریزو ښځوپه لړکي ددې نوم هم ثبت کړي. روح دې ښادوي.یاد دې تل پاته وي.




دستارې اڅکزۍ مور حجا ني بي ، بي د لور د ليد ني انتظارکوي

## دستارې اڅکزۍ دشهادت انګيزه او يادونه :

په ډيرخواشنۍ سره مو خبر تر لاسه کړ،چي ستاره اڅکزۍ دطالبانو له خوا په کال ۲۰۰۹ – ۴ – ۱۲م کي داپريل پردولسمه نيټه ديکشنبې په ورځ دغلورو بجو په شاه وخوا کي، په غيري افغاني،غيري اسلامي اوبزدلانه توګه شهيده کړل سوه ((روح دې ښاد وي )) .

خو دا چي د ملت فکردچاه په مغزوکي ځای نيولی وي ، بيا هغه دغروراوبهترۍ احساس هم په ځان کي ساتي. او پردغه لارکه شهيد هم سي ژوندون يې هم دفخر وړدی اوشهادت يې هم دفخروړوي.دملت دخلکوخد مت کول يوه لويه قرباني غواړي اومثال د قربانۍ يې موږ په خپل تاريخ کي لرو،خوپه اوسني وخت کي دستاري اڅکزۍ شهادت يوه لويه قرباني وه.اودراتلونکي تاريخ دپاره بې ساري وياړيې کورنۍ او هيوادوالوته ورپه برخه کړ. داځکه ستاره اڅکزۍ دپيسو دګټلو په خا طروهيوادته نه وه ورغلې ،لکه څنګه چي يولړانجوګاني هيواد ته دلوټمارۍ دپاره تللي دي، داځکه چي هغې دپلاراو نيکه بې شماره جايداداوشتمني درلودله. او دجرمني په هيوادکې هم هرڅه تضمين درلودله.يوازي دولس اوقوم پرغريبانه ژوند نارامه وو.اوترهغه ځايه چي ژوندورسره ملګری و، په هم هغه وخت اوزمان کې خپل ډيرښه نوم اونښان وساته.پاته سول هغه تراژيدي چي کورنۍ ته يې ورپه برخه سوې اوپاته ده.چي دکورنۍ فردفرديې ژوندی وي دهغې نيکي اوښې خا طرې به

ورسره وي.دهغې دشهادت د مرګ نه وروسته دشهيدي ستارې مورچې دژوند ورستۍ شيبې پرختميدودي اود۱۰۰کالوڅخه اوښتې ده تراوسه هم دستارې دمرګ څخه خبره نده.اوهرلحظه دخپلي قهرماني لوردراتګ په اميدورځي تيروي. دمرحومي ستارې شهيدي موروهرميلمه ته په وياړسره واي،چې ماخپله لورکندهارته دقوم اوخلکودخد مت دپاره استولې ده اوهلته دخپلوپلرونواونيکه ګانو په ځيرخدمت کوي. دمرحومي ستارې اڅکزۍ خاوند مرحوم درويزه چې هم دخپلي ميرمني سره يوځاى دهيواد خد مت ته لستونې را نغښتې وه .او د کندهارپه پوهنتون کې دکيميا داستاذ په صفت دنده ترسره کول، پسله ډيرلږ وخت څخه دشهيدي ستارې دشهادت نه وروسته هغه هم په خپلي قهرماني ميرمني پسي زړه ودريدى .او دټول عمر له پاره يې ددې نړۍ څخه سترګې پټې کړې اودابدي ژوند دپاره دخپلي ميرمني سره يوځاى سو.ددوى دي جنت فردوس په نصيب وي ، چې دخپلي خاوري او هيواد دپاره يې خپل ځانونه شهيدان کړه. اوزموږ قهرمان خلک به هم هيڅ وخت خپل دغسي قهرمانان هيرنه کړي .اوهميشه به يې يادساتي .اوددولتي چارواکو څخه زموږهيله دا ده چې بياهم دستارې دنوم په خاطريوه علمي مؤسيسه دهغه په نوم ونوموي اودهغې قاتلان دقانون اوانصاف ودروازې ته ودروي.که څه هم پورته يادونه يوه هيله ده؛موږ په دې پوهيږوچې هرسياسي قتل ديوې سياسي مشورې له مخې په سازماني توګه ترسره کيږي.په دولت کي دننه دتروريزم حمايه په پټه کى شتؤن لري. نوځکه زموږ داهيله ددغه دولت څخه دانه ده؛چې دستارې قاتلان دي دقانون منګولوته وسپارل سي.خو! داحمدشاه بابا علمي ادبي ټولنه هم په دې وياړکي ځان شامل ګڼي چې د خپلي قهرماني ستارې ورځ به هر کال دتوانمندۍ په صورت کې نمانځي .(( روح دې ښادوي)) خداي تعالى دې ددې دشهادت په روى وه افغانانوته يوآزاد ، سوليز،پرمختللى افغانستان ورپه برخه کړي.

**داحمدشاه بابا دعلمي ادبي ټولنى مشر**

**ننګيالى بڅرکى**



**تر هغه ژوند ون مي مرګ را ته بهتردی**
**دیــوې لحظې ژوند ون لاپرد رو ند تردی**
**چي نه فکر او نه خیال دغـرور ساتي**
**بې پروا انسان له هر ژوي بد تر دی**

**څلوریځه ننګیالی بڅرکی**

**په غیرت د نوم او ننـګ افغان دی ښکلی**
**پر هغو به وي تل جوړ د غیرت څلی**
**دافغان تاریخ په و ینو لیکل سوی**
**دشهید په نوم به ویاړکړي کوراو کلی**

**څلوریځه : ننګیالی بڅرکی**

**چاه چي هوډ د میدان وکی نووردان ګي**
**د پښتون هوډ بیا د ژ بي یو بیا ن دی**
**داد ژبي د کلام څه اوښتل بې غیرتي ده**
**دغیرت پر لوري تل روان انسان دی**

**څلوریځه : ننګیالی بڅرکی**



بريښنا بڅرکي او ستاره اڅکزۍ

## دارواح ښادي شهيدي ستارې اڅکزۍ لنډه پيژندنه

ستاره اڅکزۍ چي دکندهار دبي،بي هواپه کوڅه کي د لرګو ګنج ته څيرمه په مشهوره سيمه کې په ۱۳۳۱هـ ش کال کې په يوه منوره کورنۍ کي سترګي روڼي کړي وې.دلوړسياسي شخصيت،چي دسقاووه واکدارۍ ته يې په کندهارکي دپای ټکی کيښوداودويښوزلميانوسترمبارز،چي دډيمو کراسۍ په خاطر پنځه (٥)کاله بند ګاللی ؤ .د مرحوم حاجي محمد انورخان اڅکزي لوروه. ستاره لاوړوکې وه چي کورنۍ يې د بي ، بي هوآ دڅلورمی ناحې څخه وپنځمي ناحې يعني د( منزلباغ ) جادې ته په کډه را نقل سوه،چي لومړۍ زده کړي يې .په زرغونه اناليسه کي تردولسمي ټولګۍ پوري دبکلوريا ترحده وکړې ، اوبيا يې دکانکورترازمويني وروسته،دژبواو ادبياتو په برخه کي دتاريخ او جغرافيې څانګه په ډيربرياليتوب سره سرته ورسول.اوپه همدغه څانګه کې دښوونکي په توګه دنده ترسره کول. وروسته ترهغه په کندهارکي دعينودليسې دمديرې په تو ګه يا دمشري په توګه يې خپله دنده په ډيربريا ليتوب ترسره کړل .اوبيا دهغه څخه وروسته دکندهارپه لوړرتبه

مامورينو کې دميرمنودټولني درئيسې په توګه يې دنده ترسره کړه ، چي تر ۱۳۵۷هـ ش پوري دميرمنو دټولني مشروه ، خو څه وخت چي په ۱۳۵۷هـ ش کال کي دثوردمياشتي اړودوړرامنځته سو او حکومت په يوه ګونداويوه ايډيالوژي پوري وتړل سونويې ددې پرځاى يوه ګوندي ښځه په کاروګمارل . چي ددې څخه وروسته ستاره اڅکزۍ دکندهار څخه دکابل پرلوري ولاړه.اوهم هلته دکابل په (عايشه دراني) ليسه کې دښوونکي په توګه خپله دنده پيل کړه ، ترهغه وروسته په (امينه فدوي ليسه کي په کاروګمارل سوه ) په ۱۹۸۹م کال کي د پاکستان اوبيا دجرمني پرلور مهاجره سوه.په جرمني کې هم په ځينوبرخوکي دکاردلاسته راوړلو په خاطر ځيني زده کړي ترسره کړې ،لکه د ګلانوسمبالول اوډيکوريشن ، غونچه کول اوخپله دجرمني ژبه زده کول .ستاره اڅکزۍ دغه وخت هم په ټولنيزوکارونواوادبي ټولنوکي فعاله وه، په ډيروټولنيزو،ادبي غونډوکې برخه اخيستل اودخپلونظرياتوپه وسيله ئې ولسونه تنويرول اوروښانه کول.هغې دغه وخت هم دخپلو شتمنيويوه برخه دافغانستان دخلکوسره شريکول.اوپه دننه افغانستان کې ښوونيزبهيرپه خپلوملي شتمنيوحمايه کولی.دجرمنی افغانانو ستاره په يوه علمي اوادبي ځانګړنوسره پيژند ل.او دخپلو زده کړو څخه ئې دجرمني ځينو اتحاديواوپه هالينډ کي داحمد شاه بابا دعلمي اوادبي ټولني ګټه اخيسته.شهيده ستاره که څه هم د مجبوريتونو په سبب دهيواد څخه د باندي په جرمنی کي اوسيدل خو!دهغې زړه به هميش دهيواد د ولسونو سره وو.

هغې به ويل : په فکرو نو ئې خوند اخلم چي رايا د کړم

ياران نسته هيوادوران دی يوه ستړې پرد ېسي ده

شهيدۍ ستارې اڅکزۍ برسره پردې چي لوړتحصيلات يې ترسره کړي وه اوزموږ ودې غريبي ټولني ته يې ډيرخدمتونه کړي وه او ديوه لوړ شخصيت ارزښت يې درلود په ځينو ژبو باندې هم پوهيد ل اوپه ځينوژبو ئې بلد يت درلود. لکه : پښتو ، فارسي ، جر مني پوهيدل،په انګليسي ژبه باندي ئې بلديت درلود. اولوستل او ليکل يې په ښې کولاى سواى .

ستارې اڅکزۍ په جرمني کي ديوه ښوونيز شخصيت ښاغلي ډا کټردرويزه اڅکزي سره واده وکړ.اوښاغلی درويزه اڅکزی چي دثورترانقلاب وړاندي جرمني ته تللی

وو، اوهغه د کيميا په برخه کي خپلي لوړي زده کړي د(پي اچ ډي) يا ډاکترئ ترکچي تر سره کړي وې ، دهغه سره يې ګډ ژوند راپيل کړ.خوبياڅه وخت چي افغانستان ته يوه نسبي سوله راغله اودخلکو اميدواري دسولي وخواته ډيره سوه او په هيواد کي قانون نافذ سو نو دښاغلي ډاکټردرويزه په صلاح اومشوره وهيواد ته دخد مت په خاطريې دغرب او جرمني ښې اوښادئ پريښودې اوهيوادته راستانه سوه،هغوی ددولت رسمي کورونه قبول نه کړه اوخپله سرمايه يې په خپلو نړيدلوکورونوولګول او هلته يې دځان دپاره ټا ټوبي جوړکړ.چي په نتيجه کې ډاکټردرويزه دکندهاردپوهنتون داستادپه توګه دنده راپيل کړ.اوخپله مرحومي ستارې دولسونوپه منځ کي ځان ولايتي شوراته کانديدکړاوخلکوهم دهغه داستعدادپه خاطردباوررايه ورکړه.اوپه يوه ښه اکثريت سره هغه دکندهارولايتي شوراته کانديد اوبريالۍ وټاکل سوه . چي بيا وروسته په همدغه شوراکي د منشي په تو ګه يې هم دنده ترسره کړې ده .چي دهيواد د د ښمنانو له خو په ډيره ناځوان مردانه او غيري افغاني او اسلامي تو ګه داپريل دمياشتي پر (۱۲)نيټه ددوکسانوطالبانو په وسيله شهيده کړل سوه.اوترووريست طالبان په تيښته بريالي سوه. چي د يوه موټرسايکل په وسيله يې فراروکړ. که څه هم دافغانستان ټولنه يوه جنګ ځپلې ټولنه ده، دسواد کچه په دې ټولنه کي لږ ده؛ په ډيره بيا دلوړو زده کړو په برخه کي، په ځانګړې تو ګه بيا دښځو په طبقه کې . زموږ دښمن موږ ته علمي قدرونه نه را پريږدي او دهغه وخت څخه چي زموږ په هيوادکي جنګ روان دی ، دښمن ټول عمردغه هڅه کړې ده چي زموږعلمي اوپوهه کسان دښوونکوڅخه نيولې بياترښونيزومرکزونواوعلمي مؤسيسو پوري ئې هميشه په نښه کړي دي.اودمنځه يې وړي دي.دلته پوښتنه دانه ده چي ستاره اڅکزئ دکندهاردولايتي شوراوکيله سوه،بياد د ښمنانوله خوا ترورکړل سوه.نه!! همدغسي نه ده.ستاره اڅکزی دخپلوعلمی ښوونيزوپوهوپه وسيله افغانستان ته ابادي او سوله راوستل،کندهاردغسي علمي کسانوته ضرورت درلود.خودادښمني دستارې اڅکزئ سره نه وه.بلکي؛همدغه تروراودښمني دهيوادسره وه. دهغې په مړينه اونابودئ سره دکندهار ښارناتوانه اوبيچاره سو.ددې څخه وروسته بيا هم بله هيواديالله کندهارئ چي دښووني او روزني په برخه کې ډيري تجريبې درلودلې، (سفيه امه جانه)



**سفيه امه جان دکندهار دښځودغورځنګ یوه باهمته مبارزه**

هم دښځودغورځنګ یوه فعاله منوره ښځه وه ، په همدغه خاطرهغه هم دهیواد ددښمنانوله خواڅخه ترورواوشهیده کړل سوه.اوهمدغسي پردغوهیوادپالوبرسیره ددې څخه وروسته هم د کندهار په کچه اودهیوادپه کچه ډېرهیوادپال اودتجریبو ،نظرخاوندان دهیواد د دښمنانودخوا څخه په نښه سوه او نورهم تر نن ورځي پوري همدغه دهیواد پالود ترورلړۍ روانه ده. ددې ټولوخبرو پایله په دې کي ده ، چي زموږ ګران افغانستان په دغه وخت کي دناټواودهغه دغربي امپریالیستانودخوا څخه په نظامی لحاظ اشغال سوی دی.نوځکه واک اواختیارټوله دهغوی په لاس دی،کوم چي نظامي اووټیزواک پردې هیواد لري.دهیوادټوله وګړي بې صلاحیته اوناتوانه دي. دناټوچارواکي په دې ډېرښه پوهیږي چي دهیوادستونزه په کوم ځای کی ده،دهیواددغه دښمنان د کوم هیواده څخه سرچینه اخلي اود کوم ځایه زموږهیوادته د ترورکرایه سوی مزدوران را استوي.نن موږته په افغانستان کي د ناټو۴۶هیوادونه دسولی اوډ یموکرا سۍ ، دبشرد حقوقواود نړیوالي مافیا،دهیروئینودقاچاق د منځه وړلوپه خاطراونوم سره راغلي دي. خو! نه داچي دغه هد فونه ئې سرته ونه ورسول، بلکي؛نورهم ترپخواډېرسوه.او هیواددبربادۍ ژوري کندي ته دلویدوپه حال کي دی.داځکه چي داستعمارتر جوغ لاندي ملت دسترخطره سره په واضیح ډول ترفشارلاندي دی.درسمي احصائې له مخي څلورنیم میلونه انسانان په هیروهینو اخته دي،پنځه میلونه معلول سول.درې میلونه ماشومان دجنسی تیري ښکاردي،پرښځوباندی تاوتریخوالی ترپخواڅو چنده ډېرسوی دی.کوچنی ماشومان

ددرس او تعليم څخه محرومه دي او په شاقه کارونو کي بوخت دي، چی دغه ټوله ستونزي دي،چی موږته دناټوداستعماری ځواک دخوا څخه را پيښي دي. دلته ماته دانګليستان ديوه لوړسياست پوهه خبره دپام وړګرځي:دښاغلی چيرچيل څخه يوه چاه پوښتنه وکړه چي ستاسوبيرغ دنړئ پرنيمه وچه رپيږي، ددې پيروزئ د ليل اوعلت څشی کيدای سي.چيرچيل سياست پوهه په خندا سو.

اووې ويل: په يوه هيوادکي احمق ولس،بيسواده خلک ،په فساد اخته خلک پرسرد قدرت که،علم اوپوهه ځينی واخله،منورين ئې بې واکه کړه، ناپوهوته د کارزمينه په لوړپوړوچارواکوکښي ورکړه،هغه ملت نورد مقاومت توان دلاسه ورکوي.اوموږ پاچهي پرکوو.

نن چي دافغانستان هغه د نظرخلک اوهغه خلک چي په نړيواله علمی نړئ ليد ئې مغزونه خلاص دي.اويادهيواد د ستونزوپه علت اوانګيزه پوهيږي،دهيواد دستونزوپه علتونوښه پوهيږي اوپه علمي اوډيالکټکي توګه دپيښوعلتونه پيداکوي.اود حل لازمي لاري ورته پيداکوي، هم هغه منورين ياد هيواد په دننه کې دترور قرباني کيږي او يا هم دهيواد څخه وتلو ته اړايستل کيږي.دافغانستان په همدغه شرايطو کي چی اوس دستي موږاوسيږويولړهد فمند اوځنځيري وژني روانی دي، چی معلومداره هرڅوک په دې پوهيږي، چي نوموړی وژني دخارج څخه پلان کيږي اود تروروسايل ئې په دننه دهيواد کي تياريږي.ترنن ورځي پوري امريکائيانويو**تر بيلون ډالره** په افغانستان کی په جنګي برخه کي مصرف کړي دي،خو دامعلومه نه ده چي دناټومتحدانډيوالانوبه څومره پيسې دافغانستان په ورانولوکې لګولی وي.اوتردې وروسته به ئې هم لګوي.په افغانستان کي د ګاونډي پاکستان رول په هيواد کي دخربولواودهيواد بې ثباته کولوکي ډيرستراووچت دی. خو!امريکائيان پاکستان ته ديوه سيميزملګري ياستراتيژيکی انډيوال په سترګه ګوري.په داسي حال کی چي نړئ ټوله په دې پوهيږي چي پاکستان دافغانستان په ورانولواوپه نړيواله کچه دتروريزم ځاله ده،خو!داځاله دامريکااونړيواله امپرياليزم د قد م ايښولوټاټوبی هم دی،دهغوی سترا تيژيک ملګری دی.نوداچي پاکستان دامريکا ئيانوسيميزملګری دی.او دافغانستان ستردښمن دی.نوموږ افغانانو ته به ددغسي دوستانو چي تر موږ افغانانو ئې پيرزوينه پرخپل ستراتيژک ملګري با ندي ډيره وي،نوزموږ هيوادبه زموږ ددښمن دملګری څخه څه ګټه ترلاسه کړي. پوخ حقيقت خو دادی چي پاکستان

دافغانستان په بربادۍ کي سترړول لوبولی دی.اودافغانستان پرضد دتروریزم مرکزونه د۱۹۷۹م کال څخه بیا ترنن ورځي پوري په پاکستان کي دي.اوتردې ترمخه چي په افغانستان کي دثوردړمي انقلاب راسي هم پاکستان ترخپله وسه دافغانستان دبې ثباته کولوپه خاطر دهیڅ ډول تخریبي عملونوڅخه ډډه نه دکړې. په وروستیووختوکی نړیواله تروریست اسامه بن لادین هم په پا کستان کي دحیات آبادپه ښارکې چي اسلام اباد ته څیرمه یوه نظامي برخه کی پیداسواووژل سو.

لنډه ئې داچي:دستارې اڅکزی وژنه دشخصي دښمنیوپرسرنه بلکي؛ دنړیوا له تروریزم په پلان دنورروملی شخصیتونوپه څیروژل سوې ده.اودادې ارمان وو، چي هیوادته خد مت کوم. ترهغه وخته چي زه ژوندۍ یم. که څه هم هغه ووژل سوه، خود کندهاردخلکو سره ئې دخد متونویاد ګارونه سته،چی هروخت ئې یادونه کوي.ستاره اڅکزۍ دومره پرخلکواوپه تیربیا دکندهارپرښځوګرانه وه چی هرسهاربه نوموړې دکاراوولایتي شورالورى ته تلله نودکورمخته به ئې په لسهاوکسان ولاړوه.اوخپل مشکیل به ئې ورسره شریکاوه،اوستارې به هم دهریوه سره په جلا،جلا توګه،دهغه دمشکیل دحل دپاره ډول،ډول دفترونوته تلل.اود مجبوروخلکوکارونه به ئې خلاصول.حتائینی وختونه به دهغوی کوروته دستونزودتعقیب دپاره ورتلله چي کارئې ترکومه ځایه خلا ص سوی دی.

هغه وخت چی زه په ۲۰۱۶م کال کي کندهارته تللی وم،ماته دکندهارخلکو اوزماړونده ملګرواودوستانودستارې د محبوبیت اودهغې د خدمت په باب ډیري کیسې وکړې،هغوی به ویل:چی ده کندهارپه ولایتی شوراکي یوازنۍ څوک چی لوړي زده کړې درلودلې هم دغه ستاره اڅکزۍ وه.دستارې اڅکزۍ به دځینوغاصیبینو،رشوت خوروادفساد کونکومامورینوسره هم جنجالونه اومبارزه وه.خو!لکه څنګه چي جوته ده دافغانستان موجوده حکومت اودهغه چارواکی په زیاته فیصدي په اداري فساد اخته مامورین وه.اوزوراکي هم وه.چی دامبارزه دیوې ښځي اویوې منوری مبارزي دپاره په یوازي ډول څه اسانه کارهم نه ؤ.نوماته دلته دغه ویرنه دخلکود یا دونوسره سمه راپه زړه سوه.



## ويرنه (مرثيه )

کندهارژاړي ګيله مند دى نن د خپلو بچـو
دا دپردو په لمسون وژني خپل دپت سرونه
امن يې نسته ګريوان څيري دبل په لمسون
ځيني را وزي فراريږي دعـزت کـورونه

کند هار ژاړي ګيله مند دى نن دخپل او پردو
چــــې دغيرت خبري ولاړې دازمورږ د مغزو
څپې سوې غلي دهلمند او ار غنداب د موجو
څنګه را تيرسود ښمن زمـــورږ تـــر کـورو

کندهــار ژاړي ګيله مند دى نن د خپلو بچـو
ها! دنيکه منا جات څه سوه ها د بيټ خوبونه
ها داڅک تر سترګوتوى سوې اوښکې پاس رودونه
او ښکي به څنګه پا کوئ دا دبابا د ستر ګو

کند هار ژاړي ځيني ولاړه دا دوخت ستاره
د مځکــي خيال دآسمانو دکهکشا ن ستا ره
ټـوله نړۍ ورته حيرانه ده کــــوي ننداره
پريشتو پورته کړه آسمان ته دادوخت پښتنه

کندهار ژاړي ګيله مند دی دا دخپل او پردو
په نخښه ولــي د خپل نيکه اودبابا کـــورونه
د خپل غيرت نومونه ، د شهامت خـــيالونه
ګيله پر ځا ی ده د خيبراو آبا سيند د رود و

په چيغو ، چيغو ورته ژاړي ارغنداب او هلمند
دا دامو څه تر اټکه دی ټـــــــول پښتون ګيله مند
په زړه زخمي ، په ژړاژاړي هم بارک هم مومند
د شهاد ت په مرګ تهديد سوه نوم يې دی عزتمند

کندهار ژاړي ګيله مند دی نن د خپل اوپردو
چي پرعجزويې لاس برسي اوروي پرمرمۍ
غيرت يې خرڅ کی دپرديو هيوادو په پيسو
نــــه سته پښتونه! نن همت د لـراو بر پښتنو

کندهارژاړي ګيله مند دی نن دخپل اوپردو
دا دپردو په لمسون وژنـي داد سرکسان مو
په نخښه کړي د ښمن ها د نظر کسان مو
داڅکزۍ ستارې په شان بهتر کسان مو

کندهار ژاړي ګيله مند دی نن دخپل او پردو

هواره کړې موکمبله دا دغم پرانګړاوکورو
پښتانه ژاړي هم پرلراوهم پربردي ابتر
دښمن راغلی دی وکورته چي ترغله دی بد تر

اورونه بل دی دافغان د کور پرانګړ
دروازې خلاصي سوې دهیواد پرباډ ر
پرمځکه لویږي دادپت عزتمنده چا د ر
دننګ امید موسوخاموشه د تاریخ پرډ ګر

**ننګيالی بڅرکی**



**په پورته انځورکي ستاره اڅکزۍ، درویزه اڅکزی، عبدالکریم خان اڅکزی دي**

**دشهیدي ستارې اڅکزۍ دژوند ځانګړني**

ستاره اڅکزۍ چي په یوه روښانفکره کورنۍ کي دې دنیا ته راغلي وه ،پلاريې حاجي محمد انورخان اڅکزی دډیموکراسۍ دلاري پلوی اوپه ټولنیزلحاظ یوخان ؤ،چي دخپل وخت په مروجه علوموملي اونړیوالوژبو پوهیده.هغه په پښتو ، فارسي ،اردوژبو باندي په بشپړه توګه لیک لوست کولای سو ؛ خو په انګلیسي او عربي

هم څه ناڅه پوهیده . هغه په کندهارکي دخپلوزړه وروقومي پښتنوملي مبارزینوپه مرسته دانګریزانوورروستي لاس پوڅی ( حبیب الله مشهور دسقاوپه زوی) ته ماته ورکړه اوکندهاریې دسقاودظلمه وژغوری ، خو پسله هغه چي په کابل کې یومرکزي حکومت ځای پرځای سو؛ نودکابل دحکومت په غوښتنه حاجي محمدانورخان اڅکزی یې د ګلیستان کاریزه څخه یعني دډیورنډ دناپیژندل سوي سیمي څخه دافغانستان خدمت ته راوبللی اودفرقه مشرملکي رتبه یې ورکړه.ددوخانې کاریزاوماشک کلایې هم ورپه نامه کړه.اوهمدغسې په افغانستان کي خپل سیاسي اوټولنیزژوند راپیل کړ.بیایې په افغانستان کي د ډ یمو کراسۍ بیرغ دپیروزۍ وځنډي ته ورساوه . هغه دښووني اوروزني سره په بشپړه توګه مینه درلودله ، نوځکه یې په کورنۍ کي دښووني اوروزني بهیرته مخه کړه اوپه خپله کورنۍ کې دنارینواوښځو دپاره دزده کړي شرایط برا برکړه ، که څه هم په هغه وخت کي په کندهارکي هیچا هم دا جرئت نه سو کولای چي په خپلو ښځودي زده کړي وکړي اوهغه دي په لڅ مخ وښوونځی ته روان کړي په هغه وخت کي دا یونوی کارؤ.اوقرباني یې غوښته خو حاجي محمد انورخان اڅکزی چي په فقه اومروجه علوموپوهیده نویې قوم اوخلکوته په دې باب پوره ډاډګیرنه ورکړه.اود کندهارنوري کورنۍ یې هم ودې ته راوهڅولې چي په خپلووړوماشومانوباندي زده کړي وکړي، نومړی کارکه څه هم یوستونزمندکاروو،خو!نا ممکن نه ؤ . که څه هم یو لړقومي مشرانودحاجي محمد انورخان نومړی عمل په کلکه سره وغنده ،خوحاجي محمد انورخان هغوی ته قناعت ورکړ.او نن ورځ دحاجي محمد انورخان د مبارزود برکته دهغه پاته ټوله کورنۍ دبشپړه سواد اوزده کړي خاوندان دي . دحاجي محمد انورخان دکورنۍ ټوله غړي نراوښځي د لوړو زده کړولرونکي دي .اوهرغړی ددې کورنۍ دهیوادپه چوپړکي بوخت دی ،دې هیواد ته یې دخپل وس اوتوان سره خد مت هم کړی دی.چي په اینده نسلونوکي به یې هم وکړي . چي دهمدغه هیوادپالي روحې په مینه ستاره اڅکزی چي په المان کې هویت هم څرګند ؤ، اوښه ژونداوکاریې درلود، خوڅه وخت چې په هیوادکي لړترلړه دکارزمینه برابره سوه،نودې هم دغه وخت غنیمت ولید،بیایې پریکړه وکړه چي دالمان یاجرمني ترښواوښادیو تیره سي؛دهیوادچوپړته یې ځان چمتوکړ.اوځان یې دخلکوپه منځ کي دکندهارولایتی شوراته ونوموه.خلکواوقومي مشرانوهم دهغه دپوهي او کورني ښواړیکوپربنسټ

هغه ته رایه ورکړه.اوستاره په دې خو شحاله وه چې هغه دخپلوخلکو دپاره خدمت کوي. اوپه دې لاره کې ځان بریالی هم ګاڼه،که څه هم په هغه محال ستاره زموږ کورهالینډ ته راغلې وه او ما ورته وویل : چې په هیواد کې جنګ دی اوهغه کسان چې اوس دستي په هیوادکي اوسیږي هغه پردوبرخوویشل کیږي .لومړی عوام خلک دوهم جنګي ډلي دي.

لومړی عوام خلک: هغه ناتوني ډلي دي چې هیڅ زوراوطاقت نه لري ، بې واکه دي، نوهغه عوام ولس ستا په شان خدمتګاران دخارجي اوداخلي داړه مارانو څخه نه سي ساتلای اوته هم ځان نه سې ساتلای.هیواداشغال دی،هیواددامریکا اوناټوترنظامي،اقتصادي اوسیاسي فشارلاندی دی،دهیواد چارواکي دهیواددخدمت مصدرنه سي ګرځیدای.ستا په شان دولتی چارواکي دآزادکاراوهیوادته دخد مت کولوچانس نه لري،نوبه یا ضایع کیږي اویابه هم په د سیسوکی دخائینو چارواکوراښکیل کیږي. ځکه دهغوی سره دجوال خوله نیول ستا په شان هیواد پالو کارنه دی اودهغو په مخ کی خنډ بیاځان دیوه لوی خطر سره مخامخ کول دي.

دوهمه ډ له: چې د خارجي هیوادوپه مرسته اود خارجي هیوادو په توانمدي په هیوادکي ورانئ اوبیرانئ کوي هغه نه خپل صلا حیت لري او نه په خپل سرنویشت پوهیږي،هغوی دپردیوپه دستورکارکوي.اودهیوادخد متکاران هغوی ته دسترګو اغزي غوندي معلومیږي،خوستارې اځکزئ پربې صلا حیته خلکوډیره تکیه اوحساب کاوه . دبله پلوه ستاره اځکزئ په خپل ځاني ځا نګړنوکي،یوه غښتلې،هیواد پاله، پوه اودخپلوګټوڅخه تیره زړه وره ښځه وه.اودهغه په وینه کي غښتل توب داسي رانغښتی ؤ:لکه دهغه دپلار اونیکنوپه وینه کي چې ملي احساس رانغښتی وو.نوهغه دټولنیزوشرایطو پربنسټ دهیوادګټوته همیشه دلومړي توب حق ورکاوه، چې په همدغه لاره کي هم شهیده سوه.اودشهاد ت لوړه مر تبه یې هم وګټل.ستاره اڅکزئ ترهغه ځایه چې زما په یاد ده اوزموږ په کورنئ کي دهغه ځانګړني ماته راپیادیږي هغه دبیري احساس په ځان کي نه وپاللی اوهغه همیشه دیوه ډیرغښتلي نارینه په څیرفکرکاوه،په وړکتوب کي هغه په کوڅه او بازار کي دغښتلي نجلئ لقب ځانته خپل کړی وو.اوهلکان به یې په جنګ کي تښتول،دخپلوحقوقوپه خاطر یې دهلکانوسره هم جنګونه کول.خوڅه وخت چې ستره سوه اوټولنیزمسؤلیتونه ورته متوجه سوه بیا یې نودښوونځئ په علمي کنفرانسونواوعلمي غونډوکي دیوه

لوړشخصيت په څيربرخه اخيستل. ځکه پرښوونکواونوروزده کوونکوګرانه وه اودکتاب سره يې په بشپړه توګه مينه درلودله.اودهمدغه ملګري يعني کتاب په مرسته يې خپله تعليمي سطحه اوعلمي مؤقف ته ځان ورساوه . هغه ښوونځۍ ته پربايسکل تلل چې په هغه وخت کي دايوګران کارؤ،خوهغه دا ګران کارځانته اسانه کړی ؤ.خوبيا هم هغه دژوند دځانګړنو په حساب يوه وتلې پښتنه ميرمن وه اوکورنۍ وياړپه کوي .ستارې اڅکزۍ په هغه وخت کي چې لادا اته کلنه اودهمدغه عمرپه شاه وخواکی وه.دهلکانوپه څيرئې دهلکانودلوبوسره مينه درلودله،هغې به مرد کي او بجلي هم دهلکانو په صف کي کولې اونورمختلف ډولونه دلوبوئې کوله خوزده ئې هم وه.اودجنګ په وخت کی به ترهلکانوهم غښتلې وه. (روح دې ښاد وي)

## ستاره اڅکزۍ دځينو پوهانو له نظره :

### ستاره اڅکزۍ دکانديد اکاډميسن محمد ظاهرافق له نظره:

ستاره اڅکزۍ نه يوازي د تروراووحشت قرباني سوه،بلکی ددولتي ـ ناټوئي اداري دبې همتۍ او ټکمارۍ ثمره هم وګڼل سوه.

کال ۲۰۰۹ ـ۹ ـ ۱۰م ستاره اڅکزۍ دکندهار دښارپه يوې ستري مخوري کورنۍ کې پنځوس کاله پخوا دې نړۍ ته ستر ګي را خلاصي کړي دي. ستاره دمحمد انورخان اڅکزي ورستنۍ لوراو نازولی اولاد ؤ.محمد انور خان اڅکزی چي دپوهي اوتجريبو خښتن وو.نه يوازی ئې دويښ زلميانودانقلابی اووطني ګوند رهبري دنورو مشرانو سره يو ځای په غاړه درلوده بلکي؛ په هغه وخت کي چي کندهارپه ۱۹۲۹م کال کي اشغال شوی و.محمد انورخان اڅکزی دخپل قوم په مشرۍ او دنوروکندهاري ورونواوقومونوسره يوځای دکندهارښار دخلاصون په خاطرکلکي مبارزې وکړې اوبشپړه بري ته ورسيد ل.

خو! کله چی دويښوزلميانووطنپال جنبش ددولت داستبدادپه نتيجه کي وټکول شو،نو ئې دراهبرۍ ټول غړي دکابل د دهمزنګ په چټل ترين زندان کي بنديان کړه.محمد انورخان اڅکزی چي خپلو ملګروهم په درنه سترګه ورته کتل،په نوموړي زندان کې ترشپږوکلنولازياته زمانه تيره کړه. محمد انورخان اڅکزی به خپلو اولادونو او لمسيانو حاجی کاکا باله،هغه وخت چی حاجي کاکا ددهمزنګ په توروکوټوکی ژوند

کاوه، نوبه ستارې اڅګزۍ دیوې وړوکي ځیرکی نجلۍ په څیردخپلونوروخوندواو همزولانوسره په داسي وخت کي دښوونځی هیله درلودله،چي په محیط کی لا دنجونواو ښځوښوونځی پوره نه وه رواج شوي.

په هرصورت ستارې خپل لومړني اوبیا یې دلیسې سبقونه په کندهاربښارکي اکمال ته ورسول.ترنوموړوتعلیماتواولوستلونووروسته دعلی تحصیلاتودپاره دکابل پو هنتون ته ولاړه اوهلته ئې دځلوروکلونوپه موده کي دتاریخ اوجغرا فې دپوهنځی شهادت نامه په میړانه اوهمت سره ترلاسه اودټولني دخدمت دپاره ئې ځان اماده کړ.

ستاره اڅکزۍ نواوس دوطن دشاګردانودروزني اوتربیې له پاره خپل وظیفه وټاکله او ډیرژرکندهارته دمعلمۍ په څیردزرغونې انا په لیسه کي مقرره شوه. دې دخپل صداقت اومیړانی پر اساس په خپلي لیسې اونوروهمسایه مؤسیسوکې پوره شهرت وموند اودیوې هوښیاري او زحمتکښي ښوونکي په څیرئې صفتونه په هره خوا کي خپاره شول.

کله چي کندهاردهیواددنوروسیموپه شان دنالارامیو،خرابیواوجهالتونوقرباني کیدی،نودټولنی ډیرومنورینواوروشنفکرانودخارج پرخوامهاجرتونه پیل کړه. البته استعماري هیوادونوهم ددغه ډول منورینوداستخداموله پاره پوره تبلیغات وکړل. څودمنورینوسیلونه امریکا،اروپاته اودهغوی دبازارونودډکولوپه خاطرئې ځانونه ورسول.په دغه وخت کې چی ستاره اڅکزۍ هم دسختومجبوریتونواو ناامیدیو سره مخامخ وه،دالمان هیواد ته ئې ځان ورساوه.هورې ئې په ډیر لنډ وخت کې جرمنی ژبه زده کړه.اووروسته ئې خپل ځانته مناسب دخپلي خوښي کاروموند او ډوډۍ ئې دخپل موټه په زورګټله اوخوړله.

ستارې اڅکزۍ هلته په جرمني کښي ددرویزه چي محمد انورخان اڅکزی ئې دقوم دسترمشرپه حیث پیژانده.دستارې سره نورهم دوستی دومره ډیره شوه،څو چی لږ وخت وروسته ئې واده ورسره وکړاو ګډژوند ئې سره پیل کړ.دډاکټر درویزه چي تحصیلات ئې په طبعي علومو په ځانګړې توګه په کیمیا علوموکی وه،نو ئې دستارې په مرسته په پښتو،جرمني ژبولنډقاموس دپښتنو دضرورت په خاطرتالیف یا ولیکی.دې دعلم اوپوهي څښتنانوښه شرین ژوند غوره کړ،په ۲۰۰۱ م کال دامریکا

په رهبري دناټود پکټ غړوپرافغانستان باندي دتجاوزسخت هجوم راوړی. اودتروریزم په نامه ئې افغانستان اشغال کړ.بوش فکرکاوه چی افغانستان به ژر تسخیر کړي،اودخپلونوروستعماري پروژودتطبق لاري چاري به په لږ موده کي سرته ورسوي،خوبرعکس افغانستان داوښ دهډوکي په څیردناټو په خوله کی داسي بند شوچي نه ئې تیرولای سي اونه ئې هم غورځولای سي.دلته دناټودواکدارانو تبلیغ دومره قوي او خطا ایستونکی ؤ چی ډیرافغانان داروپااوامریکا څخه دهیوادپه لوروروستانه شول.په دغه کي ستاره اڅکزۍ اوډاکټردرویزه اڅکزی چي دهیوادپالني لمبووختي هڅولی وو.نوئې تصمیم ونیوچي هیواد ته ولاړسي اوخپلو ولسونوته په میړانه سره خد مت وکړي.

کله چی ستاره اڅکزۍ اومیړه ئې دواړه کندهارښار ته ولاړل،هلته حالات ډیر نا ارامه وه،په ډیرزحمت ډاکټردرویزه د کندهارپه پوهنتون کی وظیفه پیداکړه.اوڅه وخت وروسته ستارې اڅکزۍ دکندهارپه ولایتي شوراکي عضوٸیت وموند.

دانوداسی وخت دی چی دناټودقوتونودبمباریواوژنوپه نتیجه کي که څه هم تروریستان اوجنګیالیان به وه یانه وه؛خواوس هرسړی مخالف اودامریکاپرضد نه یوازي خبري کوي بلکي ؛ په مسلحانه اعمالوسره ئې لاس پوري کړی.او په ځانګړې توګه ئې دطالبانوپه نامه ددولت مامورینوته داسي اخطارونه ورکړل چی که دامریکا په طرفدارۍ حکومت کي په ځانګړې توګه ښځي ولیدل شي نوئې وژني. البته دښځوپه مقابل کي دښمن ذهنیت دمجاهیدینوترراتګ پوري لانه وموجود خودهغوی اوبیا دطالبانودراتګ سره سم دښځودارادې پرضد دښمني قدم پر قدم ډیره شوه.هرڅومره چي امریکایان اوملګري ئې مرګونه اوترورونه ډیرکوي،په هغه اندازه ئې مخالیفین په سرکي ئې طالبان نه یوازي پرخارجیانوحملې ډیري قوي کړې بلکي؛ دداخلي معصوموواوبې ګناه اشخاصوپرضد ئې چي ګواکی ددولت مامورین دي هم ئې ترورونه اووژني ډیري کړې.

په دې لړکې ستاره اڅکزۍ دیوې قهرماني په حیث په ډیري دلاورۍ سره خپلي دندي ته ادامه ورکړه.خودلته ډیره مهمه داده چي ستاره اڅکزۍ دنوروخلکوپه ځانګړې توګه دغریبوخلکوپه خاص ډول دښځواو میرمنوهغه کارونه ورأجراکول چي به د نوکردولت په بې نظمه اورشوتونوډ کواداروکی بند پا ته وه. پرهمدغه

اساس هم ،پنځوس کلنه ستاره اڅکزۍ پرخلکواوولسونوډيره ګرانه شوې وه.ځکه چې مامورينوبه رشوتونه غوښتل اوغريبوخلکوبه نه درلودل.نوپه هغه ورځ چې ستارې دشهادت جام پورته کړدکندهارښارټولوخلکوپسي وژړل کومو چې پيژندله ئې. خوبرعکس ، په ډير تأسف چې دحکومت واکدارانواو ناټوئي کاناډايانو دتمسا اوښکي پرتوی کړې.

ستاره اڅکزۍ ډيره صادقه ، مهربانه ، پرهيوادمينه دعلم اوفرهنګ دانکشاف پلوۍ داسي ميرمن وه چي دخپلي ميراني اوفرهنګی مبارزوپه دوران کي ئې دعلم اوفرهنګ ددښمنانودهرډول اخطاراوتهديدڅخه ونه بيريدل.اونامردوترووريستانو دکور په خوله کې دموټرسايکل سپرو له خوا په ډزوووېشتل اوشهيده سوه.دتعجب خبره داده! چي دناټوباداراناواونوکرانوچي ځانونه دښځودآزادۍ قهرمانان بولي دستارې غوندي سرتيروساتنه ئې ونه کولای سوای،نوبه ولي او څنګه دهيوادولسونه باورپه وکړي. ؟؟؟

په رښتيا که دکندهار داخلي او کاناډائي ساتونکوغوښتي وای چي قهرمانه ستاره اڅکزۍ ئې له مرګه څخه را ګرځولي وای،په ډيره اسانۍ سره ئې هغه رخشه تر ځارني لاندی نيولای سوای.په کومی کی چي ستاره سپره او کورته ته تلله.دستارې اڅکزی دتروراوژلو اخطاررونه ؛نه يوازی ستارې ته رسيدلی وه،بلکي؛ په پراخه توګه ،مهم امنيتي اشخاص اومسؤلين دکاناډائي اجنټانوپه شمول لاهم بې خبره نه وه.ځکه چی دوی ته دښځوحقوق اودښځوساتل خالي افسانه ده.نوئې نه دساتنی له پاره کوم انتظام درلود.البته!ستاره اڅکزۍ دخپل ځان دساتلوپه خاطرمختليف تاکتيکونه اوډول،ډول چادرۍاولباسونه استعمال کړل،خوځکه چي د سيسه ډيره پراخه او ژوره وه نو ئې په تنهائي سره ونه کولای سوای چي ليوانو،دعلم دښمنانواو ډول،ډول دسيسه کارانوڅخه ځان وژغوري.که څه هم حتادکاناډاپه راډيکانو، اخبارونواوتلويژينوکي ددې دقهرمانيوستايني اوطالبانواوترووريستانوغندني وشوې. خو ټولي تروخت تيري او ددرواغو هغه ژړا وه چي دشعورخاوندان ټول پخوا لا هم په پوهيدل.

دستارې اڅکزۍ دي روح ښادوي. ددې ميړانه او شهامت ،مهرباني او انسانيت ،وطن ساتنه اوپالنه زموږټولودوستانو،خپلوانواوپاته شويوته دراتلونکی ژوند

سرمشق ګڼل کيږي. ستاره همیشه پرمظلمو خلکو باندی مهربانه وه،نغدي مرستي اومعنوی کومکونه ئې ورسره کوله،وښوونی ته به ئې غریبان تشویقول اودښوونځی مادی کومکونه به ئې په مختلیفو برخوکی ورسره کوله. چي له دغه سببه هم پر خلکو باندی ګرانه وه،هغه که څه هم ددولتي اداري ماموریت له مخی ډیره معتبره وه.اودخپل وخت د کندهاردښځویا دمیرمنو دټولني ریسه وه.خوطبعت ئې دیوې ،مهربانی خور،مهرباني مورپه شان وو.خوبرعکس بیا هغه کسان چي بیا په خپلو شتونازید ل،دخان خانی جوغه ئې په سرکي لیدله اوپه ټولنه کې ځان ترنورولوړ ګاڼه،تبعض طلبه وه،دخپلو شتؤباج ئې یادخپلي خان خانی باج ئې په ټولنه کې غوښتی،دهغوی په مقابل کي سخت دمستضعیفینو پلوی وه.اوترخپله وسه ئې ددغسی طبقاتي ناخوالوپرضد مبارزه هم کوله،.

دستارې اڅکزی هیڅ ډول برتري دیوه انسان څخه پربل انسان نه وه خوښه، که دابرتري اقتصادي اړخ درلودیاهم سیمه ایزه اونور.... داځکه کورنی ئې هم په دغه روحیه وه.




**ستاره اڅکزۍ ددغه ښځو د کړاونوپه اند یښنو کې**



**دستارې اڅکزۍ ټولنيز کارونه په افغانستان کی نه يوازي د۲۰۰۴م کال څخه ويلای سو. بلکي؛ هغه دسردار محمد داودخان په دوران کي چي دميرمنو ټولني ريسه وه هم په ډيره ميړانه اوسياسی پوهه سره دښځوپه چاروکي فعاله وه.ستارې اڅکزۍ دډيرومظلمو ښځودمخ اوښکي ورپاکی کړی دي.اومرسته ئې ورسره کړيده اوهم ئې په زرهاونجوني ښوونيزي کړي دی. او په دې لاره کې نه ستړې کيدونکې مبارزې کړيده.چی پورته عکسونه د۲۰۰۴م کال يوه بيلګه ده.**

که موږبياهم ددغه عکس اوياهم نوروکيسواونقلونوڅخه تيرسو،خوبياهم که دکندهاردخلکوڅخه ددې دنيکوکړونواونيکوعملونوپوښتنه وسي،نوموږ ته به خامخا ددې په باب يومثبت انځورراکي.اوپه دې کي هم شک نسته چي که په نړۍ کې جميله الجزايرۍ ديوې قهرماني نوم ګټلی دی اودخپل هيوادډپاره ئې بې شماره قربانۍ دښکيلاک اوداخلي زبيښاک په مقابل کی ورکړی دي اوپه هيوادکی دننه او دهيوادڅخه بهرئې يولوړنوم اونښان دانسان دژغورني ترلاسه کړی دی.ياهمدغسي ليلاخالد چي دفلسطين د برحقومبارزوپه جريان کې دخپلي سيمي اوهيوادډپاره دآزادۍ اواستقلال برحقه مبارزه راپيل کړه اوپه دې لاره کې شهيده سوه، ددوي دغه مبارزې دنړۍ وټولوآزادي خواهانو ته د قدروړبلل سوی دي. اودهيوادډپاره مبارزه يوازي دهيوادپالومينه، محبت اومبارزه ده.همدغسی په افغانستان کی هم موږ دليلاخالد اوجميلې په شان قهرمانانی درلودلې اولروئې چي ځانونه ئې دهيوادپه مينه کي شهيداني کړي دي،چي دهغې دجملې څخه يوه هم ستاره اڅکزۍ اوهمدغسي




((دځینورسنیونظرونه دشهېدي ستارې په با ب ))



## کندهار: د ولایتي شورا غړې ترورسوه

نا معلومو وسله والو د کندهار په ښار کي د دغه ولایت د شورا ښځینه وکیله ووژله.
د کندهارد پولیسو چارواکي وایي مېرمن ستاره اڅکزۍ د یکشنبې په ورځ ماپښین څلور بجې کور ته په لاره کي وه، چي د پرموټرسایکل ناستو وسله والو له خوا په پنځمه ناحیه کي د خپل کور مخته په نښه سوه او پر هغه ځای یې ساه ورکړه.
د کندهار د ولایتي شورا رئیس احمدولي کرزی د مېرمن اڅکزۍ وژنه تائېدوي، خو د هغې د مړیني مسئولیت یې د چا پر غاړه نه دئ اچولئ.
مېرمن ستارې اڅکزۍ په کندهار کي تر وکالت دمخه په المان کي د هجرت ژوند کاوه، چي څو کاله وړاندي له خپل خاوند ډاکټر دروېزه اڅکزي سره کندهار ته را ستانه سوه او د ۲۰۰۵ کال په انتخاباتو کي یې د کندهار ولایتي شورا ته ځان کاند ید کړ.
آغلې اڅکزۍ د افغانستان په یوه مشهوره روشنفکره، علمي، فرهنګي او په سیاست پوري تړلې کورنۍ کي زیږېد لې وه.
پنځه څلوېښت کلنه ستاره اڅکزۍ د دوواولادونوموراودوینېوزلمیانودبنسټ ایښودونکي محمدانور خان اڅکزي، مشهور لیکوال او سیاستوال اروابناد محمدعلم بځرکي اود افغانستان د علومو اکاډمۍ د غړي کاندید اکاډمېسن ظاهر افق په کورنۍ پوري یې اړه درلوده.
د کندهار امنیه قومندان مطیع الله قاطع وایي د هغې د قاتلینو د نیولو دپاره یې سیمه کلابند کړې، خو تراوسه څوك په لاس نه دي ورغلي.
په تېرو کلونو کي د نامعلومو وسله والو په بریدونو کي د کندهار ډېر لوړ پوړي نارینه چارواکي ترور سوي، خو د ۲۰۰۸ کال د سپتمبر په میاشت کي د کندهار د ښځینه پولیسو یوه افسره ملالۍ کاکړ هم د وسله والو په برید کي وژل سوې وه، چي طالبانو یې مسئولیت پر غاړه اخیستئ وو.
همدا راز په ۲۰۰۶ کال د کندهار د ښځو د چارو رئیسه مېرمن اعمه جانه هم وژل سوې وه، چي چارواکو یې په تورځو کسان وهم نیول.

**د ولایتی شورا یوه غړې په کندهار کی ووژل شوه .**

*2009/04/12*




**یو افغان چارواکی وایی چی د ولایتی شورا یوه غړې نن په کندهار کی ویشتل شوی او وژل شوی ده.**

د ولایتی شورا ریس احمد ولی کرزی وایی چی ستاره اڅکزۍ د کارنه د کورپه لورروانه وه چی د نا معلوموسله والولخواوویشتل شوه اووژل شوه.

د طالبانو یوه نطاق قاری یوسف احمدی د دی حملې مسولیت په غاړه اخیستی دی.

ستاره اچکزی د ښځو د حقوقو یوه مبارزه وه.

**کندهار: د ستارې اڅکزۍ د وژني پر ضد مظاهره وسوه**

د کندهار په سوونو ښاریانو د دغه ولایت د ولایتي شورا د وکیلي ستارې اڅکزۍ د وژني په غندنه کي مظاهره وکړه اودهغې دوژونکو پر ضد یې شعارونه ورکړل.
د مظاهرې ګډونوالو له چارواکو څخه د هغې د قاتلینو د موندلو او هغوی ته سزاورکولوغوښتنه کوله.
دغه مظاهره پرداسي مهال ترسره سوه، چي د کورنیو چارو وزارت پرون د آغلي اڅکزۍ د قتل په تورد دوو شکمنو کسانود نیولو خبر ورکړ.
ستاره اڅکزۍ تېره یکشنبه د اپرېل پر ۱۲ - مه نېټه له ولایتي شورا څخه خپل کور ته د تګ پر مهال د نامعلوموسله والو په ډزو ووژل سوه، چي بیا یې د دولت مخالفو طالبانو مسئولیت پرغاړه واخیست.

قاري یوسف وائي : د ستاره اڅکزۍ وژونکي نه دي نیول سوي.

دطالبانو ویاند قاري محمدیوسف احمدي ددولتي اداري هغه دعوه په کلکه رد کړه چی ویلي یې وو مور. د ستارې اڅکزۍ قاتلان نیولي دي احمدي لراوبر ته په یوه ځانګړي تماس کي د ستاره اڅګزۍ وژونکي طالبان وبلل اوزیاته یې

کړه چې نوموړي کسان په هغه ورځ خپلوخوندي مرکزونوته روغ رمټ راورسیدل اوله خپلوملګوسره یوځای په خد مت لګیا دي .
ددې پوښتني په جواب کي ددلت لخوا په دې تورنیول سوي کسان هم طالبان دي که څنګه ؟ هغه د طالبانو نیول کېدل رد کړه او زیاته یې کړه دولت غواړي چې په داډول بې اساسه درواغواویاهم دبې دفاع اوعاموهیوادوالوپه نیولوسره خپله ناکامي اورسوایې پټه کړي خوڅه چې حقیقت دي هغه اوس ټول هیوادوال اونړیوال دسرپه سترګووینی .
د کندهار په ولایتي شورا کي د خلکو استازې ستاره اڅکزۍ کارته د تلوپر مهال د موټرسیکل سپرو وسله والو لخوا په ډزو ووژل سوه چي وروسته یې مسولیت طالبانو پرغاړه واخیست .
دا لومړی ځل نه دی چي وسله وال طالبان پر ولایتي شورا او پر غړو یې مرګوني بریدونه کوي ، طالبانو لومړی ځل پنځه کاله پخوا په افغانستان کي د پارلمان او ولایتي شوراګانو د ټاکنو پر مهال د بریدونو خبرداریځ ورکړیځ و .تر اوسه په پارلمان او ولایتي شوراګانو کي په لسګونو تنه په بېلابېلو پېښو کي وژل سوي دي چي د ځینو مسولیت طالبانو پر غاړه اخستیځ او پغمان د بورې د فابرېکې د پېښي غوندي ځینو نورو چي په هغو کي ملکي وګړو تنه زیاته مرګ ژوبله اوښتې مسولین نه دي څرګند سوي .
په دا ډول بریدونو کي تر ټولو وروستی د کندهار پرولایتي شورا په سپینه ورځ ترورترسره سو چي لسګونوکسانو ته پکښي د مرګ ژوبلي تر څنګ د ولایتي شورا ودانۍ ته هم سخت زیان واوښت ، ددې پېښي مسولیت هم د اسلامي امارت لخوا ومنل سو .
که څه هم عام ولس د طالبانو ددا ډول بریدونو سخته غند نه کوي خو له بلي خوا د سیمه ایزو چارواکو زورزیاتي ،په عامه توګه اداري فساد او په خاص ډول د بهرنیو ځمکنیو او هوایي ځواکونو لخوا دافغانانو سره د مرستي پر ځای د هغوی پر مقد ساتو او ارزښتونو باندي تیري دې ته لاره هواره کړې ده چي د اسلامي امارت طالبان د افغانستان د پلازمیني کابل په ګډون نورو مهمو ښارونو په منځ کي د ولس په مرسته خپل عملیات په بریالیتوب سره تنظیم کړي .

**د ستارې اڅکزۍ د قتل په تور دوه کسه ونیول سول**

د کورنیو چارو وزارت مقامات خبر ورکوي چې د کندهار د ولایتي شورا د وکیلې ستارې اڅکزۍ د وژنې په تور یې دوه کسه نیولي دي.
د کورنیو چارو له وزارت څخه خپره سوې اعلامیه وايي دغه کسان یې د کندهار په څلورمه ناحیه کي د هغې د قتل په تور نیولي چي د پولیسو له خوا تحقیقات ځني پیل سوي دي.
د طالبانو ویاند قاري یوسف احمدي د ستارې اڅکزۍ د وژني مسئولیت پر غاړه اخیستی دئ او وايي: هغه د دوی د ملګرو له خوا په نښه سوه.
پنځوس کلنه ستاره اڅکزۍ د کندهار په یوه مشهوره سیاسي، علمي او فرهنګي کورنۍ کي زیږېدلې وه، چي د رواني اونۍ په سر کي د اپرېل پر ۱۲ – مه د یکشنبې په ورځ خپل کور ته د تګ پر مهال د نامعلومو وسله والو له خوا ووژل سوه.
آغلې اڅکزۍ د کندهار د ولایتي شورا په نارینه او ښځینه وکیلانو کي یوازینۍ وکیله وه چي خپلې زد ه کړې یې د لیسانس تر کچې کړې وې.
آغلې اڅکزۍ د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو له پوهنځي څخه فارغه سوې وه، چي د کورنیو جنګو پر مهال په کاناډا او بیا په المان کي له خپل خاوند ډاکټر دروېزه اڅکزي سره اوسېده.
ستاره اڅکزۍ او خاوند یې د طالبانو د نظام تر ړنګېد ووروسته افغانستان ته راغلل، چي خاوند یې د کندهارپه پوهنتون کي استادي پیل کړه او دې خپل ځان د کندهار ولایتي شورا ته کاندید کړ.

الحکم للّله

انا لله وانا الیه راجعون

دکندهار د ولایتي شورا د غړې او منشي مېرمن ستارې اڅکزۍ د شهادت له کبله چي جنازه مخکي په کندهار کي خاورو ته سپارل سوې ده، د شهیدي ورور محمد حسن انوراڅکزی، د شهیدي وریرونه محمد قاهر قاد م ـ زمری محقق، ننګیالی بڅرکی، عبدالله اڅکزی، روح الله اڅکزی، داود اڅکزی، د شهیدي خوریان ډاکټر جهان شاه میوند، زلمی میوند، نومیالی میوند او پښتونزي میونددخورزامن ددوی تر څنګ د شهیدي زومان انجینیز محمد ظاهرعادل ، رحمت الله نوراو ډاکټر محمد داود اڅکزی دوستانو ته خبرورکوي، چي د نارینو

اوښځو فاتحه د اپرېل پر ۱۹ نېټه د یک شنبې په ورځ د ماپښین د2 بجو څخه تر ۴ بجو پوري د المان د ایسن د ښارد افغانانوپه مسجد کي اخیستل کیږي .

نوټ:
دبېنوا انټرنیټ پاڼې ټول کارکونکي اود مشرتابه ډله د افغانستان یوازني لوی کیمیا پوه ډاکټر درویزه اڅکزي او دهغه کورنۍ ته په دې ویر کي خپل د خواخوږۍ ژور مراتب وړندي کوي ، د اروابنادي ستارې اڅکزی او دښاغلي درویزه اڅکزي هیواد پالنه او دپښتواو پښتنو په علمي کولو کي ددوئ هڅي له هیچ چا پټې ندي . دپښتنو ددغسي ویښو کسانو وژنه موږ په کلکو ټکو غندو او دا کار دپردوپالو دپښتون وژني دهغه توطیېولړۍ ګڼو چي غواړي د پښتون قام ټولي تاریخي او علمي ریښې لمنځه یوسي.

**د میرمن ستاره اڅکزۍ د شهادت په ویر د خواخوږۍ پیغام**

د خواخوږۍ ادبي اوکلتوري ټولني مشر ۲۳ / ۱ / ۱۳۸۸ هـ ل | 12-04-2009 20:43:00 م په ډېري خواشینۍ سره مو خبر ترلاسه کړ چي د هېواد د پوهني او د ښځو د چارو یو سابقه لرونکي ربنتني خدمتګاره، د کندهار د ولایتي شورا غړي میرمن ستاره اڅکزي د هېواد د دښمنانو لخوا د کندهار په ښار کي شهادت ته ورسیده.

انا لله و انا الیه راجعون

اروابناده میرمن اڅکزي چي د کندهار ولایت په یوي منوري، سیاسي او فرهنګپالي کورني پوري منسوب، د لوړوزده کړو خاونده هېوادپاله ښوونکي وه.
د خواخوږۍ ادبي اوکلتوري ټولنه په داسي حال کې چي دهېواد ددښمنانودغه ناوړه عمل په کلکه غندي، د اروابنادي درنې کورني اودهېواد فرهنګپالو ته د خواخوږي مراتب وړاندي کوي او د لوي څښتن تعالي د دربار څخه شهیدي میرمن اڅکزي ته جنت الفردوس غوښتونکي دي.
روح دي ښاد وي
په درنښت
**د خواخوږۍ ادبي او کلتوري ټولني مشر**
**الحاج غرزي خواخوږۍ**

## په افغا نستان کي دکاناډا دسفيردخواخوږۍ پيغام

دستارې اڅکزۍ يا دونه : د کانا ډا سفير په افغانستان کي دستارې دشهادت مړينه يو لويه ضايع وګڼل اوښا غلي سفير ( ران ها فن ) زياته کړه چي دستارې اڅکزۍ دشهادت مړينه ، دافغانستان دخلکو دپاره يوه ستره ضا يعه ده ، هغه زياته کړه افغانان په داسي حال کي چي په هيواد کي جنګ روان دی او دستارې اڅکزۍ په څير يوه روښانفکره ښځه ، خو لومړی نه ستهٔ خو! بيا هم که وي نود ګوتوپه شماربه وي ، بيا که چيري په بهرنيو هيوادو کي وي ، خو هغه بيا دومره دلاوره نه دي چي دهيواد وخد مت ته دي چمتو سي . ښا غلي ران هافن دستارې اڅکزۍ وټوله کورنۍ ته دزړه له کومي تسليت څر ګند کړ .

او همدغسي دکاناډا دولتي خپرونو هم په بيلو بيلو څانګو کي دستارې اڅکزۍ پر مرګ خواشيني څر ګنده کړې ده.اوپه کاناډا کي دهغه دکورنۍ غړو ته دخپل تسليت پيغامونه رسولي دي . چي زه ننګيالی بڅرکی هم د کورنۍ په استازي توب کور ودانی ورته وايم .

دالمان دولتي تلويژنوهم د ستارې اڅکزۍ پرمړينه خپله خوا شيني څرګنده کړيده او هغه يې دوخت يوه غښتلې ميرمن وبلل.اوهغه ته يې دافغاني جرمنۍ دغښتلي تو ب لقب ورکړ . او ستاره اڅکزۍ يې په څو ساعته پروګرامونو کي وستايل ، دنوموړې مړينه يې په اوسني وخت کي دافغانانو دپاره يوه ستره ضايعه وګڼل او دستارې اڅکزۍ دپاته کورنۍ سره يې خپله همد ردي څر ګنده کړه .همدغسي په ډيرو تلويژني خپرونو کي دستارې اڅکزۍ ياد اووژنه په غټوټکوسره وشوه او غندنه ئې لاهم روانه ده. به هاليند کي د S. B.Sټلويژون هم دستارې ترور وغنده.

• • • • • • Radio-Canada
Publié le 13 avril 2009

Les talibans ont revendiqué l'assassinat de Sitara Achakzai, une parlementaire et féministe afghane de Kandahar.

Quatre hommes montés sur deux motos ont abattu, dimanche, Sitara Achakzai à Kandahar. Cette parlementaire régionale et militante des droits des femmes était aussi professeure.

Elle descendait de voiture devant chez elle lorsqu'elle a été abattue. Son garde du corps, non armé, n'a rien pu faire pour la sauver.

L'attentat a ensuite été revendiqué par les talibans. Ils ont indiqué qu'ils l'avaient éliminée, parce qu'elle n'avait pas un « bon passé », sans donner plus de détails.

Sitara Achakzai possédait la double nationalité afghano-allemande et s'était réfugiée en Allemagne lorsque les fondamentalistes religieux ont pris le pouvoir. Elle et son mari ont ensuite décidé de revenir au pays.

Sa famille habite la région de Toronto. Elle venait régulièrement les visiter.

Cet assassinat s'ajoute à une liste déjà longue des femmes victimes des talibans.

À Kandahar seulement, les intégristes ont admis avoir tué, l'année dernière, une policière de haut rang. Ils sont aussi soupçonnés du meurtre de la responsable provinciale de la condition féminine.

Avec les informations de Agence France-Presse et Reuters
Sonntag, **12.04.2009** 18:58 Uhr

**دستارې اڅکزۍ په باب دوخت خپرونو ډير څه وليکل او دغه ئې يو تروريستي عمل وګڼه چي دکاناډا دنامتو خپروني څخه دغه رپورټ دبيلګې په توګه يادولای سو.**

- . Politik
- Abo
- DAX 13.351,22|

- Schlagzeilen|

- Nachrichten
- Politik
- Ausland
- Afghanistankrieg
- **Kandahar: Bewaffnete erschießen deutsch-afghanische Politikerin**

## Kandahar Bewaffnete erschießen deutsch-afghanische Politikerin

**Blutiger Anschlag im südafghanischen Kandahar: Laut Polizei haben vier bewaffnete Männer eine Frauenrechtsaktivistin erschossen, die auch die deutsche Staatsangehörigkeit besaß. Die Kommunalpolitikerin galt als Gegnerin der Taliban.**

Sonntag, **12.04.2009** 18:58 Uhr

- Drucken
- Nutzungsrechte
- Feedback

Kandahar - Sitara Achaksai war Frauenrechtsaktivistin, Provinzrätin - und Gegnerin der Taliban. Die Jahre der islamistischen Schreckensherrschaft verbrachte sie im deutschen Exil, nach dem Sturz der Taliban kehrte sie in ihre Heimat zurück, um für Frauenrechte zu kämpfen.

Anzeige

Dies ist ihr womöglich zum Verhängnis geworden. Am Sonntag haben nach Polizeiangaben vier bewaffnete Männer Achaksai in der südafghanischen Stadt Kandahar erschossen. Die Kommunalpolitikerin besaß neben der afghanischen auch die deutsche Staatsbürgerschaft, wie ein Mitglied der Frauenvereinigung von Kandahar, Schahida Bibi, erklärte.

Vier Männer fuhren auf zwei Motorrädern vor Achaksais Haus vorbei und schossen auf sie, als sie aus dem Auto aussteigen wollte, teilte der Polizeichef der Provinz Kandahar, Matiullah Chan Qateh, mit. Ein Sprecher der Taliban, Qari Jousef Ahmedi, bekannte sich zu dem Anschlag. Achaksai setzte sich als Mitglied des Provinzrates unter anderem für Frauenrechte ein. Sie habe Frauen ermutigt, sich Arbeit zu suchen und auf gleiche Rechte zu pochen, sagte Bibi.

Unterdessen wurden bei Kämpfen im Süden Afghanistans nach Regierungsangaben mehr als 20 Militante getötet. Die Extremisten griffen am Samstagabend einen Konvoi der afghanischen Streitkräfte in der Provinz Sabul an, wie das Innenministerium mitteilte.

Polizisten seien den Soldaten zu Hilfe geeilt. In den anschließenden Kämpfen mit den Angreifern seien mindestens 22 Extremisten getötet worden. Auch die US-Streitkräfte meldeten den Tod mehrerer Militanter. Die Nato erklärte, am Freitag seien in der Provinz Kunar 18 Aufständische getötet worden

**دنړۍ ډېرو نامتو ليکوالانو او دنړۍ ډېرو معتبرو اخبارونو،مجلو،را ډيو ګانو او تلويژنونو دشهيدي ستارې اڅکزۍ بې ګناه مړينه دانسانيت پر ارزښتونو يو تروريستي عمل او کار وګاڼه او هغه ئې دهيوادپه لاره کي شهيده ياده کړه.که**

**موږ ټوله رسنۍ دلته دهغه دنويشتو او يادابښتونو سره خپاره کړو، نوزموږ کتاب به ډير ځای ونيسي نو همدغه کفايت کوي دستارې دلوړ شخصيت نماينده ګي کولای سي درسانيو ئې کورودان او دستارې روح دي ښادوي ياد دې تل وي.**

## Sitara Achakzai

From Wikipedia, the free encyclopedia
Jump to navigation Jump to search

| Sitara Achakzai | |
|---|---|
| **Born** | 1956 |
| **Died** | April 12, 2009 (aged 51–52) Kandahar, Kandahar, Afghanistan |
| **Cause of death** | Assassination |
| **Citizenship** | Afghanistan, Germany |
| **Occupation** | Activist, Politician |

**Sitara Achakzai** (also transliterated **Achaksai**) (born 1956/1957 – died 12 April 2009) was a leading Afghan women's rights activist and a member of the regional parliament in Kandahar. She was assassinated by the Taliban.[1][2][3]

"Achakzai" is a name shared by one of the sub-tribes of Durrani clan, part of the Pashtun people, one of the largest ethnic groups of Afghanistan. She held dual citizenship between Afghanistan and Germany,[4] and was well known in Canada as some of her extended family live in the Toronto area.[5]

Like Malalai Kakar and Safia Amajan, Sitara Achakzai was targeted by the Taliban because she was trying to improve the situation of Afghan women. At the age of 52, she was assassinated by Taliban gunmen in Kandahar on 12 April 2009.

The Canadian government condemned the assassination.[6] Michaëlle Jean, the Governor General, said

We were equally distressed to learn of the assassination of Sitara Achakzai, a courageous and proud activist for the rights of her countrywomen, who was gunned down at point-blank range. The Taliban were quick to claim responsibility for this unprecedented violence, fiercely dedicated to hindering all efforts to further development and stability in Afghanistan.

## Encomium

- *"She was a warrior, she was a brave woman and she always fought for women's rights and the poor's rights; that's why they didn't like her ... [I]t's a loss for everybody; for democracy, basically, because she fought for everybody."* (Ajmal Maiwand, nephew of Ms. Achakzai)[7]

## References

1.

- *"Archived copy". Archived from the original on 2011-06-17. Retrieved 2010-02-26.*
- • *"Taliban claims responsibility for killing female politician in Kandahar". Retrieved 8 May 2017.*

• • *"Options d'achat – NewsPostOnline.com". www.newspostonline.com. Archived from the original on 26 July 2012. Retrieved 8 May 2017.*

• • Statement of Heidemarie Wieczorek-Zeul (German Federal Minister of Economic Cooperation and Development) (in German)

• • *"report of the Globe and Mail". Archived from the original on 17 April 2009. Retrieved 8 May 2017.*

• • *Afghanistan.gc.ca; Afghanistan.gc.ca (26 June 2013). "Afghanistan.gc.ca". Retrieved 8 May 2017.*

7. • *"Globe and Mail report on Sitara Achakzai's murder". Archived from the original on 17 April 2009. Retrieved 8 May 2017.*

## External links

- Notice of Achakzai's murder (in French)
- Notice of Achakzai's murder (in German)
- CBC report on Sitara Achakzai
- Report on Sitara Achakzai
- *Globe and Mail* report on Sitara Achakzai
- *The Star* report on Sitara Achakzai
- *The Huffington Post*: "Sitara Achakzai, Martyr for Muslim Women"
- about the live of Sitara Achakzai in Germany and Afghanistan (in German)
- "Let Women be Enlightened" by Helen Irving in the *Sydney Morning Herald*

*دغه پورته يولړ ماخذونه اودخپرونوسرليکونه دی چی دشهيدي ستارې په باب ئې ليکنې کړي دي ويونکي کولای سي چي ددېر ومعلومات پاره ئې نور هم نوموړی رسنی وګوري.*

*او همدغسي هغه عکسونه چی دميډياو دخوا څخه خپاره سوی دی هم په لاندی ډول دي.*



**ستاره اڅکزۍ دکندهار دښځو د ستونزو دهوارولو په کار بوخته ده.**




**ميرمن ملاله اڅکزۍ دستارې اڅکزی خور**



**ستاره اڅکزۍ دخپل د ژوند د ملګري ښاغلي درويزه اڅکزی سره**

**دوی دواړوخپل واده په مينه سره وکی، خو دميني په څنګ کې ددواړو سيکلوژی او دژوند هدفونه هم سره يودبله نژدې وه. دوی دواړوته دهيواد ګټې ډيره معتبری وې.داددوی ګډ ټکی هم داؤ. چی دوی ئې دواده تر حده سره متحد کړه . روح دی ددواړو ښادوي**



**ستاره اڅکزۍ دکارپه ساحه کې**



**دکندهارشهيداني سوې.**

## داحمد شاه بابا دعلمي ـ ادبي ټولني دخواشنۍ پيغام

په ډيرخوا شنۍ سره خبرسولوچي ستاره اڅکزۍ دحاجي محمد انورخان اڅکزي کشره لورپه ۲۰۰۹م کال کي داپريل پر ۱۲نيټه ديکشنبې په ورځ دڅلورو بجو په شاه وخواکي له طالبانوله خوا په شهادت ورسيده،د دې غمجني پيښي په اوريد و سره دټولني ټوله غړي خواشيني سول.اود طالبانوددغه غيري منطقي،غيري اسلامي ، غيري افغاني اوغيري پښتني عمل په سرته رسولو سره يې يوځل بيا دا ثابته کړه ، چي طالبان دپاکستان داى اس اى په قومنده دهيواديوه د ښمنه اويوه خرڅه سوې غيري افغاني ډ له ده.خوکله چي بياقاري يوسف احمدي دطالبانوويناند دنوموړي شهيدي دشهادت مسؤليت پرخپله غاړه يعني دطالبانوکاروباله نو؛په واقيعت کي نه يوازي زموږ دټولني خلک بلکي؛ دنړۍ ټوله مسلمانان او دافغانستان ټوله خلک ودې بې مسؤليته سياسي ډلي ته نفرين ووايه .

ښاغلي قاري صاحب!! په ډيري بې پروايي اوپه ډيري بې مسؤليتۍ سره وويل : چي موږ طالبانودغه بې ګناه سيا سره ووژل ؟؟؟ . ښا غلي قاري يوسف احمدي ته موږوايو: چي ايا!!! تاسي دافغانستان دټولوخلکودښمنان يا ست؟؟ او که يوازي دهغو کسانودښمنان يا ست کوم چي ستاسي سره په ګرم سنګرکي جنګيږي؟.يا موهد ف خارجي اشغالګران دي.؟

ستاره اڅکزۍ خويوه عاجزه اوبې سلاح ،غيري نظامي،هيوادپاله ښوونکې وه ، چي دخلکو په منځ کې ځان کانديداوخلکورايه ورکړه . ستاسي کومه عقيده ده؟ چي په هغه دافغانستان خلک نه پوهيږي ؟؟ خودومره موږ ويلاى سو چي مقد س اسلام خوديوې مسلماني پوهي ښځي،بې د فاع،لمونځ کونکې.اوخلکوته ديوې خدمت ګاري ښځي چي هغه هم په هيڅ يوه سازمان اويوې ډ لي پوري تړلې نه وه.اودهيوادپالني په روحيه د المان دهيواده څخه ستاسو دخدمت دپاره دررغلې وه ؛ خودغه ستاسي اسلاميت د کومه ځايه سرچينه اخلي ؟؟؟؟ .

دوهم : که موږ ځانونه افغانان بولو،نوديوه افغان په صفت موږته داخپل وجدان دا اجازه راکوي ، چي موږ دي د بل پرناموس،چي هغه دي په هيڅ سياسي او نظامي ډله کي نه وي؛اوسياسي مقصد دي ونه لري ، پريوې ښځي چي هيڅ ددفاع وسيله هم نه لري اوتاسي دي په ډيره بزدلانه ډول دوه مسلکي ترورستان ورولیږی او دکورومخ ته دې په وينو کي ولمبوی ! ايا دافغانيت دی ؟؟؟ .

دریم : ایا طالبه! تاته هیچاهم دپښتنوکلتورنه دی درښوولی ایاستا پښتنۍ مورتاته په ځانګوکي دپښتودرس نه دی درزده کړی ؟؟ چي یوپښتون هیڅ وخت هم پرښځي دجبرلاس نه پورته کوي .ایا! تاته په پښتني دودکي دښځواحترم اودرناوي چاه نه دی درښوولي ؟؟؟. ښاغلی قاري صا حب ته نه دخدای دقهره بیریږي اونه هم دپښتوپه دودبند یې... اونه هم دافغانانودتاریخ څخه خبریې .تاته یوازي اي اس ای ، د قتل د منلواود قتل د کول درسونه ترخپل سیوري لاندي درزده کړي دي اوبس.

داحمد شاه بابا علمي ـ ادبي ټولنه په داسي حال کي چي دطالبانو دغه غیري اسلامي ، غیري افغاني اوغیري پښتني عملونه غندي ؛ دافغانستان وټولوخلکوته یوځل بیا یادونه کوي چي خپل هیواددخارجي یرغلګرو(ناټو)اودپاکستان اونوروهیوادونو دنفوذ څخه وژغوري اوپه خپل منځ کي سریوموټي سي اود ملي شخصیتونو یوه د باوروړافغاني ټولنه جوړه کړي اونوردغه کړیدلی ملت دهر ډول ظلم ، تیري اود پردیودمنګلوڅخه خلا ص کړي .

داحمدشاه بابا علمي ادبي ټولنه که څه هم هرډول تروروپه سختو ټکو کي غندي،په تیره بیا دغیري نظامي کسانوبې ګناه وژنه،چی دهیوادپه دې ستونزمندوشرایطو کي دافغانانو دپاره په مختلیفو برخوکي خد مت کوي،موږ په دې عقیده یو چي ددغسي وژنووشاه ته بهرنیان ولاړدي اوافغانان که دافغانستان ددولت په خوا کي کاراو فعالیت کوي او یا هم ددولت مخالیفه ولسونه دي دا ټوله نن ورځ دپردیو دښمنانو تر کنترول لاندی یرغمل نیول سوی دي.ترهغوچي دافغانستان څخه خارجي مداخلې بندي نه سي او افغانان خپل دغه خبیث دښمنان ونه پیژني نودغه ناتاربه دافغانستان پرخاوره په ډیره دوامداره توګه روان وي.اوهره ورځ به موږ دیوه ملي شخصیت او ملي ښځینه کارمندی دوژلو شاهدان یو.اوموږ په دې باورلروچي د حل اصلي لاره ترورا ودهیوادپالوخلکودمنځه وړل نه دي.بلکي ؛ داحمدشاه بابا علمي ادبي ټولنه په دې باورده چی افغانان ګډي ګټي سره لري،عقیدې دهرچاه خپلي ذهني ایډیا لوژیکاني دي.هرافغان باید خپلي عقیدې وساتي اونوروافغانانوته هم دخپلو عقیدودساتلواجازه ورکړي.اودنورعقیدوته هم احترام ولري،دهیوادپه د ننه کي دولسونوترمنځ دعقید وپرسرجنګونه دتائیدوړنه دي.بلکي؛دمیزپرسردخبرودلاري هیوادوال خپل کړاونه،مخالفتونه اوستونزي هوارولای سي.

داحمدشاه بابا علمي ادبي ټولني غړي په دې انداوعقیده دي چی افغانان په خپل منځ کي ډیرنژدې دخپل منځي ګټوګډ ټکي سره لري. چی هغه دسولي بهیردی، دخپل

هويت ساتنه ده اودخپل تاريخ لاسته راوړنه ده. چې داد ټولوافغانانوګډافتخارات دي.نوراځۍ چې پريکړه پردغه وکړو،چې خپل افتخارات وساتواوهغه غلطۍ چې زموږ خپل په منځ کي دي،دښمن ته ئې ددې وخت برابرکړی دی، چې افغانان په خپلومنځوکي سره وجنګوی اودوی له همدغه وخت اوموقع څخه په ګټه اخيستلو سره په موږکي جاسوسان اودهيود د ګټو دښمنان را په کښي وساتي.

په پای کي داحمدشاه بابا دعلمی ادبي ټولني ټوله غړي دغه دوعا کوي چې دستارې اڅکزۍ وژنه دي اخيرنۍ وژنه سي.افغانان دي خدای له دغه ناتاره خلاص کړي دافغانستان ټوله خلک په هرنامه چې وي دخپل هيواداوخلکود د فاع دپا ره دي سره يوموټي سي. چې بيله ملي يووالي څخه موږ.افغانان د د ښمن ښکاريو،افغانستان دګډوقومونوکوراو ټاټوبی دی. ددغه ټاټوبی په ساتنه کې دافغانستان ميشت مليتونه او قومونه برخه لري.او دتاريخ په اوږدوکې په سياسي، کلتوري ډګرکي دغه هيواد ساتلی دی.افغانستان په نړۍ کي يوجيوپولتيک موقيعت دی.اودغه موقيعت د ساتلو دپاره افغانانوته په کارده چې ملي ګټي ترقومي،ژبنيواونژادي ګټودرنې وګڼي. تر څود د ښمن دتيري څخه يوه خلاصه پرمختللې ټولنه جوړکړی. نوهغه وخت به نه يوازي داچي يولوړاوغښت ملت به دافغانانوپه نوم جوړکي .بلکي؛ دنړۍ دپرمختللی هيوادوسره به يوپرمختللی اوسيال هيوادوګڼل سي. په هغه صورت کی به نه يوازي خپله افغانان ښاداواسوده ژوندولري.بلکي؛دنړۍ دخوارځواکۍ سره به هم دمرستي کولوتوانمدي هم ولري . **<u>ديوه داسي پرمختللی افغانستان پر لور.دشهيدانوروح دی دستارې اڅکزۍ په شمول ښادوي</u>**. داحمدشاه بابا علمي ادبی ټولنه

په درنا وي

**ليکوال : طا هـــراڅکزی**

## شهيده ستاره اڅکزۍ

دستارې اڅکزۍ دپيغلتوب اونجلۍ توب وختونه که راواخلم اويوڅه پروليکم نودهغه څخه به يواوږدداستان جوړسي چي دا زما ددې ليکني هدف نه دی.زه غواړم دهغې په باب فقط يوڅوکرښي وليکم اودا حقيقت په کښي څرګند کړم چي ستاره اڅکزۍ څنګه دوحشت دحملې ښکار سوه ؟ .

دادشهدي ستارې اڅکزۍ دهغوورستیووختونوداستان دی چي وطن ته یې دخد مت دپاره دسفرعزم کړی وو،خو! سفریې ابدي سو.

ماستاره اڅکزۍ په آخیروکي یووارپه جرمني کي هغه وخت ولیده چي تازه یې واده کړی ؤ.زه اومیرمن مي دامریکا څخه جرمني ته ورغلي وو چي دخپلوانو سره مودجرمني په ایسن اوهامبرګ ښارونوکي ورځي تیرو لې،خوستاره خبره سوه اوزمور.دلیدودپاره دخپل خاوند((ډاکټردرویزه )) سره دبرلین څخه هامبرګ ته راغله .

په هغه ورځ دکورنۍ غړي او دوستان ښه ډیرسره را ټول سوي وه ، ټول دخپل هیواد څخه راوتلي مها جرین وه ... ځیني یې دخلقیانو دلاسه ، ځیني دپرچمیانودلاسه ، ځیني دپخوانیومجا هید ینو دحملودلاسه،چي دلیري ، لیري ځایونو څخه یې پرښارونودهاوانواوتوپونومرمۍ اورولې خوځیني بیا دطالبانو دلاسه چي تو پک پراوړه په ښارکي به ګرځیدل اوخلکوته به یې کتل چي څوک ږیره لري اوڅوک یې نه لري، د چاږیره ترخپل حد لنډه اودچا وږده ده.او په دې ډول یې د ډ یروبیوزلواومظلوموخلکووهل ټکول ځانته روا کړي وه.نوپه داسي شرایطو کي نه یوازي زموږد کورنۍ غړي، بلکي په ملیونونونورافغانان دخپل سر، ناموس اوغیرت دساتلوپه خاطر دخپل وطن افغانستان څخه راوتلي وه.دستارې اڅکزۍ میره درویزه اڅکزی کله چي لا تنکی ځوان ؤ، دزده کړي او تحصیل دپاره جرمني ته را غلی اوخپل تحصیلات یې بشپړکړي وه.هغه دجرمني په حکومت کي کارکاوه .

ستارې هم په علم او لیاقت کي څه کموالی نه درلود.دواړه ښه جوړه وه اوښه سره ایسیدل.په عین حال کي دواړوهیواد ته دتګ نیت کړی وو.

اوحا ضرمجلس یې هم تشویق کاوه ؛ چي که څوک د د وی ملګری وکړي . ډاکټردرویزه ښه ډیروخت کیده چي هیواد ته نه و تللی او دخپل کور کلي تګ ته لیواله ؤاوپه اخیرکي وویل :(( موږ.خو نیت کړي دی!ځوهیوادته ترابده پوري داسي نه سوکښېنستلای.)) هغه بیا ماته مخ راواړاوه او دسترګوپه ایشاره یې ماوحاضر مجلس ته راورسول چي تاسي څه په کښي وایاست ؟ ...ماورته وویل :(( درویزه وروره ؛ دهیواد خد مت خو پرهر چالازم اوضروري دی.ما ترهغه وخت پوري

چي شرائط مساعد وه ، دا خد مت مې وکړ ، خو کله چي حالات بدل سول او خلکو یو اوبل ته دسیسې پیل کړې اوامنیت دومره خراب سو چي څوک نه پوهیده چي سهارچي ددې خد مت دپاره د کوره وځي نوماښام به روغ رمټ اوژوندی بیرته خپل کور ته راستنیږي اوکه نه ؟؟ نوما نوموړی خد مت نورنه سوکولای اومجبور سوم راووتلم .))

او دا مي هم ورته وویل : (( خدمت په سوله او امنیت کي کیږي . چي امنیت نه وي ، خد مت څنګه کیدای سي ؟ )) ډاکټردرویزه چپ سو، خو ستاره اڅکزی چي هیوادته دتګ دپاره ترده لاهم جدي وه وغوښتل یوځه ووایي، مګرپه مجلس کي یوبل چازما خبره تا ئید کړه اوددې دپاره چي دوی دواړه دخپل دې عزم څخه راوګرځوي،ترمایې په سختو الفاظوورته وویل:(( چي دا کاردي په دا اوس وخت کي نه کوي )) دهغه نوري خبري مي هیري دي .خودومره مي په یاد دي چي داسي یو مفهوم یې افاده کاوه :

ښه یې وګوره چي خاوره ده که مالګه
بیا نو یـــوې ورته وتـــړه ور دا نګه

څـــوک چي وکـــري تخمونه په ښوره کې
هم یې تخم ، هم یې وخت سوځي ، هم پانګه

خو ستارې اڅکزی دې خبري ته ځواب درلود هغه دا ؤ :

نن دي لا س ته د رغـــــلی دی مـا شیـن
په جلا کړه نوي ، زوړ او تور او سپین

په دې نوي تازه عصر د ما شین کي
زرغونه کړه ټول پټي ، ترخه مالګین

دستارې دلیل معقول و،په ریښتیا هم نن ورځ دعلم اوتخنیک په پرمختګ سره دپخوازمانې ډیرنا ممکنات ممکن سوي دي .

مجلس کورنی مجلس وو، په بحثونو، ټوکواوخو شحالیوتیر سو .

څه وخت وروسته ډاکټردرویزه اوستاره اڅکزئ دواړه دهیوادپر لورروان سوه ، دجرمني کوراوڅه چي یې په کي درلودل،ټوله یې لیلام کړه اوکندهارته ولاړل.ډاکټردرویزه په خپل پلارني کلي کي دیوې ښوونځی بنسټ کیښود،چي دهغه د لګښت زیاتره برخه پیسې به شایدهمدا ددوی دکور دلیلام پیسې وې . اوبیا د کندهار په پوهنتون کي استاذ سو .

خودستارې ا څکزئ خبره ده ... ستاره هم چي دهیواد دبیا آبادولو دچارو دپاره تللې وه ،ځانته یې دکارامکانات لټول.دې فکرکاوه چي په دې وخت اومحیط کي ددې ترټولو مهم مکلفیت به داوي؛چي دښځودژونددښه کیدواودهغوی حقوقوته چي ترتیري توري لاندي دي ، پا ملرنه وسي . ځکه چي هغې لیدل چي په افغا نستان کې اوپه ځانګړې توګه په کندهارکي دښځو حقوق تر پښو لاندي سوي دي او له همدې کبله یې دښځو دحقوقو دملا تړي په توګه په یولړفعالیتونوپیل وکړ .

هغې داسي فکرکا وه :

ښځوو ګڼل حـقـــو ق په عـقـل وزور

داسي نه وې چي دا ښې یې سي سمسور

که دحق خبره کیږي ټول پو هیږي

د غاصیب نه به حق اخلې په ډیرزور

ستارې خوزورنه درلود، په اصطلاح یوه ((عاجزه )) وه ،خودعقل څخه یې کارواخیست.غونډي اومجلسونه یې جوړکړل طرفداران اوطرفدارانی یې پیدا کړې اود کند هار په ولا یتي شورا کې د خپلي سیمي داستازي په توګه وټا کل سوه .

ستاره اڅکزئ د حا جي محمد انور خان اڅکزي لوراوزما عمه یا ترور وه، خو په عمرترما کشره وه ،مسلمانه میرمن وه اودخپلونوروخوېند و په شان یې پنځه وخته لمونځ کاوه،روژه یې نیوله اوټول اسلا مي فرایض یې ادا کول.پلاریې حا جي محمد انورخان اڅکزی چي هرچیري مېنه کړې وه نوهلته یې دخپل کورڅنګ ته یومسجدهم جوړکړی وو.دا کاریې د کند هاردبي،بي هوا په کوڅه کي کړی وو.اوبیا کله چي یې په کند هارکي دملا علم اخند کلي ته کډه وکړه او هلته یې کورونه آباد کړل نو یې په هغه ځای کي هم دخپل کورڅنګ ته ، په خپله ځا نګړې مځکه کي

مسجد جوړکړچي تراوسه لاهم دواړه مسجدونه ولاړدي.اوخلک لمونځ په کښي کوي .اوس نوڅوک دامنلای سي چي ددغه سړي لور ـ مسلمانه لور،دغه څو ګامه نژدې د خپل کورددروازې په خوله کي دڅوتوپک والاوچي ځانونه مسلمانان اوداسلام مدافع بولي دتوپک په نښان وژل کيږي ؟؟ اوکه یو څوک داسي یوه خبروچا ته ووايي نوهغه به يې ومني ؟ هيڅکله نه !.ماهم چي دا خبرواوريد،هغه مي نه سومنلای اوډيرونوروهم.خوخبره ریښتيا وختل . دستارې اڅکزۍ دوژلو دپاره دوه سړي استخدام سوي وه اودهغې د کور دروازې ته نژدې يې ځانونه پټ کړي وه اوکله چي هغه خپل کورته ننوتله ،ډزي يې پروکړې اوځای پرځای يې ووژله.قاتلين وتښتيد له اوستاره يې په وينو کي لژنده په کوڅه کي پريښوده .

دا قتل څواړخونه لري او هرڅوک به يې دخپل نظرپه بنسټ څيړي.ماهم دا قتل دخپل نظرپه بنسټ څيړلی دی او ښه ډيرمي څيړلی دی.چي ددې څيړني تفصيل ډيري اوږدې خبري دي اوټولي يې کله د لته کيدلای سي.خوفقط په لنډ ډول وا يم چي : ((ميرمن ستاره اڅکزۍ دوحشت قرباني سوه.))

څنګه وحشت ؟ داسي وحشت :

انساني ما غـزه که يوواري وحشي سي

نو اعمال يې نه دوحش نه دسړي سي

هيڅ وا حشي حيوان لا ښکار دخپلو نه کړي

دی د خپلو همنوعـــانو پـــوخ ښکاري سي

را سۍ دا دوعا وکړو چي : (( خدای دي د انسان ما غـزه وحشي کوي نه او هغه چي يې وحشي کړي دي ، هغه دي بيرته انساني کړي )) .

ستاره اڅکزۍ زموږ څخه ولاړه ، دوحشت په حملوکي را څخه ولاړه

(( روح دې ښاد وي)) .

ليکوال :لاندي شعر دښاغلي ځلاند صاحب دی

زماکندهــــــــاره بيادی بل زخـــــــــم پر زړه وخوړی
چې دې دعـــــــلم رڼاپـــــلارستردرويزه وخـــــــوړی

مرګيـــــــه تاخـــــــو پرون زموږ نه ستاره واخيستل
څنګـــــــه بی واره دی ظالمه درويزه وخـــــــوړی
چې ئي په دواړو لاســـــو زموږپه لـــــوررنړاراوړله
دمرګ بلارانــــــــــه د زړه دسرټوټه وخـــــــوړی
چـــاچې زموږلپاره ځان اوجـــــانان ټول قربان کړل
دستارې سراو درويزه څـــــخــه مـــــو زړه وخوړی
څوک به جرات کړی چې مشــــال درنړاراوړی موږته
هغو راغلـــــوڅنګه سرزموږ پرکالــــــــه وخوړی
زماخــــــوله وراو سترګه ور جـــــانانه ستانه ګيله
خوله دی کړه ګونګـه چې مرګئ زموږ درويزه وخوړی
زه ځلنـــــــلاند په چغـــوچغـــــــو وايم ستا پرقبر
ئي ستارې رانـــــــه مرګئ ستـــــــا درويزه وخوړی

## دډاکټردرويزه ناګهاني مړينه

هغه انسان چي زړه يې پرنوروټپيدی ، هغه چي دافغان په نوم يې خپل ټوله هستي حتاژوند قربان کړ،هغه لوړانسان چي ورسره ميرمن يې دافغانستان اوافغانانوپه خاطروسره اورته ورودانګل ، هغه درويزه چي کچکول يې دښووني اوروزني په خاطرنيولی اوکو په کوريې دافغانستان دښووني اوروزني دبهير دپاره ګدايي ګري کول.دافغانستان په ټولوخطرناکووختونوکې هغه دبيا جوړونوپه کارونوبوخت اوپه پای کي دهمدغه آرمان دپاره سپلنی سو.

خبره ديوه هيوادپال،پرخاوره دمين اوغښتلي تحصيل يا فته انسان درويزه مرحوم کوم. مرحوم درويزه اڅکزی دمرحوم حاجي مد د خان زوی د کندهار په چغرئ نومي کلي کي دې دنيا ته ستر ګي غړولي اوخپل لومړنئ زده کړې په کابل کي درحمان بابا په ليسه کي ددوهم ټولګی څخه را پيل کړې دي، چي په نوموړي ليسه کې دبکلوريا ترکچي يې زده کړي وکړې، هغه دخپل ځاني استعدادپه وجه دظاهر شاه بابا دپاچهي په دوران کي په کال ١٣٤٨هـ ش کال والمان ته دلوړوزده کړودپاره وا ستول سو، هغه دلوړو تحصيلاتو چانس دخپل ښه لياقت اولوړو نمرو په تر لاسه کولوسره ترلاسه کړ، هغه په خپل ټولګی کي اول نمبره وو.مرحوم درويزه په

تقريبي ډول په کال ۱۳٤۸هـ ش کلونو په شاه وخوا کي دغربي المان وهيواد ته دمحصيل په توګه دعضوي کيميا په ريشته يا برخه کي وليږل سو.او په غربي المان کې دډاکټرۍ ترکچې لوړتحصيلات دعضوي کيميا په برخه کي ترلاسه کړه .مرحوم درويزه خپل لومړی واده په کندهارکي وکړ،چي دواده ثمره يې يوزوی چي وزيرجان نوميده پيداسو. خوپسله څه وخت څخه يې ښځه وفات سوه.څه وخت چي مرحوم درويزه خپلي زده کړي پايته ورسولې اوبايد بيرته خپل هيواد ته راستون سوی وای،دبده مرغه په افغانستان کي دغوايي دميا شتي اړدوړرا منځته سو.اوورځ تر بلي ورځي شرا يط خرابيدل ، څودومره شرا يط خراب سول ، چي تردوه ميلونه ډيرافغانان دنړۍ ګوټ ، ګوټ ته مهاجراوپناه وړونکي سوه . مرحوم درويزه هم دهيواد دغه نا خوالوودې ته مجبورکړ ، چي هم هلته پاته سي.او بيا هغه وخت چي دشوروي لښکرو هيواد اشغال کړ، نو يې په اګهانه توګه دا پر يکړه وکړه ، چي نور به تر هغه وخته هيوادته نه ځم ، څو هيوادمونه وي آزاد سوی،دهغه پوره زړه غوښت چي هيواد ته ولاړسي اوهلته دخپل تعليم اوښوونيځوپوهي په ګټه اخيستلو سره ،دکيميا په برخه کي ، هيوادوالوته ګټه ورسوي ، خودهغه سالم فکرددې اجازه ور نه کړه،چي هغه دي تراشغال لاندي ، هيوادته بيا ستون سي.اوهغه داتګ ددښمن پرژرنده دابواچولوپه معنا ګڼی.نوپه همدغه دوران کي مرحوم درويزه اڅکزي ،دژوند د پرمختګ دپاره خپل ژوند په المان کي خوښ کړ.اوددوهم ځل دپاره يې ديوې منوري نجلۍ ( ستارې اڅکزۍ ) سره واده وکړ.ستاره اڅکزی ، چي خپله هم يوه منوره اودلوړوزده کړوخاونده وه دمرحوم درويزه سره په ژوند کي خوشحاله اوښه ژوند يې درلود.دوی دواړوپه المان کي خپل مسلکي کارونه درلودله،خو دوخت شرايط داسي راغلل،چي دغوايي د مياشتي داومي ورځي يعني د کال ۱۳۵۷م دخلقيانواوپرچميانواړودوړپه يوبل اړودوړد۱۳۷۱هـ ش کال دمجاهدينوپه اړودوړواوښت.اودهمدغه غواي دمياشتي پراتمه نيټه په کال ۱۹۹۲م کي د مجاهدينوپه اړودوړواوښت.يا د مجاهيدنود حکومت په نوم را منځته سو. چي دهيواد خلکو ته دمنلووړنه وو. کوڅه په کوڅه جنګونه اوهيواد پرشمال او جنوب سره وويشل سو. په هيواد کي بشپړه بې امنيتي اوکورپه کورجنګونه،ملکوالطوايفي ناوړه شرايط رامنځته سوه،په لويولاروکې ځنځيرونه واچول سول اوخودسروټوپک سالارانو دخلکو څخه باج او ماليه دخپلو شخصي جيبو دډکولودپاره اخيستل،دخلکو

پرناموس تيری هغه لوړي کچې ته ورسيدی چي نجونودشپږم منزل څخه ځانونه را وغورځول،دهيوادپرشتمنيوداسي چوررولويده چي دحکومت دفترونه هم چورسوه، دخلکوشخصی دښمنۍ ترسره سوې،پاکستان په مستقيمه توګه دافغانستان نظامي برخه لکه : تيارې، راکيټونه، او ډول،ډول نوری جنګي سلاحوي چورکړه، معدنونه ئې دځان کړه،حتا دهيوادهغه پاته سوځلی ټانکونه اووسپني ئې هم دخپلو فابريکودپاريوورې.هيوادسم دم دای اس ای منګلوته دهمدغه مجاهدينو دلاسه ورغلی.اوپاکستان ئې هم پرهيڅ شي،خرابيدو، پرهيڅ اړخ دريغ ونه کړ.چی په نتيجه کې يولوی بحران رامنځه سؤ.اوولس دې ته تيارسو،چی دمجاهدينوحکومت رانسکوره کړي،خودپاکستان په نظامي مداخله اودځينومعصوموخلکوپه اراده، دافغانستان ددغه بهران يوبل ډول حکومت دطالبانوپه نامه رامنځته کړ.چي په نتيجه کې طالبان راوزيږول،طالبانودهيوادتجزيې ته دپای ټکی کيښود.اوهيواد يې دتجزيې څخه وژغوره،نوداسي شرا يط را منځته سوه چي يولړمنورينوددې جرئت وکړ،چي هيواد ته دبيا آبادولودپاره په مؤقتي توګه ولاړسي.چي دهغه جملې څخه يوهم ډاکټر درويزه وو،چي دطالبانوپرپيريا دوران کندهارته ولاړاودغازي عبدالله خان اڅکزي ليسه يې ترميم او جوړه کړه.هغه چي دمجاهيدينوپرمحال په خپل منځي جګړوکي ويجاړه يا ويرانه سوې وه. دبيا دپاره ورغول سوه.په سپن بولدک اودهغه په شاه وخواکې زده کونکې ودې ته وهڅول،چي خپلي زده کړي په نوموړي ليسه کي ترسره کړي.اولازم کومک يامرسته هم دبولدک دزده کونکو سره ددرويزه په شخصي پيسوترسره سوه.هغه داټول خطرات پرځان باندي ومنل،خودهيواد دبچيانو بې سوادي يې نه سوتحمل کولای ،هغه په دې کارډيرخوښ وو،چي خطريې پرځان منلی اويو ګټورعمل يې ترسره کا وه.

خو وروسته ترهغه چي يولسمه دسپټمبررامنځته سوه اوطالبان دالقاعده په نوم بدنام سوه.اودامريکايانوسره داسمابن لادين پرسرلاس اوګريوان سوه ، نوامريکائيانوهم پرافغانستان باندي نظامي تجاوزاو تيری وکړ. چی په نتيجه کې افغانستان دالقاعده په نوم اشغال کړ، طالبان يې دشمالي تلوالوپه مرسته ددولتي ځواک څخه محرومه کړه اوقدرت دالمان د بن د کنفرانس څخه وروسته مؤقتي اداري ته وسپارل سو،په هيواد کي دبياابادولوخبري تازه سوې ، چي په دې وخت کي ښوونځی ، پوهنتونونه ،کتاب خانې ،خپروني علمي اوتحصيلي شرا يط سم سوه.اويولړمنورين دهيواد دبيا

آبادولو په مؤخه هیوادته ولاړل ، چي ددې جملې څخه یوهم درویزه اڅکزی ؤ، چي دالمان هغه ښه ښرا یط یې پریښودل.ده اومیرمني یې هم دا هوډ وکړ چي خپل هیواد ته به بیا ځي اوهلته به دایمي ژوند کوي ، د بل په هیوادکي ژوند خوند ورنه کړ؛ که څه هم هغوی دالمان دهیواد نشنلټي هم درلودله، کارېې هم درلوداودژوند سطحه یې هم اوچته وه.خوپه هرصورت هغوی خپل ژوند په افغانستان کي دبیا ابادولواوخپلو هیوادوالوته د خد مت په منظورښه ګڼله، نویې کډه راپه شاه کړه دکورځیني توکي ئې لیلام کړه اومخامخ هیواد ته راغلل.اوپه کند هارکې ژوند را پیل کړ.لکه مخکي چي هم وویل سوه ،ستاره اڅکزۍ چي په یوه منوره کورنۍ پوري یې اړه درلودله ،دخلکو په منځ کې ځان دولایتي شورا دپاره ونومول سوه. اوولایتي شوراته بریالۍ سوه،بیا وروسته دهمدغه شورادریاست دمرستیالي په توګه انتخاب سوه.اوښاغلی مرحوم درویزه بیا په علمي برخه یعني د کندهارپه پوهنتون کي د کیمیا داستاذ په توګه کارراپیل کړ.دواړه په کندهارکي خلکواوټولني ته ډیرګټوروه. خودبده مرغه ستاره اڅکزۍ د۲۰۰۹م کال داپریل پر۱۲ نیټه دیکشنبې په ورځ پرڅلورو بجودهیواد د دښمنانودخواڅخه په شهادت ورسیدل.اود د ې نه وروسته د مرحوم درویزه کورګی وران سو،مېنه ورته سوراورسو.اوکاناډااوجرمني ته یې سفروکړ،خوپه کاناډااوجرمني کې هم ژوندتاب ورنه کړ.پسله یوڅو میاشتو څخه بیرته افغانستان ته ولاړاوپرهغه مېنه چي دهغه مینه شهیده سوې وه ، دبیا لپاره یې غوښتل چي بیا ژوند راپیل کړي .خوبیاهم دهغه سره دخپلې میني خاطرې اودستارې یادونه ملګري سول اوپه ډیره پریشانه توګه یې کله دیوه دوست اوکله هم دبل دوست په کورکي شپې اورځې تیرولې.کله به چغرۍ کلي ته دورونږکورته ولاړاوکله به هم دکندهارپه ښارکي اوسیده.اوپوهنتون ته به ددرس دپاره تلی اوراتلی،خوهغه ونه کولای سو،چي په داسي حال کي ژوند ته جریان اودوام ورکړي ، چي هغه دژوند هغه ملګرې دلاسه ورکړې وه ، کوم چي دهغه دپاره یوغراوپخه کلاوه.نودهمدغه سرګردانۍ په درشل کي ،دهغه قلب ناآرامه سواوهغه فعالیت چي دیوه هد ف دپاره یې کاوه نورېې توانمندي دلاسه ورکړه اودخپل ورور په کورکي په چغرۍ کلي کې په ناڅاپي توګه دزړه حمله پرراغله اوددې فاني دنیا څخه یې دابد دپاره سترګي پټي کړې .( روح دې ښادوي ) :په دې کي شک نه سته چي دهغه زاره وچاودل یعني زړه ئې ددغونده غم توان ونه درلود.اوپه اصطلاح زاره ترک

سو.خوخبره دلته ده، چي هغه یووا قیعي هیوادپال اودهیواد دپاره یې داټوله قربا نۍ ورکړې، خپل ښه ژوند یې دجرمني په سطحه پریښود.اوخپل هیواد ته را ستون سو،ولي ؟دګیلي وړخوداده چي ددومره یوه غښ انسان پرمړینه هیچاه هم یوساده خبرهم خپورنه کړ... هغه په افغانستان کي یوازنی د کیمیا لوی ډاکټروو، هغه په المان کي دپوهنتون استاذي د کندهاردخلکوپه خاطرپرېښوول اوپه کندهارکې دپوهنتون استاذي ئې قبوله کړه،هغه وکندهارته ډیرلوړخد متونه ترسره کړه اویومجهز لابراتواريې د کیمیاپه برخه کي په ډیرومډرنوسامان الاتوسره دجرمني دهیوادڅخه راوړ،هغه په کیمیا کي دلسواثاروپه شاه وخواکي کتابونه،علمي څېړنيزي مقالې اویوه لویه ډکشنري په پښتو ژبه ولیکل،هغه ځان ،اولاد،شتمني ټوله دافغانستان دخلکودپاره قربان کړه،ولي؟ په عوض کې څه ولیدل؟اودې ولس څه ورکړل؟،دلوړوتحصیلاتو وزارت،د کندهار پوهنتون،دکندهاردولایت مقام اود کندهارټولوویب پاڼواومطبعاتودهغه نوم هم پرټلویژون یا راډیواویاهم پرخپلو ویب پاڼورانه وړی څه شی ئې ورپه نوم هم نه کړی؟. چي نن ددرویزه د خد متونویاد باندي سوی وای،قضاوت دي خلک اومنورین وکړي.... دلته زما دنظره په لومړي سرکښي دولتي چارواکي مسؤل ګڼم،خوپه دوهمه برخه کي هغه رسانۍ چي دکندهارد خواخپریږي اوخپله دکندهاردپوهنتون ریس اوچارواکي بایدځانونه مسؤل وګڼي.ددرویزه اڅکزي یاددي په خیروي: ډاکټردرویزه دپښتوژبې دپاره هرڅه کړي دي ، چي په لنډه توګه یې یادولای سو:

لومړی : دکیمیا په باب دلسوعلمي اثارولیکل په پښتوژبه،په پښتوژبه د ډ کشنرې جوړول په کیمیا کي،دجرمني څخه په پښتو ډیکشنري،دپیام افغان تلویژون سره دوه سا عته مرکه،داحمدشاه بابا دعلمي ادبي ټولني په نشراتي **ارګان ملي هنداره** کي یو صفحه دساینس اوعلم ترعنوان لاندي،چي دشکري دناروغۍ په باب یې په پرله پسې شماروکي مضمونونه ورکړي دي ، په المان کي دلومړی ټولګي څخه بیا تر دریمي ټولګۍ پوري پښتو الماني تدریسي کتابونه اونورډیر هغه څه چي زموږولس ورته ضرورت درلوددعلم په دنیا کې ډول، ډول خد متونه ترسره کړي دي .

خو داچي اوس استاذ درویزه زموږ په منځ کي نه سته ، زموږ ټولودفرهنګ مینه والود نده بولم ، چي دنوموړي لوړانسان په باب خپروني وکړي اونورداسي کسان تشویق سي ، چي اینده ته دي ددې خاوري د خد مت مصد روګرځي.حتا د کندهار

دچارواکو څخه توقع داده چې يوه علمي مؤسيسه يا کتابخانه دي دمرحوم درويزه په نوم ونوموي . په پاى کې زه دځان اواحمد شاه بابا دعلمى ادبى ټولني دخوا ، دخپلو انډيوالانو، کورنۍ دلوري دمرحوم درويزه اڅکزي روح ته دوعا کوم او دخداى څخه ورته جنت فردوس غواړم او په همدغه ډول دمرحوم درويزه اڅکزي وکورنۍ اودوستانوته دزړه له کومي دزړه صبرغواړم اودنومورړي نا اګاهانه مرګ دهيواد دپاره يوه لويه ضايعه ګڼم . ددرويزه ناګهاني مړينه اودستارې اڅکزی شهاد ت دې بيا اخيرن غم سي دهيوادخلکواودنومورړي هيوادپالوکورنيو دپاره.

  

**اناﷲ واناالیه را جعون**

**ننګیالی بځرکی**

**داحمدشاه بابا دعلمي ـ ادبي ټولني مشر**

**غزل : نورعلی شاه ځلبلا ند**

پنجشنبه، 29 سلواغه ، 1388 **:نېټه**

شعرونه **: موضوع**

غزل : نورعلی شاه ځلبلا ند

د ستاره اڅکزۍ وروسته درويزه اڅکزي هم کوچ وکړئ
زما کندهـــــــــاره بيا دی بل زخم پر زړه وخوړی

چې دی د علم رڼا پلا ر ستر درويزه وخـــــــــوړی
مرګيـــــــه تا خو پرون زموږ نه ستاره وا خيستل

ښنګــــــــه بی واره دی ظالیمه در ویزه و خوړی
چې ئي په دواړو لاســــــو زموږ په لور ر ڼا راوړله
دمرګ بلا رانــه د زړه د سر ټوټه و خـــــــــوړی
چاچې زموږ لپاره ځان او جــــــانان ټول قربان کړل
د ستاری سر او درویزه ښـــــــه مو زړه وخوړی
ښوک به جرات کړی چې مشـــــال د رڼا راوړی موږته
هغو راغلــــــو ښنګه سر زموږ پر کاله وخوړی
زما خوله ور او سترګه ور جــــــانانه ستانه ګیله
خوله دی کړه ګونګه چه مرګئ زموږ درویزه وخوړی
زه ځلبلاند په چغــــو چغو وایم ستا پر قبر
ئي ستاری رانه مرګئ ستا درویزه وخوړی
***

## نورعلی شاه ځلبلا ند عرب امارات دوبئ

**هاري واشنګتن :**

د مېرمن ستارې اڅکزی شهادت

تورد ختو کانو جوړ بد رنګه غر و
چي ايرې شو نوم يې شو په جهان ياد
شين زمری پخپل نرتوب توره يادېږي
که يې تن ذرې ذرې کاندي صياد
اور پخپله سوځي ځکه سوځول کا
دانه خاوري شي پټی کاندي اباد
**" غني"**

د کندهار په ښار کي د اپریل پر ۱۲ مه د مېرمن ستارې اڅکزی قتل واقعي يو نامردانه اوکرغېړن برید وو. همداراز، په سپینه ورځ یوه صادقه اوخد متګاره مېرمن د خپل کورمختته وژل دټولو افغاني اصولو اوافغاني کلتورڅخه څرګنده سرغړونه هم ده. د مېرمن ستارې اڅکزی ټرورځکه ناځوانه کاربولم چي حتما به څلورووا ړوطالبانوبرېتونه اوړېږي هم درلودې؛ خامخا به پرموټرسيکلانو سپرو طالب قاتلانو ددغي خدمتګاري اوبې دفاع استادي شهادت ته نقشه اودسيسه هم ترلې

وه؛ اوهرومرو به پدې بزدلانه حملې کي د کندهاردکمزوري مد نې ټولنې د بشپړتباه کولوتوراولغوړن نيت هم نغښتي وو.کنې په بل صورت کي څنګه کېداى سي چي څلورافغان مړونه دي دونه خواراوذ ليل شي؟

د نوروټولنو په شان، په افغاني کلتوراوتاريخ کي ديوې بې دفاع ښځي ترور اووژلو ته شرم اوبې ننګي ويل کېږي.ښځه ناموس اوننګ ګڼل کېږي.اوښځو، ماشومانواوکمزوروکسانو ته پناه ورکول مېړانه بلل کېږي. ښځي ته احترام د افغاني فرهنګ يوباارزښته اومنل سوى دوددى. له بده مرغه، طالبانوله اوله سره همدې دروند افغاني اصل اواخلاقي ارزښت ته په سپکه سترګه کتلي دي، اوهرڅيري چي يې لاس برسوى دى، سخت ګوزارونه يې پرې کړي دي. هغوى د تعليم يافته او منورو افغاني مېرمنوسره خپله ړنده بدي پوره پاللې ده، په تېره بيا د هغو مېرمنو سره چي د خپلو حقوقو، مساوات، برابرۍ، اومروجه غوښتنولپاره مبارزه اوفعاليت کوي. لنډه دا چي طالبانو تل د افغاني مېرمنو پرحقه حقوقو باندي تېرى کړى دى.

دغه راز، د مېرمن ستارې اڅکزۍ وژل د طالبانو نه بخښونکى جنايت ګنم. د يوې ښځي قتل اوترورله سره بربريت اووحشت بولم. په ټولنه کي، ترورراوډارخورول ناروا ګنم. طالبانو په کندهارکي د ډاردخورولولپاره تل پاسته اواسانه اهداف په نښته کړي دي. د مېرمن کاکړ قتل، د مکتب پرمعسوموونجنو باندي تېزاب پاشل، معلمان اودټولني خدمتګاران وژل،اودميونددقتل رسمي مسوليت منل،دطالبانود ناروا بغاوت اوتشدد فقط څووروستۍ بېلګې دي. په يوه ټولنه کي،د اجتماعي خد متګارانووژل د بشري وجدان اوعاطفې د کامل سقوط ښکاروندى دى. همدا سقوط د اخلاقي اصولو کمزورتيا ښيي. همدا راز، په ټولنه کي د قانون اوامنيت پرځرګند نشتوالي باندي دلالت هم کوي.

مېرمن ستاره اڅکزۍ د کندهارد ښاريوه سپېڅلې اوخدمتګاره استازي وه.هغه د کندهارد ښځودنهضت يوه مخکښه فعاله غړې وه. مېرمن ستاره اڅکزۍ د کندهار په يوې درنې، منوري، او مبارزي کورنۍ پوري اړه لري چي تاريخ يې د بچه سقاو پرضد د کندهاريانو مبارزاتوته رسېږي.دبچه سقاوترقيادت لاندي د تېاروااوارتجاع استازوهم په افغانستان کي د مد نيت اوقانونيت دخورېدوسره مخالفت کاوه.د بچه سقاوپلويانوهم له مکتب،معلم، اورڼا څخه ډاراوکرکه لرله. هغوى هم د ښځود ښووني اوروزني سره، هم دکاراوفعاليت سره، هم په اجتماعي اوسياسي امورو کي دګډون سره، اوهم دښځي له جنس اونوعيت سره دښمني لرله. نن ورځ، طالب جګړماران هم د بچه سقاود ډانګيانو په شان،په ټولنيزواوورځينو چارو کي د افغاني

ښځوله هرراز فعالیت اوبرخي سره حساسیت او تبه لري. د هغوی په ګومان د ښځي ځای کوراو ګور دی.
دمېرمن ستارې اڅکزۍ شهاد ت اخلاقي اواسلامي ضد ځکه بولم چي حتی په جنګي شرایطوکي هم دملکي کسانو په نښه کول جنایت او بشري ضد عمل دی. ټولو مدني، بین المللي، اومذهبي قوانینو د ملکي کسانو وژل منع کړي دي. ځکه د ملکي کسانووژل دغیري متمد ینو اووحشي خلکو کاردی. همدا عمل سپېره ټروریزم دی. نارواوکرغېړن دی.
د مېرمن ستارې اڅکزۍ ټروراسلامي ضد ځکه بولم چي اسلام د یوه بېګناه بني ادم وژل د ټول بشریت قتل ګڼي. دغه راز،دیوه بني اد م ژغورل د درست انسانیت نجات بولي. بله خوا، اسلام معلوم اوټاکلي جنګي قوانین لري. " د خدای په لاره کي د هغوکسانوسره جنګ ته ورودانګئ چي ستاسو په لوري د جنګ په نیت درروان وي. په عین حال کي،تېرى او تعدی مه کوی، ځکه چي الله پاک ظالمان اومتجاوزین نه خوښوی" ( بقره، ایه ۱۹۰). دغه راز، په ګڼ شمېر اسلامي احکامواوقوانینوکي د ملکي کسانو ،ښځو ،ماشومانو اوزړووژل منع سوي دي. د دښمن وني اوباغونه وهل او پردښمن باندي داوبو بند ول هم منع دي.
نن سبا،دطالبانو اوالقاعدې ټروریزم داسلام اومسلمانانولپاره دېرګران تمامېږي. دوی کورله دننه خرابوي. د اسلام په نوم جنایت او قتل کوي. دوی یودین اوتمدن یرغمل کړی دی. دوی ددین ترچترلاندي ډاراوټرورخوروي. نوروجهانیانوته اسلام اوافغانان شډ ل، بې فرهنګه، او خطرناکه معرفي کړی دی.

بل پلو، دمېرمن ستارې اڅکزۍ شهادت او مظلومیت د کندهارمزمنه بې امني نوره هم رابرسېره کړه. کلونه،کلونه کېږي چي بدامنیت،خراب اقتصاد،اوبې پروا حکومت په ښارکي د هررازپرمختګ اوانکشاف مخه نېولې ده. د طالبانود رژیم تررانسکوربدوراوروسته،دکندهارچارواکي دامنیت، بیاودانولواواقتصادي انکشاف په راوستلوکي سخت ترشاه راغلی دي. که څه هم تېرووالایان یا ډاکوماران وه، یا غله وه، اویا هم بېکاره اوټمبل لټ وه، خواوسنی والی ښاغلی توریالی ویساهم د نوم خاوند دی، هم یې عالي تحصیلات کړی دی، اوهم خپله د کندهارد ښاربچی دی. نو ځکه زیاتروکندهاریانو ښه هیله او نېک نظرورته لره، خو له بدمرغه، د ډاکټر ویسا په دوره کي هم دامنیت د ټینګولواوهم د اقتصادي ودي د راوستلو لپاره کم خاص د پام وړ کار ندی سوی. حتی په ځینو مواردوکي خو څه نور شاتګ هم سوی دی. د کندهارچارواکي باید اجازه ورنه کړي چي دپردوپه لسمون طالب

جنايتکاران د ښارپرمد نې ټولنې، مخوروا ومنورواشخاصو باندي خپل مرګوني ګوزارونه جاري وساتي. د کندهارد ښارامنيت فقط پنځه زره کسيزي مجهزي، پاکي، با دسيپلنه، اوجنګي امنيتي قوې ته اړتيا لري.عامه کندهاريان د القاعدې ترورېستانوا وطلب جګړمارانوسره هيڅ ډول علاقه اومينه نلري.کندهاريان پاک، مؤثر،اوخدمتګارحکومت غواړي. کندهاريان د خپلوچارواکوڅخه خدمت، کار او پوره توجه غواړي. والسلام.



**محمد علم بڅرکی- درویزه اڅکزی د شهیدی ستارې اڅکزئ سره دهالیند درینن دنامتورودپرغاړه**

## «د کندهار امنيتي حالت په پرتله ئيز توګه ډېره خراب شوى دى»

په کندهارښارکې دڅوورځوپه اوږدوکې دبېلابېلوځانمرګوبريدونوترڅنګ ديو شمېر لوړپوړواوعاموخلکو ترورېدلودکندهارپرامنيتي وضعې سخت منفي اغېزه کړې ده.اودولتي امنيتي ساتونکې ګرم بلل شوي چې دامنيت په خوندي کولوکې په بشپړه توګه پاتې راغلي دي.که څه هم په کندهار،هلمند،زابل،ځينونوروولايتونوکې ځانمرګي بريدونه د معمول په توګه رامنځته کېږي خوڅوورځې وړاندې دکندهار پرولايتي شورا دپينځوتنوځانمرګوبريد کوونکوبريد يوخونړى بريد وو. چې پکې د يوشمېردولتي کسانوترڅنګ ګڼ شمېرعام خلک هم ووژل شول .په ياد شوي بريد کې پينځوتنوځانمرګوبريدکوونکولومړى دکندهارولايتي شوراته د ملي اردوپه جاموکې ځان ورساوه،هلته يې د يوه ځانمرګي بريد وروسته د غونډې پربرخه والو

ډزې پیل کړې، چې کابودیارلس تنه پکې مړه اوګڼ شمېرنورزخمیان شول، په وژل شویوکسانوکې د کندهاردښوونې اوروزنې رئیس محمد انوراودعامې روغتیا ریاست مرستیال ډاکټرعبدالحی رازمل هم شامل وو ترهغه څوورځې وروسته د تېرې یکشنبې په ورځ نژدې درې نیمې بجې دکندهاردولایتي شورا یوه ښځینه غړې ستاره اڅکزۍ چې ویل کېږي خپل کورته دورتګ په حال کې وه دځلوروتنو موټرسایکل سپروله خواورباندې ډزې وشوې اووژل شوه.دکندهاردامنیه قوماندانۍ د امنیت امرسمونمل عبدالله رسنیوته د خبروپرمهال د پېښې په اړه وویل، دځلورو تنو موټرسایکل سپرو له خواد کندهارولایتي شوراپرغړې ستارې اڅکزۍ ډزې وشوې اونومورې یې ووژله.دولایتي شوراغړي اود کندهارد سولې اوملي پخلا ینې د کمېسیون مشرحاجي آغا لالي د پېښې په اړه وویل: "ستاره اڅکزۍ په خپل موټر کې کورته روانه وه، چې د ښارد پنځمې ناحیې د ده خواجه د ټاک په سیمه کې د کورد دروازې مخې ته د نامعلوموموسلوالوموټرسایکل سپروله خواووژل شوه." که څه هم د کندهارولایتي شورا دوژل شوې غړې په اړه د کندهاروالي پوهنوال توریالي ویسا اود اکندهار امنیه قوماندان مل پاسوال مطیع الله قاطع له خوا په همدې اړه جوړې شوې خبري غونډې ته د خبروپرمهال په پېښه کې کوم ځانګړی څوک تورن نه کړخوتېنګاریې وکړچې دوی به د خپلو پراخوهلو ځلو په ترسره کولو د نومورې د وژونکو په موندلوبریالي شي .ښاغلي ویسا خبري غونډې ته د خبرو پر مهال وویل: "اڅکزۍ د کندهار له روڼ اندې کورنۍ څخه وه، چې دکرزي په لنډمهاله دوره کې له جرمني څخه کندهارته راغله اوبیا وروسته د ولایتي شورا د غړې په توګه وټاکل شوه نومورې د څلورووسلوالوموټرسایکل سپروله خواهغه مهال ووژل شوه، چې له دفتر څخه کورته روانه وه، له دې سره یو تن ساتونکی هم ورسره و،خوپه دې ورځ ورسره وسله نه وه اوهغه روغ پاتې شوی دی." د کندهارامنیه قوماندان زیاتوي چې د دوی له خواد کندهارولایتي شوراهرغړي ته پینځه ساتونکي ورکړل شوي، خودی نه پوهېږي چې ولې اڅکزۍ ټول ساتوونکي له ځان سره نه وه بېولي."قاطع هیله وښوده چې دوی به تردقیقوپلټنووروسته د پېښې دعاملینوپه موندلوبریالي شي. خوپه هغه انټرنیټ پاڼه کې چې دوسلوالوطالبانوپوځې خبرونه خپروي،د طالبانود ویاند قاري یوسف احمدي له خولې لیکل شوي چې دا برید د دوی د څلوروتنوموټرسایکل سپروله خواترسره شوی دی، د قاري یوسف احمدي په وینا د دوی ملګري له بریالي برید وروسته د پېښې له ځایه په تېښته بریالي شوي دي .تردې وړاندې د کندهارولایتي شورا یوبل غړی محمد یونس حسیني هم دوسلوالوطالبانوله خواخپل کورته نژدې وژل شوی و .

په کندهارکې یو تن ملي تجارحاجي محمد قاسم توخی په کندهار کې د اوسني امنیتي حالت په اړه له سور غرسره دخبروپرمهال له دې امله اندېښنه وښوده چې په کندهار کې له څه مودې راهیسې امنیتي حالت ډېرترینګلی شوی چې نه یوازې دولتي کسانو بلکې تجارانوته یې هم سترګواښ پېښ کړی دی، ښاغلی حاجي محمد قاسم زیاتوي "په ډېرلنډ وخت کې ګڼ شمېرخلک تښتول شوي اووژل شوي دي چې د هغوی له جملې څخه څه موده وړاندې د جاوید جوجو په نوم یو تن خبریال د کندهارښارپه تر ټولوامنیتي سیمه کې چې د ښارمنځ دی، په خپل موټرکې ووژل شو، که څه هم د ملي امنیت له خوا یې په اړه د پلټنو ژمنه وشوه خو لا یې تراوسه د وژونکو په اړه څه د قیق معلومات نه دي په ډاګه شوي. تر هغه وروسته په ډېره لنډه موده کې د کندهارپرولایتي شوراد پینځو تنو ځانمرګو برید کوونکوله خوا یو سترخونړی برید وشوچې د ځینو دولتي کسانوترڅنګ پکې عاموخلکو ته هم مرګ ژوبله واوښته، خوجالبه دا ده چې تردې مخکې هم د کندهار پرولایتي شورا یو ځانمرګی برید تر سره شوی و، که څه هم مخکني برید د شورا غړواودغونډې برخه والو ته زیاته مرګ ژوبله وانه ړوله خود ولایتي شوراوداني یې په بشپړډول ویجاړه کړه، تر هغه وروسته د کندهار ښارپه زړه شهیدانوڅلورلاره کې یوتن دڅوتنو له خوا په عام سړک کې د خلکوپه مخ کې ووشتل شو.اووژل شو.دادی ترهغه وروسته د ولایتي شورا یوه ښځینه غړې ستاره اڅکزۍ هم ووژل شوه، تېره اوونۍ یوتن ملي تجار چې خپل ماشومان یې له ښوونځي څخه دکورپرلوروړل، د څو تنووسلوالوکسانو له خوا چې ویل کېږي دپولیسوجامې یې په تن وې اود پولیسوپه رنجرموټرکې ورته راغلل، نوموړی یې وتښتاوه، داهغه پېښې دي چې د کندهارامنیتي حالت یې د پخوا په پرتله خورازیات خراب کړی دی، دې ډول پېښوته په کتوسره به د کندهارپر تجارت ډېره منفي اغېزه وشي، که چېرې دولتي چارواکې د تجارانواوعاموخلکو د امنیت ساتلوپه اړه بې وسه دي نودوی کولای شي، په ډاګه ووایي چې خبره د دوی تروس تېره ده."حاجي محمد قاسم توخی وړاندې زیاتوي چې په کندهارکې اوسمهال داسې یوحالت روان دی چې ورځ تربلې امنیتي ستونزې ډېرېږي خودولت یې په وړاندې مطلق بې وسه ښکاري. نوموړی وایي دا ډېرد افسوس اوحیرانتیا خبره ده چې د کندهار په ترټولوامنیتي سیمه کې دولایتي شورا دفتر ته پینځه تنه ځانمرګي ورځې هلته بریدونه کوي اویا دا چې په سپینه ورځ دولایتي شورا ښځینه غړې وژل کېږي، تجاران تښتول کېږي خودولت یې په وړاندې د هیڅ کولو توان نه لري. د میراجان په نوم یو تن دوکاندار چې څو ورځې وړاندې په شهیدانو څلورلارې کې د وژل شوي کس عیني شاهد دی، د پېښې په اړه د اندېښنې تر څنګ په حیرانتیا

سره وايي ":زه په دوکان کې ناست وم چې ډېرنږدې مې د توپنګچې ډزې واورېدې، که ګورم له دوکان سره نږدې مې يو تن پرسړک پروت دی اوترسرېې وينې بهېږي، دوه تنه چې توپنګچه يې په لاس کې وه په ډېرعادي رفتارپلي روان دي او په دې توګه مې له سترګو نهام شول، کابونيم ساعت تېرشوچې ويشتل شوی کس لا د سړک پر غاړه پروت و، خوترنيم ساعت وروسته د پوليسو موټرراغی اوپرته له کومې ځېړنې يې دويشتل شوي کس جسد په ډېره بې تفاوتي موټرته واچاوه اوروان شول." ميراجان زياتوي چې دده د ژوند ډېره برخه په پاکستان کې تېره شوې ده، د نوموړي په خبره کله چې به په پاکستان کې داسې يوه پېښه رامنځته کېده نو نه يوازې دا چې پوليسوبه په ډېره بيړه ورته ځان رارساوه، بلکې ترراسېدو وروسته به يې هماغه سيمه د لنډ مهال لپاره د ترافيکو پرمخ بنده کړه ترڅو په دقيقه توګه يې د وژل کېدو په اړه پلټنې ترسره شي. نوموړی زياتوي چې پرون يې ددوکان مخې ته سړی وويشتل شو، يوخوپوليس ترنيم ساعت وروسته راغلل اوله رارسېدوسره سم يې دويشتل شوي سړي جسد په موټرکې واچاوه اوولاړل.د ميراجان په خبره، که چېرې په کندهارکې امنيتي حالت همداسې ترينګلی دوام وکړي، نونه يوازې دا چې تجارت اوراکړه ورکړه به په ټپه ودرېږي بلکې ګڼ شمېرشتمن تجاران به له کندهار څخه وتلوته اړشي.چي داکاربه دکندهارپرامنيت،اقتصاداوټولنيزژوند باندی منفي اغيزه وکړي.اوپه کندهارکي به ترورېزم خپلي ځالي جوړي کړي،دسړيوتښتولواو دښوونی اوروزنی وبهيرته به سخته صد مه اوتاوان ورسيږي،ځکه چی امنيت دخلکولومړی غوښتنه ده،بيله امنيته هيڅ نوع کاروبارنه شي کيدای،دخلکوباورپر دولتي چارواکواوامنيتي ارګانونوباندي لږيږي.او په پای کی به کندهار هغه د۱۹۹۲م کال هغه مهال ته بيا يوځل راسي کوم چي کورپه کور جنګ اوکلی په کلي راکيټونه وه.په دغه بدوحالاتوکي بياهم ستارې اڅکزۍ دسولي اوامن ارزوګاني لرلې اودهمدغه غوښتنو،هيواددپالني پرروحيه شهيده کړل سوه. روح دې ښادوي اويا د دې تل وي.

## کندهار د ولايتي شورا غړې ووژل شوه

بشيراحمد نادم : کندهار ښار
د وري ۲۳مه، پژواک خبري اژانس
د کندهاردولايتي شوراغړې ستاره اڅکزۍ نن له غرمې وروسته د نامعلومو وسلوالو لخوا په کندهار ښار کې ووژل شوه.

د کندهارد پولیسو یوې سرچینې د وري په ۲۳مه، پژواک خبري اژانس ته وویل : چې دغه پیښه نن له غرمې وروسته ددرې نیمو بجوپه شاوخواکې رامنځته شوه.
سرچینې زیاته کړه چې نامعلوموسلوالوپرستاره اڅکزۍ ډزې وکړې اوهغه یې ووژله.
د کندهارد امنیه قوماندانۍ د امنیت آمرسمونمل عبدالله پژواک اژانس ته پیښه تایید کړه، خو په دې اړه یې نورجزئیات ورنکړل.
د ولایتي شورا غړی او د کندهارد سولې او ملي پخلاینې د کمیسیون مشر حاجي آغا لالي پژواک اژانس ته د ستاره اڅکزۍ وژل تایید کړل.
هغه زیاته کړه چې نوموړې په خپل موټرکې نه بلکې په یوه ښاري ریخشه کې کورته روانه وه، چې د ښاردپنځمې ناحیې د ده خواجه د ټاک په سیمه کې د کورددروازې مخې ته د نامعلوموسلوالوموټرسایکل سپرولخوا ووژل شوه.
وروسته دکندهار والي پوهنوال توریالي ویسا او امنیه قوماندان مل پاسوال مطیع الله قاطع په یوه ګډه خبري ناسته کې د اڅکزۍ وژنه وغندله.
والي وویل:چې اڅکزۍ له روڼ اندې کورنۍ څخه وه ، هغه د کرزي په لنډ مهاله دوره کې له جرمني څخه کندهار ته راغله اوبیا وروسته د ولایتي شورا غړې شوه.
امنیه قوماندان وویل:چې اڅکزۍ دڅلوروسلوالوموټرسایکل سپرولخوا هغه مهال ووژل شوه، چې له دفتر څخه کورته روانه وه.
هغه وویل: چې له دې سره یې یو ساتونکی هم ، خو په دې ورځ ورسره وسله نه وه او هغه روغ پاتې شوی دی.
ده وویل: چې دوی د ولایتي شوراهرغړي ته پنځه ساتوونکي ورکړي ، خو دی نه پوهیږي ، چې ولې اڅکزۍ ټول ساتوونکي له ځان سره نه وه بیولي ؟
قاطع وویل: چې د پیښې سیمه کلابند ده او دوی هیله مند دي ، چې د پیښې عاملین به ونیول شي.

**د استخباراتي جګړې په وړاندې ورته جګړه په کار ده**

**لیکوال: ایوب سپین غر**

پنجشنبه دریمه د وري هـ ش کال۱۳۹۰

په افغانستان کې د جګړې ددوام یولوی علت د نړیوالو له خوا د دغه هیواد استخباراتي ادارې ته نه پاملرنه اوهغه ته دجاسوسي او پوره ضد جاسوسي فعالیتونودزمینې د نه

برابرولوله کبله دی .په دې وروستیوکې د دولت دمخالفانوله خواترځانمرګو برید و نواود سړک دغاړې تربمي چاودنووروسته ددولتي مامورینو ځنځیري وژنې او ترور هغه پدیده ده چې د کندهار اوسیدونکي یې ترپخوالازیات اند ښمن کړي دي. د ځنځیري وژنو اوتروروپه دغه لړۍ کې د نارینه وو تر څنګ ښځې هم په نښه شوې دي. استخباراتي کړۍ هڅه کوي د وېرې اوترهې په خپرولوسره خلک په ټولنیزو، ادارو کې له دندې ترسره کولوراوګرځوي اودا څرګنده کړي چې خلک له دولت سره د همکارۍ لیوالتیا نه لري .دا هغه برید ونه دي چې د خلکود بیا بیا شکایتونو له کبله لا هم امنیتي ځواکونه او په تیره کشفي اواستخباراتي ادارې د هغه په مهارولوکې پاتې راغلي. دا خبره دا راته وایي چې یا خوزموږ کشفي اواستخباراتي ادارې د خپلو دندوپه وړاندې د پوره مسوولیت احساس نه لري اویا خو په تیرولسو کلونوکې د دغو ځواکونوپه روزنې اوتجهیزکې سمه پاملرنه نه ده شوې. د افغانستان وضعیت ته په پام سره په کارو چې نړیوال مرستندویان زموږد استخباراتي ادارې په سمبالولوکې ډېره مرسته کړې وای او دغې ادارې ته یې په جاسوسي اوضد جاسوسي برخو کې د فعالیت پراخې زمینې مساعدولې. ځکه دطالبانوترماتې نیم کال وروسته د افغانستان دښمنانو ترډېره بریده پراستخباراتي کړنوډېرزورواچاوه چې تراوسه هم دغه تکتیک کاروي.اودافغان ځواکونوترڅنګ بهرني ځواکونه اومهم پوځې مرکزونه یې د دغو فعالیتونوښکارشوي دي .لکه څنګه چې ثابت شوي اود پاکستان په پایتخت کې دالقاعده دمشراسامه بن لادن وژلوهم ثابته کړه، ترهګریز بریدونه له افغانستان نه بهرپلان کیږي نودااړتیا محسوسیږي چې له استخباراتي لوبوسره ورته چلند وشي اوافغان استخباراتي ادارې ته د جاسوسي فعالیت زمینه مساعده شي. داهغه چاره ده چې کولای شي سل په سلوکې دافغانستان دبهرنیودښمنانو،ترهګرواو مخالفانو دبریدونومخنیوی وکړي اوحتی له افغانستان نه بهردداسې مرکزونوپه له منځه وړلوکې ډېرموثرتمام شي،داهغه تجربه ده چې په شپیتمو کلونوکې یې ډېره ښه نتیجه درلوده په کندهارکې دوژنواوسنۍ پیښې هم پرته له شکه هغه هڅې دي چې استخباراتي بڼه لري اوله استخباراتي هڅوپرته دهغه مخنیوی ناممکنه ښکاري .په کندهارکې دتروروپه لومړنیوپیښو کې ددغه ولایت دولایتي شوراغړې ستاره اڅکزۍ، چې د خپلو خلکود خد مت لپاره یې په بهرکې خپل ارام اوهوسا ژوند پرې ښوده؛ د دولت د مخالفانوله خوا ووژل شوه. دې پیښې د کندهاردهغو ښځوپرروحیې ژوراغیزه وکړ چې په دولتي اوغیردولتي موسسو کې یې دندې ترسره کولې. ویل کیږي چې له هغه راهیسې تراوسه یو شمیر فعالو ښځوتردندود کورکنجونه غوره کړي، ځکه د پوره خوندیتوب احساس نه کوي. په کندهار کې یو شمیر ښځې په دې نظردي چې

اوس په دغه ولايت کې شرايط دې ته برابرنه دي چې ښځې دې په ډاډه زړه له کوره بهردندې ترسره کړي.د همدې خد متګاورځپانې په يوه ګڼه کې د زرغونې انا د ښوونځي يوې ښوونکې ورته اندېښنه څرګنده کړې وه. د دې وېرې عمق ته هغه وخت سړی ښه ځيرکيږي چې نوموړې ښوونکې اوګڼو نوروښځود خپلونومونوله افشا کيدوډډه کړې وه. دا ښايي پخپله ښه کې لومړنی رپوټ وي چې له سره ترپايه په کې د امنيتي ستونزوله کبله دچا نوم نه اخستل کيږي .ايا دا به ډېره خواشينونکې نه تماميږي چې وويل شي په دغه ولايت کې يو شمير ښځو ډاکترانوهم خپلې دندې پرې ايښې او په کورکې ناستې دي؟ هغه هم په داسې حال کې چې د کندهار وضعيت هره شيبه ددغوښځوډاکترانوحضورته سخته اړتيا لري .که څه هم د کندهارپه وروستيوغلچکي بريدونو کې هره ورځ ډېرې نارينه دولتي مامورين په نښه کيږي خوموږ ځکه دلته د ښځومامورينو پروژنولږ ډېر تم شو چې ډېری ښځې د ښوونکو او ډاکترانو په توګه دندې ترسره کوي او که دا ډول پيښې زياتې او مخنيوی يې ونه شي، زموږ د هيواد پرتعليمي اوروغتيايي بهيربه ناوړه اغيزه وکړي .اوس چې نړيوال ځواکونه له افغانستان نه دوتلو تابيا کړې،داضرورت ډېراحساسيږي چې د افغانستان استخباراتو ته دجاسوسۍ په برخه کې د فعاليت ډېري زمينې مساعدې شي خوترهغه پورې چې واقعاداکارکيږي زموږاستخباراتوته په کارده چې له اوسنيو امکاناتوپه استفادې د پرديوداستخباراتي هڅومخه ونيسي.که نه په راتلونکي کې به ئې اغيزی تردغه لاهم بدي وی.نن موږپه ډاګه وينوچې دافغانستان داخلي پرابلمونه موترډيرځايه د ګاونډيانود د ښمنانه عمل په وسيله ترسره کيږي.اوهغوی په داخل ګي دافغانستان پټ ځايونه او دترور،جنايت اوبي امنۍ دپاره په دننه دهيوادکي ځايونه لري اوپه ډيره اسانه طريکه منظمه سازمان دهي کوي.اودهيوادهغه دسرکسان اوهغه کسان چي دهيواد په ملی ګټوپوهيږي هم هغه کسان هد ف نيسي اودهمدغه لاری بيره،بې امنيتي،بې ثباتي را منځته کوي.

**ديونامه داداری دخواشنی پيغام**

**خبره دستارې اچکزۍ ده !**

يوناما د آغلې ستارې اچکزۍ د پرون ورځې د بې احسا سه وژنې په هکله چې په کندهارکې يې د خلکو دخد مت کولو لپاره ځان ؤقف کړی وه خواشينې ده. آغلې ستاره يوه زړه وره ښځه وه، نوموړې د کوم ډار نه پرته د هيواد په نا امنه سيمو کې دخپل هيواد لپاره کارکاوه.ددغه بې عاطفې عمل مسوولوکسانودهيواد دريښتينې

ویاړ،دوداودستورپه وړاندې نه درناوي په ډاګه کړ. د داسي ډارن عمل لپاره هیڅ ډول توجیه نه لیدل کیږي.یوناما د کندهارولایت قانون پوه آغلې ستاره اڅکزۍ ناسمه اوعمدي مړینه په کلکه غندي. موږټول په ملګروملتونوکی د دی مړینې له امله خواشیني یاستواوزموږ همد ردي په دی سخت وخت کی دآغلی اڅکزۍ د کورنۍ اود ملګرو سره ده.

**د بشر د حقوقو دڅار اداره دخواشنۍ پیغام**

د لسوډالرومزدورطالب اود افغاني ښځودحقونود بیا پیوستون اومصالحی خطره:

**لـــنډ یـــز:**مونږاوس هم د طالبانوترولکې لاندې یو.اوژوند مو یواځـې د خپلوکورونو تردیوالونو پورې محد ود دی... مونږ کارنه شوکولای. مونږد خپلو خاوندانو څـخه پرته د کورڅـخه بهرد خپلو خپلوانو د لید ولپاره نشووتلای. زما لونـې ښوونځی ته نشي تلاي... مونږ تهد ید کیدلو ځـکه هغوی ښـوونځی پریښـود. نوزه به د یوعادي او سوله ییزژوند د تیریدو څخـه هیلې اوامیدونه ولرم.؟

فاطمه . ن. مرکزي ولایت، ۱۸ فبرورۍ ۲۰۱۰

زه یو ځل بیا په تا باندې غږ کوم چې زما ګـرانه وروره طالب جانه، دا ستا کور دی؛راشه! که ماتیروتنی کـړی وی نو زه ګـرم یم او که ته ګـرم وې بیا تا نه پږ کوم.

**"ولسمشر کرزی، ۲ جون ۲۰۱۰"**

ترټولو لومړی کس له جګړې څخه اغیزمن کیږي. جوته ده چې افغان میرمنې. افغان میرمنې دي چې خپل کورونه اوخپل خاوندان له لاسه ورکوي اوبیا هم همدامیرمنې دي چې کورونوته یوه مړی ډوډۍ راوړي. نوله همدې کبله افغان میرمنې د سولې او بیاپیوستون خلاف ندي، که چیرې په هغه سره سولې اوامنیت راشی، نوولې نه؟ مګـرکه چیرې دولت سوله اوپخلاینه د پردې ترشا کوي... نو بیا به په رښتیا سره هم د میرمنو وضعیت لاخراب شي.

**"سامره حمیدي،**

د افغان میرمنود شبکې اجرائیوي رئیسه، کابل، ۱۴ فبروري ۲۰۱۰"

دادافغان میرمنو لپاره غمجن وختونه دي، هغوي د جګړې او د سولې د هیلو ترمنځ بندې پاتې دي. د افغانستان په ناارامه سیمو کې نجونې او میرمنې ډیرې زیان منونکې دي: داورپکو او هوايي بمباریولخواوژل کیږي اوټپي کیږي،سیمه ییزعزت اوپت یې په هغو یرغلونو کې ترپښو لاندې کیږي کوم چې نړیوال ځواکونه د شپې لخواترسره کوي، ناامني یې د تګ راتګ په وړاندې خنډ جوړکړی اود ډیرو میرمنوخاوندان اوډوډۍ ګټونکي له‌لاسه ورکړي. اورپکو د تل لپاره د میرمنود زده کړې دحقونو څخه انکار کړی دی، په ښوونځیو باندې یرغل کوي او د ښوونکو اوزده کوونکوپه وړاندې دتهد ید څخه کاراخلي. هغوي میرمنو ته دا حق نه ورکوي چې په عادي ډول خپل ژوند تیرکړي، او هغه میرمنې تهد یدوي اوحملې وربانديې کوي کومې چې د کور څخه بهر کارکوي.چې ددې لنډ ه بیلګه مور د کندهاردښاریوه با تجربیه مشره،ملي شخصیت اودهیوادپه لاره کې ډډیروقربانیوبیلګې ئې ستة، هغه خپلو کندهاریانودخپل کورپه شاه وخوا کې ووژل،خبره دستارې اڅکزئ کوم!!. ستاره اڅکزۍ دومره هیوادپاله وه چي خپل سولیزژوند،دجرمني دهیواددټولو حقوقوخاونده،په وتیزلحاظ خپله هم دجایداد خاونده اوهم د جرمني په هیوادکې کاراوپیسې درلودلې،خودهیواددستونزودارامولوپه نیت ئې هیوادته راود نګل اود لته ئې د خیرډیرهغه څه وکړه،چې امکانات ئې درلودله. خلک اودکندهارمشران ددې دبیرته ورتګ څخه خوښ سوه. خودیادولووړده چي دهیواد په دغه نظامي اشغال کي خلک بې واکه وي.اود د فاع توان نه لري.

## د فا تحې خبرتیا

استاد محمد حسن انور اڅکزی ورور،عبدالله اڅکزی،روح الله اڅکزی ،عبدالقاهر اڅکزی ، زمری محقق ، ننګیالی بڅرکی ، محمد داود اڅکزی وریرونه ،دکتورجهانشاه میوند، زلمی میوند ،نومیالی میوند ، پښتون میوند د خورزامن.

انجنیر محمد ظاهر عد ل ، رحمت الله نور ، د کتور محمد داود اڅکزی زوما ن.

دکندهاردولایتي شورادمنشي اوغړې شهید ستاره اڅکزۍ د مړیني له کبله دوستانوته خبرورکول کیږي چي فاتحه یې دا پریل پر ١٩نېټه د یکشنبې په ورځ دما پښین د

د وو (۲) بجوڅخه ترڅلوروبجو پوري د جرمني د ايسن ښار(( دافغانانو په مسجد )) کي اخيستل کيږي.

دوستانوته خبرورکول کيږي : چي د ضرورت په و خت کي پرلاندي پته زموږ سره اړيکي ټينګي کړی .

انا الله وانا اليه را جعون

پته:

HUTTMANN – STR – 92

45143Essen west - altendorf

ټليفون : 00491732612750 00491637414649

هم دغسي دنړۍ په ګوټ،ګوټ کي د خدای بخښلي دفاتحې دوداو دستور تر سره سو.اود نړې په ګوټ ،ګوټ کي د ډ يرومنورينو اوفرهنګی ټولنو دخوا څخه ئې د يا دورځی اود ستارې دژوند پربيلا بيلو برخو باندي غونډي جوړی سوې د ستارې قاتلان وغند ل سوه،ستاره ئې دافغانستان په کچه يوه خد متګاره ،پوهه او دښځو دغورځنګ يوه تکړه مبارزه وبلله ،چي ياد به ئې تل د ښځودغورځنګ دنوم سره تړلی وي.همدغسي دهيوادپه دننه کي په کندهاراوکابل کې هم دفاتحې مراسم تر سره سوه.نودلته دبيان څخه مؤخه داده چي مرګونه خوسته هيڅوک هم بيله مرګه څخه ترابده ژوندنه سي کولای خوښه مرګ هغه مرګ يا مړينه ده چي خلک، هيواد او په خپله کورنۍ اوټولنه کي ديوه ښه نوم سره څوک دهيوادپه لاره کي ديوه ښه نوم سره شهيد سي دغسي مړينه يا وژنه دډيرولږو کسانونسيب کيدای سي.

لکه چي شاعر وائي :

نوم نښا نه دواړه تړلي دي د ژوند
که ژوند ولاړسي جسم سي د قبرکند
د ا د جسم توښه هغه وخت يا د يږي
چی دي نوم کی پسله مرګه چآ بلند

نو دهمدغه اصل پربنسټ هغه کسان چي پسله مړيني څخه يادېږي ښې خاطرې او کارنامې ئې پاته وي،نوهغه ژوندی دی.اونوم ئې ټول وخت دخلکو په يادانبتوکي وي ، چي دهغه دښوکارونوڅخه پاته نسلونه ګټي ترلاسه کولای سي.دهغه چاه په مړينه چي د ښه نوم سره ئې ځان حق ته سپارلی وي،دهغه په نوم دوستان ،کورنۍ اوقوم،هيواداوانسانی ژوند په نازيږي، فخرپه کوي، په دوستۍ اوارېکوباندې ځان درنداحساسوي.ولي!برعکس هغه کسانو چي په ژوند کې محيط اوانساني ټولني ، هيوادته تاوان رسولی وي،دهغه څخه خپل دوستان اوشاه وخوا اړوند خلک ټوله بې زاره وي اوپه ژوند ئې هم په نوم باندی شرميږي اوپه مړينه ئې هم په نوم باندي شرميږي.نود لته دې نتيجې ته موږرسيږوچي پسله مړينی څخه يوازنی شی اوڅه چي پاتيږی هغه دهغه ښه اوبد نوم دی.دغه ښه اوبد نوم په پيسونه را نيول کيږي،په زوراوقوت نه ترلاسه کيږي،په چم اوخطاايستوسره ښه نوم نه سې ترلاسه کولای. يوازی دانسان عملونه اود خلکو صادقانه قضاوت دی، چي ښه اوبد نوم سره جلاکولای سي.موږ په هيوادکی دننه دغسی انسانان لروچي دخپل وخت اوقدرت په وخت کې خلکواوولسونوته تاوانونه رسولی دي.خودځان دپاره ئې البته شتمني په حراموتکتيکونوسره ګټلي ده،هغه دخپل خائين نوم سره ولاړه،خو!په نوم باندې ئې خپلوان شرميږي.خپلوان ئې دخپلوۍ څخه بيزاره دي.لکه دافغانستان جنګسالاران،يا هغه کسان چي دهيوادپه چاروکې بيګانه هيوادونوته دخپل هيوادپرضد جاسوسی کوله اودهمدغه لاري څخه ميلونران هم سوه،خو! ښه نوم ئې ونه ګاټه.

خوزه نن دستارې د خاله زوی اودهغې دوروزوی په صفت په ستارې اڅکزی فخرکوم.ځکه چي ستاره اڅکزی دخپلو شخصي ګټو څخه تيره سوه او دخپل هيوادپه خاطرئې هغه خپله شتمني هم دهيواددخلکوسره شريکه کړه،کوم چی دخپل زيارپه وسيله ئې ګټلې وه.ستارې اڅکزی د معاشرت،تجمل اوښکلا ژوند پريښودی.هغه ترټولو ښايسته ارام دولت جرمنی څخه را ووتل.هغه دسره اور،دنړۍ دجنګ ميدان افغانستان ته په هغه اميداوهيله ورداخله سوه،چی په پای کې ځان هم دهيواددکړيدلو اوغريبوزحمتکښانوپه خاطرشهيد کړ.موږددې شهادت يوهد فمند اوپرځای دهيواد پالنی هغه لوړه روحيه بولو چي دنړۍ په تاريخ کي دغسی قربانۍ خلکواوولسونو ورکړي دي.اودغسي ترسرتيريدل زموږدافغانانوتاريخ جوړوي. زموږ په افغانستان کی دملالۍ ميوندي کيسه يوه عامه کيسه ده،چی دهرافغان په ذهن اودماغ کی ثبت

ده.خوترهغه راوروسته اوترهغه د مخه هم زموږ هیوادقهرمانانی درلود لې او لري ئې.چې دهریوه په نوم تاریخ دافغانستان ویاړکوي،نن دستارې اڅکزئ په باب چې دغه د معاصروخت یو تاریخی داستان او یادونه هم ده،ځکه؛چې زموږراتلونکې نسلونه باید دستارې اڅکزئ دشهادت یادونه په مختلیفو وختونو کی ولیکي.او دهغې شهادت یوه بیلګه ده زموږدهمدغه وخت دتاریخ.چي دابې ګټي هم نه ده.دې په خپل شهادت سره دغه په اثبات ورسول،چی دافغانستان په اوسنی تاریخ کي دنارینو پرڅنګ ښځوهم دهیواد په چاروکی په ډیره میړانه مبارزه کړې ده.

دستارې اڅکزئ مبارزه دهیواد د داخلی اوخارجي دښمنانوتوري ارتجاع ،تیري اوتجا وزپه خاطروه.ستاره اڅکزئ دیوې منورینې کورنئ څخه وه چی د کورنئ هرغړی ئې په جلا،جلا توګه دهیواد د بیا ابادولود پاره مبارزې اوډول، ډول زحمتونه دهیواد د ډ موکراسئ په لاره کي ګاللي او لیدلی دي.اوهمدغسي ئې پرخپلوځانونوقبول کړی دي،دستارې اڅکزئ پلارمحمدانورخان اڅکزی چي هیواد ئې دخارجی دښمنانودانګریزانو داخیرنئ مورې حبیب الله کلکاني (بچه سقاو) څخه دهیوادوالوپه مرسته خلاص کی.اوخپل ځان ئې دشهادت مړینی ته دهیواد او خلکودارمانونوپه خاطرچمتوکی، داکومه ساده خبره هم نه وه،ځکه؛چی حاجی محمد انورخان اڅکزي خپله د ګلیستان خاني پریښودل،دخانئ ترمقام ئې دآزادئ مقام ته برتري ورکړه.اوبیاڅه وخت چي ئې هیواد د خارجی یرغلګروڅخه خلاص کړی ،چی اخیري استازی ئې حبیب الله کلکانی وو.وروسته ترډیرومبارزو،دوخت حکومت وغوښتل چي دی هم نورپه افغانستان کي میشت سي.حاجي محمد انور خان هم قبوله کړه.اوداپه دې خاطرچي دلته ددموکراسئ اودښځودحقوقو په خاطریوه بله مبارزه ئې په مخ کی وه.نوسمدلاسه دویښ زلمیانود ګوند په بنسټ کې ځان شامل کړاودویښ زلمیانود برحقه مبارزې څخه ئې خپل ملاتړاعلان کړ.داپه داسی حال کي چی دوخت حکومت ډیرسخت درناوی وحاجی محمدانورخان اڅکزي ته درلود.اود قومي فرقه مشرئ افتخاري لقب ئې هم دمحمد نادرخان په حکومت کي درلود.ولي؛ دلته ګټي سره په ټکرکی سوې. دوخت حکومت نه غوښته چي نور څوک دی یوابتکارپه هیواد کي ترسره کړي،ځکه چي هرڅه خپله دحکومت او دولت پرسلیقه کیده،نوځکه؛محمدانورخان اڅکزي اودهغوی ملګروته دوخت حکومت په درد یا قهرسو.اوسمدلاسه ئې د ډ موکراسئ په نوم د کابل زندان ته

واستووه.اوهلته ئې په تقريبي ډول پنځه کاله زنداني کړ.همدغسې دستارې اڅکزۍ ورورمحمد علم بڅرکی هم دخپل پلارپرلاره ئې قد م وچت کړ،دډ کوموکراسۍ پلوي ئې دهمدغه ويښ زلميانودګوند ترمشرۍ لاندي اعلان کړه ؛بيله ډاراوبيري ئې دزندان تورى کوټې قبولی کړې.

محمد ظاهرافق : چی دنوم سره ئې دافغانستان ملي اومترقی غورځنګونه ټوله بلديت لري اودافغانستان دسياسي غورځنګونيو پياوړی،سياسي مبارزوو.خپل دژوند ډيره برخه ئې په سياسی مبارزو،ددولت سره دناخوالودهواورلوپرسرپه مخالفت کي را ښکيل سو.نودوخت حکومت هم دی،دخپلوقانوني حقوقوڅخه محروم کړ،په ځوانه ځوانی لزومی تقاعدورکړل سو.چي سخت تکليفونه ئې وګالل.اوپه پای کی دډاکتر نجيب په وخت کي د ګوند د د اخلی مبارزې اوانتقادي نظرپه لرلو سره دوکاله دپلچرخی په سخت زندان کی زندانی سو.



**کاديد اکا ډميسن محمد ظاهر افق**



## په کندهارکي دېښځودغورځنګ روښانه وختونه



### دخدای بخښلي ستارې اڅکزۍ دوخت حالات :

خدای بخښلې شهیده ستاره اڅکزۍ که څه هم د کندهارد لرګو په ګنج بی،بی هوا په کوڅه کې دې نړۍ ته سترګي رڼي کړی دي ، چي دغه د کندهاردښاروالۍ په حساب څلورمه ناحیه کیږي.چي دغه وخت دغه نا حیه د کندهاردښار هغه مرکزي نقطه یا ټکی ګڼل کیږي،په تقریبي توګه ستاره پنځه کلنه به وه چي کورنۍ ئې پنځمي ناحې ته چي هلته حاجی محمدانورخان ډیري مځکي اویو غټ دانګوروباغ هم په اختیارکي درلود.دلته ئې مځکي لاداڅکزوکوڅه داڅکزي توکم دپاره جوړه کړې وه.راغلی، د لرګو ګنج یا بی،بی هواکوڅه،لکه مځکی چي می وویل د ښارپه منځ کې هم پرته وه،خودلته یوه اندازه امنیتي ستونزه هم وه د نجونودتحصیلاتواو وښوونځۍ ته دتګ اوراتګ په خاطر.ځکه هغه وخت دستارې خوندي اود کورنۍ ښځي دحاجی محمد انورخان اڅکزي په غوښتنه چي با ید زده کړه وکړي.اوټولني ته د خد مت وړوګرځي.نودغه سیمه و نجونوته دتګ اوراتګ مسؤن شرایط نه وه. ځکه دښځواو نجونو تګ وښوونځۍ ته تلل یوه نوې پد یده وه.چي دښار خلک هم ورسره اشنا نه وه،نوله همدې سببه حاجی محمد انورخان اڅکزی یوې نوي سیمي (پنځمي ) ناحې ته راکډه سو.نوموړې سیمه دمنزلباغ دجادې ،ده خوجې اوملاعلم اخوند په منځ کې پرته وه.هواره سیمه وه.اودلته ئې خپلوزامنوته جلا،جلا کورونه ورآباد کړه

اویولړنورکورونه ئې د کرائې په خاطردژوند د وتیزچلاوپه خاطرجوړکړه،چې دهمدغه کرایو په وسیله ئې خپل دکورضرورتونه هم بشپړه کول.نودېنځمې ناحې ته دراتګ په سبب دکوڅودکړاونو څخه خلاص هم سوه، ځکه په کوڅوکی دهرډول خطرامکانات موجودوه.ولې دعام سړک پرغاړه دبې امنیتۍ مخه ونیول سوه.نو دښوونځی نجونواوهلکانوبه په پوره زړه خپل ښوونه اوروزنه ترسره کوله. چې همدغه مینه اواعلاقه دښاغلي حاجي محمد انورخان اڅکزي ددې سبب هم سوه، چې زموږ کورنۍ چې په سرکې دحاجی محمد انورخان نوم یادیږي، که نارینه وه اوکه ښځې هغوی ټولودلوړوتحصیلاتوزده کړې وکړې.چې هریوئې دستارې اڅکزی په شمول په ټولنه کې دیوه منورکس په توګه پیژندل کیږي.

دغه وخت چې خدای بخښلي محمد انورخان اڅکزي په ولس کی د ښځودغورځنګ بیرغ وچت کړ،په دې کې هم شک نسته چې دټولنې دراډیکالوکسانودخوا څخه دسخت مقاومت سره هم مخامخ سو.اوپه سیاسي مجلسونو،ټولنیزوغونډوکی به دمرتجیعوملایانواوقومی خانانودخواڅخه ترسیاسی اومذهبي بریدونولاندي را تلی. ځکه هغوی دښځوحقوقوته ژمن نه وه،داکارئې دشریعت اوکلتورخلاف ګاڼه، داوخت نوې ډموکراسي هم هیواد ته داساسي قانون پربنسټ راغلې وه.

خودویلووړده چې دلته هم په سل کې پنځه نوي عام خلک دښځودنهضت سره مخالفه وه،حتادهمدغه ښځودغورځنګ دمخ نیوی دپاره جنګ اومبارزې ته هم چمتووه.

اوتردیکس ملایان اوراډیکال مذهبي مشران سره غونډئ ،غونډئ کیدې.مجلسونه ئې جوړول .اوپه پټه اوښکاره ئې غونډې سره کولې.ترڅود ښځوددغه غورځنګ مخ ونیسي، خودادوخت غوښتنه وه،دنړیوالی ټولني غوښتنه وه،ګاونډي هیوادونو لاترمخه دغه ګام وچت کړی وو.خوپه افغانستان کی دغه نوې پدیده په ځانګړې توګه بیاپه کند هارکي دسختو ستونزوسره هم مخامخ سوه،خوپردغه ټولوستنزو برسیره نوموړی دښځوغورځنګ هم دخپل مقاومت په سبب دبریالیتوب پولوته ورواوښتی.دغه وخت سردارمحمد داودخان صدراعظم ؤ؛چې یوهیوادپاله اودیوه مډرن افغانستان غوښتونکی وو.هغه ډیره مینه دهیوادپه کچه درلودله چې دلته په افغانستان کي دي یونوی تحول دعلم دښځواونارینوپه وسیله رامنځته سي او دښځوآزادی دی دهیوادپه ګوټ،ګوټ کی تأمین کړل سي.داوخت ۱۳۳۵هـ ش کال

وو، چي دسردارمحمد داود د صدارت وختونه وه،دغه وخت کی مترقي حلقې او ټولنی ډیری لږوې اوډیري ضعیفي هم وي، ځکه دیوه پلوه افغانستان وروسته پاته شرایط تیرول،دبله پلوه حکومت هم دخلکو،منورینودتنظیمونو اوسیاسی ګوندنوڅخه ښه نه راتلل.اودهیوادډیرکسان په دغه وخت کی په زندانونو،ترتعقیب اوفشارلاندي ژوند کاوه. دبیلګې په توګه دکندهار دویښ زلمیانو څخه یو تعداد منور ځوانان بندیان سوه، په کابل کي هم دویښ زلمیانو،دوطن دګونداومنورکسان دغباراودکتور محمودی په شمول بندیان وه. دغه وخت دډیموکراسۍ خبري تربل هروخت خورا ډیري هم وې.

په کندهارکي همدغه وخت دښځودآزادۍ څرک خپلي شعاعوی راڅرګندي کړی وي،خوتوره ارتجاع هم کراره نه وه ناسته اواخطارونه،تهدیدونه ئې کوله ،خو چا غوږنه ورباندي نیوه، ځکه زمانې دپرمخ تګ په درشل کی وه.

په کال ۱۳۳۹هـ ش کي په کندهار کی یوه لویه بلوا دکندهارد را ډ یکال ملایانو دخوا څخه وسوه. چی د بلوا په سرکي صالح محمد خان پوپلزی ؤ.بلوا په سرترپایه کندهارکې راپیل سوه خومرکز ئې دهرات دروازه، د کندهاردنجونولومړنۍ ښوونځی زرغونه انا لیسه،دکندهار تاریخي سینما وه.بلو لومړی پرزرغونه انا لیسې سخته حمله وکړه، چی په نتیجه کې دښوونځی مد یره محترمه«عزیزه رشاد »ووهل ،تروریښتانوئې نیولې وه اوپه ښوونځی کې کشول.اوزخمي ئې کړه.عزیزه رشاد دیوې منوري کورنۍ څخه وه،پلاراوورونه ئې هم دهیوادپه چاروکي فعاله او دهیواددلوړېږو چارواکو څخه وه. وروسته بیا پرسینما باندي ورغله اوسینما ته ئې هم اورواچاوه اومد یرد سینما (محمد صادق خان) ئې هم سخت ووهه.اودغه وخت هغه څه چی دغه راډیکال ملایانوغوښته دیوڅوساعته د پاره ئې خرابي وحشت اودښځودغورځنګ ضد کارونه وکړه. دغه وخت نوستاره اڅکزی ممکن د۷یا ۸ کالوپه شاه وخوا کی به وه.اودغه حالت به ئې په خپلو سترګوهم لیدلی وي. بلوا یووحشت په ښارکي خپورکی اوټوله دکانونه وتړل سوه،ځینوخلکود ملایانوسره ډانګونه راواخیستل اودحکومت پرمؤسیسوئې بریدونه وکړه،خوځینوخلکوبیا دهمدغه وحشت پلوي ونه کړه،دغه وخت حکومت ډیرمناسب اووړګامونه دبلوا ګرانو په مقابل کی اوچت کړه.ژرئې دفرقې څخه ټانوکونه راوایستل اوپه ښارکي ځای پرځای کړه، بلوا ګران ئې وتکول اوهغه ملا یان ئې بندیان او اعدام کړه.کوم

چي دشراوبلوا سبب ګرځيدلي وه. دغه وخت په کندهار کي فرقه مشر خان محمد خان ؤ.چي يو نظامي پوه جنرال وو.ژتر ژره ئې دچپاولګرانو مخه هم ونيوله.

دلته مهمه خبره خو داده چي دغه خود بخودی حرکت چي ترشاه ئې د کوم هيواد لاس وهنه نه وه،نوتاثيرئې هم ډيرلږ.وو.دغه وخت دولت خپل استخبارات د بهرنيانوپه وړاندي په ځانګړيې توګه د پاکستان په وړاندی ډيرښه سمبال کړی وه. نوځکه بلو يوازې ديوڅوساعتو په زماني مقطعه کي خونڅا اوپايته ورسيدل.دهغه څخه وروسته خلک بازارونوته راووتل او دوکانونه ئې بيرته خلاص کړه،که څه هم يووهم يا ډارپرتيرسو.خو! پردولت ئې باوردرلوداوبلواپه عاموخلکوکي هم بدنامه سوه. خو! ځينو شاعرانواوراډيکالومذهبی خلکوبيا هغه کسان چي بلوائې کوله دهغوی ستاينه ئې په خپلو شعروکي داسي کوله :

**صالح محمد خان ويل تربرو**

**ملا مو ما ته سه د سپؤ**

**ماينې مو په لاس ورکړې**

**هر سهارئې رقصوي**

**ډيرافسوس ارمان را ځي**

دغه غزله زما نورنه ده زده،خودومره مي يو بيت ذهن ته راغلی.اودبلوا کيسي ئې زما په ياددي. ځکه زماخورېريښنا بځرکې هم په دغه وخت کي په زرغونه انا ليسه کي زده کونکې وه.اودهمدغه غمناکه صحنوشاهده وه،ښه ئې بيرولې وه. اودغه وخت دزرغونې انا نجونې بيا د يرژرد حکومتي ځواکونواوعسکروپه وسيله نجات پيداکی.اوزموږد کورنجونی ئې په حکومتي موټرانوکی ترکوره را ورسولې ، چی همدغسي ټولي دښارنجوني کوروته سلامتي راغلې.

زه دغه وخت ممکن دينځوياشپږوکالو هلک وم،خوښوونځی ته لانه وم شامل سوی.ما چی دغه وخت دسړک دغاړې عام خلک وليدل،چي هری خواته په ځغاسته وه،ټوله بيريدلی غوندي معلوميده،چپه چپتياوه.خلکووه يوې خوااوبلي خواته ځغستل، ټکان دتوپکواودمرميوشرنګس هم دليری څخه اوريدل کيده.مشرانو به ويل چی دباندی مه وزی.دغه ټوله حالات پرټوله ښارحاکم وه،دکورنی غړي چي ددندودپاره وتلی

وه،دهغوی تشویش هم موجودوو.چي بیرته کوروته بې ستونزوراسي.ځکه دغه دخپل وخت نوې پیښه وه،هیچاه هم دغسي حالات په کندهارکی نه وه لیدلي.ولی دښار څخه دباندی دزمینداورپه ولسوالی کي چي د کندهارمشهوره ولسوالي ده هلته هم په ۱۳۱۸هـ ش کال کی یوه لویه بلوادمکتبویا ښوونځی پرضدوسوه.چي خلکوښوونځی نه پریښودله اودحکومت سره ئې مقاومت کاوه. خو هغه هم لویه کیسه وه،خو دقومی مشرانو په ذریعه هغه هم ډیرژر ختمه سوه.چی دقومی مشرانو په لړکې زما نیکه حاجی محمدانورخان اڅکزی دستارئ اڅکزئ پلاردحکومت دخوا څخه دمشر په حیث ورولیږل سو..قوم حاجی محمدانورخان اڅکزي ته داحترام په خاطردبلواکولو څخه ډه ډه وکړه.چی دغه دزمینداورجنګ اوبلوا هم دکندهارپه تاریخ کي یوه لویه پیښه وه. دلته دیادولووړبولم چی یادونه وکړم:دغه وخت دافغانستان په دننه کي یومتمرکزمضبوط یا ټینګ حکومت موجودوو.نوځکه دغه پیښوډیرتاثیرات ونه ښندل.

تردې وروسته بیا حکومت د ضبط حوالات یااستخباراتوپرلاس هغه کسان چي دبلوا کول فکراوستاینه به ئې کوله یو،یوونیول.اوبندیانول به ئې.نوځکه دزمینداوراو دکندهاردښار بلوا ګاني په بیخ اوریښه کي د منځه ولاړې.او هیچاه هم بیا دغه جرئت نه سوای کولای چي دښځودغورځنګ مخه دی ونیسي.حتا تردغه وروسته چارواکوبه دولتی جشنونواورسمي ملی ورځوته دځانونوسره میرمنی هم راوستلې. دغه کلونه هغه لومړی کلونه وه چي ستاره اڅکزی به دغه وخت کي دښځواونجونو دمخکښه نجونوپه قطارکي ښوونځی ته تللې اوراتللې.په دې وخت کي خو درا ډیکال مذهبي ملایانواوځینومذهبی مشرانو په وسه نورڅه نه کیدله اوحکومت سخت ورته متوجه وو.هرچاه که به دښځودغورځنګ مخه نیوله اویا هم به دحکومت په مخالفت کي دفیوډالي فکر،خیال په خاطر دحکومت خنډ کیده نوهغه به ئې بیا بندي کاوه. نو دغه وخت به دغه مذهبي مشرانودکوچنیانواوماشومانوپه خوله کي دغه بیت ور کاوه اوورته ویل به ئې: (که مو لڅ مخې ښځه ولیدل نودغه نارې ورپسي وهی):

**هغه ده ګاډئ راغله ــ مسته فرنګئ راغله**

دغه نارې خپلومشرانوورزده کړی وه،خوخپله مشران هم په پټه تخریب کاوه، کوچنیان څنګه چی ترقانون نه لاندی کیده نوحکومت هم نه بند یان کوله،خودهیواد ارتجاعي راډیکال خلک ئې دبلوااوفزیکي عملونوڅخه منعه کړه.

دستارې اڅکزی همدغه لومړني وختونه وه دښوونی اوروزني،چي پیل ئې په بلواوسره راپیل سو.خودستارې کورنۍ دغه ټوله ستونزی اوکړاونه وزغمل، خو!توان اوطاقت ئې دتوری ارتجاع په مقابل کي وساتی.او توره ارتجاع هم نا کامه سوه.اوهم دزمانې دتغیراتو سره سم هغه کسانو چي ښوونځی ته ئې دنجونو لیږل بد ګڼل په وروسته کې خپل اولادونه نجونی او هلکان ښوونځی ته ور داخل کړه.



په عکس کي محمد علم بڅرکی او ستاره اڅکزۍ دهالینډ دفیننډال په ښارکي دننکیالي بڅرکي په کور کې

## داساسی قانون څخه وروسته دستارې اڅکزی کړني

په افغانستان کي اساسی قانو په ۱۳۴۲ هـ ش کال کي نافذ کړل سو.اوپه قانونی اورسمي توګه دښځوحقونوته دکاراوفعالیت اجازه په قانون کي ورکړل سوه.او هغه کسان چی مشروطه حکومت ئې غوښتی،دویښ زلمیانومبارزین اوهمدغسي دوطن دګوندهغه کسان چي په هیواد کې چپ نظریات درلودله،دقانونی اساسی دراوتلوڅخه وروسته دزندانونوڅخه خوشی کړل سوه.اوپه هیوادکي ډموکراسي خپل شکل اوډول

راڅرګند کی.ګوندونه رامنځته سوه.دبیان آزادی ترډیره ځایه وساتل سوه اوخلکوپه ډاګه سیاسي فعالیتونه کول،دهیوادناخوالی په هربرخه کي په ډاګه اوښکاره ډول د مظاهرو،میټینګونودلاري په عمومی بازارونواودښووني اوروزني په مرکزونو لکه : پوهنتونونو،ښوونځی کي رامنځته سوه.چپ ملي اوډموکراتیک ګوندونه جوړسوه. هم دغسي را ډیکال مذهبي ګوندونوهم په خرپ سره خپلي مبارزې کولې اواسلامی ګوندونه ئې جوړکړه،په قانون کي دشاهي حکومت، اسلام او دهیواد دملي ګټوپرضد هرډول فعالیت بندوو.خونوریې د حکومت په برخه کي انتقادونه ډیرپراخ اوآزاد وه.دحکومت په رأس کی صدراعظم یا دوزیرانودشورااریس شتؤن درلود.اوپر حکومت اوصدراعظم انتقاد کول یوه معمولي اوقانوني خبره وه.چي په دې باب یوه مشهوره کیسه هم موجوده وه.کیسه داسي وه.

وایي: دمحمد هاشم میوندوال وخت وو، په پوهنتون کي ددریمی دعقرب دپیښي پر سرپراخی مظاهرې په ښوونځیواوپوهنتونونوکي روانی وې،چي دپوهنتون ساحه اودولت ئې نا ارامه کړی وو. نودغه وخت خدای بخښلی صدراعظم محمد هاشم میوندوال دپوهنتون وسا حې ته ورغلی اودپوهنتون دزده کونکو سره ئې په دې باب ولیدل چي مظاهرې مه،کوی خپل درسونه وواياست وخت مه ضایع کوی حکومت ستاسو ټولوستونزوته مثبت جواب وایی.هغه غوښتنی چي تاسوئې لری که دوخت دحکومت په توان کی وي هغه به خامخا درسره ومني.حکومت ستاسو په دغه ډول حرکتونوناراضه دی،تاسوددرس وخت په مظاهروسره تیره وی. تاسو خپل لیکلی لیک دخپلوغوښتنوسره را کړی موږ به غورپروکړو.دوخت دصدراعظم نیکي هیلي وې دزده کونکو سره چی دیوه مشرپه حیث دزده کونکوسره مرسته وکړی او دخپلو زده کړومخؤته ئې توجووراړوي.خو! په دې وخت کي یو احساستي ځوان ښاغلی میوندوال دوخت صدراعظم ترنیکټائي ټینګ ونیوه.اوپه زور،زوره ئې چیغي وهلې ... موږ ډموکراسي غواړو،موږډ موکراسي غواړو...

خدای بخښلي میوندوال صدراعظم ورته وویل : تردغه لویه ډموکراسی ته ماته په ټوله نړئ کي راوښیه چي یوساده زده کونکی دی دوخت صدراعظم ترنیکټائي ونیسي اوډموکراسي دي ځینی وغواړي.تردغه لویه ډموکراسی بل چیري سته او هیله ئې ځینی وکړه چي نیکټائي ایله کړه. دخبرولاره خپله کړه.په هرصورت.

صدرا عظم هغه قوت وو، چي تر شاه ئې دداخلې وزارت ټوله پوليس ولاړوه،ترشاه ئې ددفاع وزارت ټوله قولي اردوګاني ولاړی وې. خوميوندوال دومره ډموکراټ څوک وو،چي هيڅ ئې هم دغه ځوان محصيل ته ونه ويل. او خپله دنژدوڅخه ودې مظاهروته راغلی وو.کنه! ده خودکولای سوچي پوليس اوامنيتي قوتونه ورته را وليږي.اوځواب په تشد د سره ورکړي.خوداکار محمد هاشم ميوندوال نه کوی.

په دغه کلونوکي ستاره اڅکزی لومړی دزرغونې اناپه ليسه کي ددغوټولو نهضتونوشاهده وه.اوپه همدغه وخت کې دخلکو دحقه حقوقوڅخه دزده کونکو په منځ کي دفاع کوله.لومړی خوپه کندهارکی څه وخت چي دخلکوغوښتنه وه دهغه څخه به ئې سخت ملاتړ کاوه.او يوه سياسی فعاله وه.که څه هم خپله په سياسي لحاظ ديوه ګوندغړې هم نه وه،خوپه هغه مبارزوکې چي به دخلکواودکندهاردولسونوګټې وې په هغه مظاهروکی به ئې ديوې فعالي نجلۍ په حيث برخه اخيسته دبيلګې په توګه : څه وخت چي په کندهارکي بوره ګرانه سوه اودخلکو شکايتونه اوستونزي دبورې په ګرانيدوسره ډيري سوې نودغه وخت ځينوسياسی ګوندونودخلکو.غږ دمظاهروپه کچه پورته کی،ستارې اڅکزی په دغه مظاهره کي فعاله برخه دزرغوني انا دليسي دنجونو په څنګ کی درلودله اودليسې نجونې ودې ته هڅولې چي په هيوادکي دخلکو دګټوددفاع په خاطرپه مظاهره کي ګډون وکړي.دغه مظاهره په کندهار کي دخدای بخښلي ظاهرافق دخواڅخه سازماندهي سوې وه،چي دغه وخت دخلک دموکراټيک ګونددمرکزی کميټې غړی هم وو.اوخدای بخښلی ظاهرافق دخدای بخښلي ستارې اڅکزئ وراره کيده.

نومورې مظاهرې په کندهارکي ډيري اغيزي وښندلې.اوحکومت دوخت ودې ته اړايستل سوچي پربوره باندی سبسدي قبوله کړي.اوبوره ئې ارزانه کړه، چی دغه مظاهرې ډيره ښه نتيجه هم ورکړه.

زما ستاره په همدغه مظاهره کی پيادده چي دزرغونی انا دليسې څخه ئې دخپلو نورونجونو په ګډون مظاهره دارک وخواته راهبري کړه. اودادي هم پټه پاته نه وي چي خدای بخښلې ستاره اڅکزی د کوم ګوند سره تړلې نه وه.اونه په يوه سياسي غورځنګ ياګوند کې شموليت يا عضويت درلود.ولي دهغې مترقي اوچپ افکاردډې سبب سوه چي دهيواددروښانتيا دپاره دي هرهغه څوک چي دهيواد دابادولوخيال او

فکرئې په عمل اوتیوری کي درلود، دهغوی ملاتړئې کاوه.ستارې اڅکزی دغه وخت دکندهارپه سیاسي مبارزوکې هم ترګوندی خلکوپه فعالیت کي څه کمه نه وه.

خو دخپل تحصیل اوزده کړي په میدان کي هم دښوونځی په دوران کي تردولسم ټولګی پوري چي دزرغوني انا په لیسه کې زده کړي ترسره کړې په ټولګۍ کي دلايقو نجونوپه قطارکي وه.ترهغه وروسته چې دلیسې زده کړي ئې خلاصي کړې نوبیا ئې د معمول سره سم ئې دکانکورازموینه هم ورکړه، چي دازموینی نتیجه ئې بریالۍ وښودل سوه.اودخپلی خوښي سره سم ئې دتاریخ اوجغرافیې څانګي ته بریالی سوه.دغه وخت دکانکورازموینه څه اسانه هم نه وه. ډیرلږکسان پوهنتون ته برالي کیدای سوای.اواکثریت زده کونکی نا کامه کیده.چی په تقریبي ډول اویا (۷۰) فیصده نا کامه کیده.اودیرش فیصده امکان د کامیابۍ وو.ستاره اڅکزی په هغه دیرش فیصده کي دکامیابۍ چانس ترلاسه کړی وو.هغه ولي دټولنیزوعلومودتاریخ اوجغرافیې څانګه انتخاب کړه ؟ . هغه په دې چي دې دښووني اوروزني سره مینه درلودله او غوښتل ئې چي پسله لوړوتحصیلاتودهیوادبچیان دهیوادپالني په روحیه سره وروزي،نوځکه ئې دتاریخ اودهیوادجغرافیې سره هم مینه درلودله.هغه ته دخپل هیواد تاریخ او سوسیولوژي ډیره ښه ورمعلومه وه. ستارې اڅکزی دپوهنتون څلور کلنه دوره هم په ډیره ښه بریالۍ ډول سره تیره کړه. اوخپل ډیپلوم ئې دکابل پوهنتون څخه ترلاسه کړ. چي دژوند یو بل عملی ډ ګرته را داخله سوه. دغه وخت دنورو وختونو څخه په زماني او فکري لحاظ یوه اندازه بیل وخت وو. چی دیوه طرفه په ټولنه کي دتحولاتواوسیاسي فکرمفکوره ډیره اوچته وه.او دایډیالوژۍ پرسرمبارزې په شد ت سره رواني وې.حکومتونو هم دنړۍ سره دسیالۍ پر بنسټ دډموکراسۍ نوی ګامونه وچتول، ځوانان دهیوادپه مختلیفو برخوکې دسیاست ومیدان ته را داخلیدل.بحثونه به دحکومت پرکړنلارواودراتلونکی دپاره دخلکو په خوښه حکومتونه جوړول، پرسیاسي اقتصاد بحثونه اودځوانانو دروزلو دپاره خبری اتري هم دخلکودمجلسونومؤخه وه او هم دخپرونواورسانیو دلاري دعامه پوهنی په خاطر تبلغات او خپرونی کیدې.حکومت هم کوښښ کاوه چی دغه ډموکراسي دحکومت ترچترلاندی وساتي.دغه وخت په هیواد کي دلیبرالانو ګوندونه،دډموکراټانوګوندونه او هم مذهبی ګوندونه دهیوادپه روښان فکرانواوعلمي ځایونوکی لکه ښوونځیو، پو

هنتونونه ،حتارستورانونو کې هم دخلکو اومنورينو ډلی به دسیاست پرمیدان دبحث دپاره ناست وو.چي دغه وخت ستاره هم دیوه مترقي فکرخاونده وه.



**په پورته عکس کي ډاکترډريزه،ستاره اڅکزۍ اوزمرى محقق ليدل کيږي**

اوپه دغه نوی پړاوکي ستاره اڅکزی په کندهارکي لومړی دښوونی اوروزني په برخه کي وګمارل سوه.اوپه دغه وخت کې په زرهاوزده کونکې په ملي روحيه سره تر بيه اووروزل.لکه مخکي چی يادونه وسوه،دغه وخت يوبل وخت وو، ځکه چی دپاچاه محمد ظاهرخان شاهي دوره په جمهوري نظام سره واوښتل اودظاهرشاه داکازوی محمد داودخان ديوې سپيني کودتا له مخي په ډيره ارامه فضأ کي دسلطنت واک ترلاسه کړ.په افغانستان کي دلومړي ځل دپاره د جمهوريت ږغ ترافغانانو پوري ورسيدی.

سردارمحمدداودخان دخپل وخت اودشاهي کورنۍ ترټولوانقلابي اودهيواد دابادو لوپه چاروکي ګړندی ګامونه اخيستي دي.اوليواله وچي داهيواد دنړۍ دنوروهيوادو سره سيال يومترقي اوپرمخ تللی افغانستان ځينی جوړکړي. محمد داودخان په خپل وخت کی ډير سترکارونه ترسره کړه .چي دهغوکارونوپه لړکي دصدارت په دوران کې ياپه ۱۳۳۵هـ ش کال کي اوبيا دخپل جمهوريت په دوران کې يعني ۱۳۵۲هـ ش کال کې دښځوو غورځنګ ته ځانګړې پاملرنه کړې ده.اوډيرځوانان اونجونی ئې و علم،پوهي اوتدريسي نړۍ ته تشويق کړي دي.اوپه دې برخه کې عملي ګامونه

اخیستي دي. نوبده به نوي چي یوه لنده رڼا دده پردواړووختونوباندی واچوؤ.داځکه چی زموږ په معاصروخت کی دغه دورې یو ځانګړی ارزښت لري.



**دسردار محمد داود د صدارت دوخت مهمي پیښي**

سردارمحمد داودچي دشلمي پیړۍ په درشل کې په هیواد کي لوړپوستونه دمحمد ظاهرخان په واکدارۍ کي ترسره کړي دي.اودهمدغه پیریازمانې دستروخدمتګارا نوله جملې څخه شمیرل کیږي. په ۱۹۵۳م کال کي دسپتمبر پرشپږمي نیټې دکابینې په جوړیدوبریالی سو.هغه دډیموکراسۍ دلاري پلوی اوافغانستان ته دخد مت سخت لیواله وو.

په ۱۹۵۵م کال کي دادم انسلاک یا نه پیوستون په غونډه کې چي په باندونګ کي جوړه سوه افغانستان یې فعاله غړی سو.په دغه کنفرانس کي محمد نعیم خان دافغانستان نما ینده ګي کوله .

په ۱۹۵۹م کال کي محمد داودخان دښځوغورځنګ را پیل کړ ،اولومړۍ ښځه چي لڅ مخ وغازي سټډ یوم ته راووتل هغه میرمن زینب وه ،د سردار محمد داودخان ماند ینه.اودلڅ مخۍ غورځنګ هم دهمدغه ځایه پیل سوی دی.څه وخت چي محمد داودخان دحکومت پایي ټنګي سوې نو یې په ټینګه دښځوښوونیزبهیرته وده یا پرمخ تګ ورکړ.اوپه دې وخت کي ډیري نجوني ښوونځیواوپوهنتونوته ولیږل سوې،د نجونومکتبونه اولیسې جوړي سوې. اوپه نتیجه کې پوهي ښځي هم پیدا سوې.ډیري ښځي،پیغلي خارج ته دلوړوزده کړودپاره هم وا ستول سوې،چي وروسته ترلوړو تحصیلاتوپه لوړومقامونوکي وګمارل سوې.دنسوان یا ښځومؤسیسې هم په دغه

وخت کي په کارپیل وکړ،هغوی د ښځودحقوقوڅخه ملاتړکاوه.چي ارزښتمندي ښځي يې دادي لکه:رایه ابوبکر،صالحه فاروق اعتمادي،کبرانورزی،حمیرا نورزی، نفیسه شائق مبارز،معصومه عصمتي وردګ،حمیرا افغانزاده بلقیس لعلي او علیه پوپل؛چي نومړي دلومړۍ کرښي پوهي ښځي وې .چي په دولت کي هم فعاله وې.دوی په دې وخت کي دمیرمن په نوم یوه مجله هم درلودله .وروسته تر هغه چي میرمن زینب غازي سټډ یوم ته لڅ مخ راووتل بیایې د نورو لوړ پړو چاروکو څخه هم غوښتنه وکړه چي دحکومت سره دي دښځو په غورځنګ کي مرسته وکړي .د محمد داود خا ن د صدارت په وخت کې د ښځو دپاره وړکتونونه اودښځودپاره دکارښه ضمینه برابره سوه.

که دغه دوې دورې دښاغلي محمد داودخان دواک په نظرکي ونیسو یعني : د۱۳۳۵هـ ش څخه بیا تر ۱۳۵۷هـ ش چی وروسته دخلقیانوناکامه انقلاب یا اړدوړرامنځته سو.په دغه وخت کي دستارې اڅکزۍ دکوچنیوالي اودځوانۍ پیراودوران وو،هغه په دغه منوره دوره کي دې دنیاته راغلې اوپه همدغه دوره کې زده کړي ترسره کړي دي.دغه وخت دافغانستان پاچاه خدای بخښلی اعلیحضرت محمد ظاهرشاه هم یومنوراوترقی غوښتونکی پاچاه وو.چي په منځنۍ آسیا کي ترده بل منورپاچاه هم نه دی تیرسوی.اوهغه دخپل دغه لنډوخت په موده کی ډیرکارونه ترسره کړه.دغه دوره په افغانستان کي درنسانس دوره بلل کیدای سي.

ستارې اڅکزی په دغه وخت کي ابتدائیه،لیسه اوپوهنتون خلاص کړ.او دنده ئې دښوونکي څخه را پیل کړه بیا دکندهاردمیرمنو دټولنی مشره وټاکل سوه.هغه برسیره پردې چي دکندهاردلوړپوړوچارواکودجملې څخه وه.خوډیرساده ژوندئې درلود. ډیري کورنۍ ښځي ئې زده کړی ته تشویق کوله.او دهغوی کورته به دښځودتنویرپه خاطرورتلله.دښځودپاره ئې دلاسي کارونوزمینه برابره کړه.دکندهارښځوهم دا داسي بلل لکه دهرچا چي یا خوروي او یا ئې دکورنۍ غړې وي.اوټولو ددې په شناخت وياړکاوه.ستاره اڅکزۍ نه یوازي په دولتی یا حکومتی ساحه کي ډیره فعاله وه .بلکي؛ هغه په دباندی کي هم تررسمي ساحې لیدني اوکتني ډیري درلودلې.اود کندهاردښځواوکورنیوحال اواحوال به ئې اخیستی،دضرورت په وخت کي به ئې ستونزي ورسره هوارولې.اودغه علت وو،چی دکندهارخلکو ودې ته دمیره مخی پیغلي لقب ورکړی ؤ.

خو ديوه لنډوخت وروسته بيا ستاره اڅکزی د ضرورت له مخي دعينودليسې مشره يا مديره وټاکل سوه.داځکه چي دعينو ليسه دکندهار دښځوهغه دوهمه ليسه وه،چی پسله زرغوني اناليسې څخه دکندهاردښاردارګ په سيمه کې جوړه سوه.دلته برسيره پردې چي دعينودليسې د مد يريت يا اداري مسؤليت ئې په ډيره ښه توګه ترسره کی خوزده کونکو ته ئې درس هم ويلی.يعنی په ځينو لوړوټولګيوکي به ئې د رسی ساعتونه هم درلود له.

هغه په همدغه برخه کي هم يوه وتلې ښوونکې اواداري پوهه کارمنده وه.په ليسه کې ډيرښه نظم اوډسپلين موجودوو.خپله رياست دښوونی او روزني ځينی خوشحاله ؤ.د زده کونکواودهغوی د کورنيو سره ئې ددوستئ ټينګي اړيکی ساتلې.اوپه دې برخه کی په وارو،واروستايل سوې هم ده. دهغه وخت دنجونودپاره ئې دسپورټ لوبي لکه:باسکيټبال،ولی بال اوداسی نوررولوبودپاره ئې په زړه پوري زمينه برابره کړې هم وه. کله، ناکله به ئې دنورو ښوونځيوسره سپورتی مسابقې هم کولې.

دسردارمحمد داود خان د جمهوريت په دغه لنډ وخت کي دښځوپه ژوند کی هم ډيرتغيرات احساسيدل،ورځ تربلی په کندهارکي دښځونهضت دغنی کيدو په حالت کی وو.نسبت هغه وخت ته چی دښځودلڅ مخی سره يوډول تضاد دخلکوځرګند وو.اوستارې غوندی نجونواوپيغلوپه دې لړکي ډيری ستونزی وګاللې،لکه مخکی چي موپردې بحث وکی؛چي خلک دبلواترحده دښځودغورځنګ مخالفت کاوه.اودغه ارتجاعي کړنی ته ئې بيادمذهب سره اړيکي ورکولې.ترڅودخلکوتحريک،را وپاروي.ليکن په دې باب په لومړي سرکي دستارې کورنئ نارينواوښځوددغه ډول ارتجاعي کړنوپه مقابل کي سخته مبارزه وکړه،ترڅوپه کندهارکې ښځي راويښي کړې اوخلک ئې هم رابيداره کړه.نوپه وروسته کې دښځودغورځنګ تعداد دومره ډيرسو، چي په ښارکي اکثريت ته نژدې سوه. خولا بشپړه اکثريت نه وو.چی په دې لړکي دستارې اڅکزی سياسي اوټولنيزی مبارزې دستايني وړدي.اودکندهار دښوونی اوروزنی وبرخي ته په ځانګړې توګه ډيرخد مت وکړ.اودسختو کړاونووروسته ئې دښځونهضت په کندهارکي دبرياليتوب وپولوته ورنژدې کړ. په کندهارکې په تاريخی لحاظ هم دسياسی غورځنګونوتاريخ روښانه دی.اودانګريزی سياست پوهه استوارټ الفيسټون په خبره کندهارپه افغانستان کی دغورځنګونو مرکزدی،هرهغه نهضت ياغورځنګ چی دکندهارڅخه راولاړسوی وي،دهغه

ریښي ټوله هیوادافغانستان اولراوبرپښتنوته وررسیدلی دی.او په پای کي دبریالیتوب وپولوته رسید لی دی.

نودلته ځکه دا خبره دیادولو وړبولم چي په کندهارکي دښځو نهضت دومره اوچت سو، چي حتا په کابل کي هم تردغه په لوړه کچه نه وو.دبیلګې په توګه:دغه وخت دښځومینه اوعلاقه دمطبعاتوسره،دلیکوالانو ښځووشاعرانووچتي اوعلمی مقالې اوشعرونه دکندهارپه طلوع افغان کي ،دښځواو نجونو مقرري په رسمي د فترونوکي د نارینوپه څنګ کي کارکول،همدغسي دنجونواوښځوتګ اورا تګ پربایسکله باندی بازاراود کاروساحې ته یوه ډیره پرمختللې پدیده یا پیښه وه. چی دافغانستان په کچه په بل هیڅ ولایت کي دومره ښځود بایسکل څخه ګټه نه اخیستل،لکه په کندهارکي. چی دې کاردښځوپه ژوند کي خورا ډیربدلون راوستی،ځکه په ډیره اسانتیاسره خپلوکاراواضرورتونوته پربایسکل باندي تلل اورا تلل.دبایسکل چلول دغه اسانتیاهم را منځته کړه، چی پروخت او ژرخپلو کارونوته رسید ګي وکړای سي. داځکه چي په کندهارکی دښاري سرویسانو پروسه ډیره ضعیفه حتا په نه څه کي حساب وه. دغه وخت به یوډیرلږد ګوتو په شمارسرویسان په ډیرځنډ دیوې سیمي څخه وبلي سیمي ته تګ اوراتګ کاوه.ځکه دلته وتیزه یا اقتصادی ستونزه پرته وه .سرویس موټربه په یوه سیمه کي ولاړوو،ترهغو چي به موټر بشپړه ډک سونوبه ئې حرکت کاوه.دسرویس مسؤلینود چاه د کارغم نه خواړه،هغوی د خپل موټرد ډ ک کید وپه غم کي وه.اودخپلو پیسوپه غم کي وه. نو په داسي بد حالت کی چي دیوې خوا څخه موټرسرویس خپل وخت نه درلود اودبله پلوه دومره به موټرډک سو،چي سواریانوته به ډیرستونزمند کاروو،چی ترخپله هد فه یا مؤخو پوري ورسیږي.نارینوخوبیله مشکیله بایسکلان چلولای سو.اودبایسکلانوتعداد هم په بشپړه پیمانه سره هم ؤ.خو دښځوبایسکلان خورالږوه.اوضرورت ئې د یروو.نوپه دغه وخت کي تجارانوهم ودې ټکی ته پاملرنه وکړه،ترڅودښځوبایسکلان هم هیوادته راداخل یاوارید کړي.چي په دې کارسره ئې دیوه پلوه دښځو اونجونودبایسکل چلولودپروسې اوغورځنګ سره مرسته وکړه او دبله پلوه بیا دتجارت دپاره هم ګټوره اقتصادي ګټه سوه.

دغه پروسه په کراکرادپرمختګ په حالت کی وه. کندهاریوځل بیا په ملي سطحه دخپلو منورینو،زړه وروولسونونراوښځوپه مرسته دفیوډالی رژیم و ناخوالوته دپای

ټکی ایښونکی وو.که څه هم دراډیکالوملایانواوځینوملکانواوخانانودخوا څخه په دې پروسه کی سخت مزاحمتونه اوستونزی پرتې وې.خوبرسیره پردې دیوه پلوه نړیوال جیوفولوتیک شرایط دنوی غورځنګونوپه ملا تړاو دفاع کی ولاړوه. دبله پلوه په داخل کې دخارجی اجنټانوشتؤن هم یا نه ؤ،یا هم په نه څه کی حساب وو.نو دغه وخت وتعلیم اوتربیې ته تربل هروخت ډیره توجوکیدله.دلته ځینوکورنیو دښځودغورځنګ سره په مرسته کې سخت لیواله اومینه وال وه اوپه دې لاره کې عملي ګامونه هم واخیستل.چی یوهم ددغه کورنیوڅخه دخدای بخښلی محمد حلیم سلیمي کورنۍ اودهغه خدای بخښلې میرمن (نفیسه) وه.دغه وخت دې مبارزینوپرځان باندې دولس،قوم اوکورنۍ انتقادونه منلي وه.خو! بیا ئې هم ترهرڅه وآزادۍ،اودکندهار په ولایت کې دښځووغورځنګ ته ډیرارزښت ورکړ.اوپه عملي میدان کې دتاریک فکروذهنونه ورروښانه کړه.اوخپل هوډ ئې دپیروزۍ ترسرحده ورسوی.



**خدای بخښلی محمد حلیم سلیمي صاحب**

## محمد حلیم سلیمي او دهغه دکورنۍ لاسته را وړني :

داخبره هم دیادولووړبولم چې د کندهارد ښځوپه ملي غورځنګ کې دښاغلي محمدحلیم سلیمي صاحب کورنی اودهغې میرمني هم ستري قربانۍ ورکړي دي.اودمبارزوپه ډګرکې دافغانستان په ټولوملي،سیاسي مسئلوکې دقدرووړونډه

اخیستې ده.خدای بخښلی محمد حلیم سلیمي دافغانستان په تیربیادکندهاردپاره یوغنیمت اودهیوادملی منافعوته ژمند انسان وو.ښاغلی سلیمي صاحب دنامتوپوهه لعل محمدخان الکوزی زوی وو.خدای بخښلي سلیمي دافغانستان دټولوولسونو اوخلکووعقیدوته سخت درناوی یا احترام درلود،ښاغلي سلیمي صاحب په کندهاراوکابل کي یوډیرپه زړه پوری رستورانتونه جوړکړی وو.چي بیله مذهبي تعصب څخه مسلمانانواوهندوانو،مسافروعیسویانواودنورومذهبونوخلکوهم ګټه ترینه اخیستلای سوای.داپه دې چي،په افغانستان کی هندوانې اوسیکهان هم ژوندکوي.اودخپلومذهبی اوکلتوري حقوقوحقداره وه.نوځکه دروژې په میاشت کی به ئې دسلیمی صاحب رستورانت دهندوانواوسیکهانوپه خد مت کي وو.اوهغه مسافرتوریستان چی به راتلل هغوی به هم دخپل مسافرت په وخت کي ګټه ځیني اخیستل. همدغسي نورو د ضرورت لرونکو خلکوبه هم ګټه ځینی اخیستل.

خدای بخښلی محمد حلیم سلیمي دکابل په نوی ښارکي هم یورستورانت دښاری غلغولې په نوم سره درلودچي بشپړه شهرت ئې درلود.په ډ یر لرغونی ډول نوموړی رستورانت جوړسوی وو.چی دخارجیانواوتوریستانودپاره په زړه پوری وو. همدغسي هغه وخت چي پر هیوادباندي بد شرایط راغلل خدای بخښلی سلیمي صاحب دخپلي کورنۍ سره امریکا ته ولاړی.اوهلته ئې هم یومسجد دمسلمانانو دسهولت دپاره جوړ کړ.

ښاغلي محمد حلیم سلیمي په کندهارکي دمحمد شریف خان د کورنۍ سره دژوند تړون کړی وو.اودهغه د کورنۍ ښځه ئې واده کړې وه.چی میرمن نفیسه نومیده.میرمن نفیسه هم د خپل وخت یوه درنه مبارزه اودښځو دغورځنګ مخکښه اونامداره استادوه.میرمن نفیسه چي د کندهاردښځو دآزدۍ دلاری دلومړیو ښځوله قطاره څخه وه،یوه پوهه اوپه بهرنیوژبوهم پوهید ل،هغې پرپښتواوفارسي ژبو برسیره ه فرانسوي ژبه اوانګلیسي ژبه هم خبري کولای سوای.داپه کندهارکې د محمد شریف خان بارکزی د کورنۍ څخه وه. میرمن نفیسه په کندهارکي دزرغوني اناپه لیسه کي دښوونکي په توګه درس ورکاوه.اوپه خپل وخت کې دښځودغورځنګ دپرمختګ دپاره ډیرکارونه ترسره کړه،محترمي نفیسي خپل اولادونه ښوونیزاودآزادفکر خاوندان وروزل.چي دبده مرغه دهیواد دداخلي ستونزو له سببه دنوروافغانانو په څیرددې کورنۍ هم ستونزي ولید لې.

## دخدای بخښلي ایا زي صاحب کهول

داهغه کورنی ده چي ډیروکتابو او رسانیو به لیکني او یادونی پرکړي وي.ددې کورنی او کهول نارینه او ښځي دافغانستان دښوونی اوروزنی په برخه کی دقدر وړکسان تیر سوي دي،ددوی دهیواد پالنی تاریخ یو عینی واقیعت دی .موږ دلته هم دهمدغه کورنی دیوې مبارزي استاذي نوم یادوو. داپه دې که دښځوپه باب دکندهاردښووني اوروزني په بهیر کي که هر څوک څه لیکي باید داستاذي شاه جهاني نوم ولیکي .

**استاد شا ه جهانه :**

داهغه استاده وه چي مخکې هم یوه لنډه یادونه ددې په باب سوې وه، دکندهار دښځودغورځنګ دلومړنیوآزادی خواهانو دقطارباهمته افغانه چي دکندهارپه مترقی تاریخ اولاسته راوړنوکې به ټول عمریاده سي،دخپل وخت دستونزوبرسیره ئې دخپل همت په سبب دښځو نهضت دپیروزی وحد ته ورساوه. هرڅومره چي دتند روه کسانودخوا څخه اخطارونه ورکړل سوه خودې دهغوی پرواونه کړه او دخپل ملت دراتلونکونسلونودروزلوهوډ ئې په بریا لیتوب سره ترسره کړ.که څه هم دشاه جهاني دکورنی ټوله کسان دهیوادپالنی اودعلم په میدان کي نامداره کسان وه.اودائې هم هڅول ودې ته چي دخپل هیواد دبچیواوراتلونکي نسل دپاره دښووني اوروزني په بهیرکي ګام واخلی اودهمدغه لاری څخه دتنویرڅراغ روښانه وساتي اودا کارشاه جهانی استادي په بشپړه میرانی سره ترسره کړ.چی دافغانستان دښووني اوروزني بهیربه ددې دغه خد متونه د یاده ونه باسي.

دشاه جهاني دژوند ملګری ښاغلی محمدانورخان ایازي دښوونی اوروزني په بهیرکي ډیرلوړنوم درلود،چي په کندهار کې په مختلیفو ښوونځیو کي هم زده کونکی روزلي دي اوهم ئې دښوونځیوریاست اومدیریت پرمخ بیولی دی.هغه دکندهار دنامداره لیسې (مشرقي لیسې) یوباتدبیره مدیروو. چی خاطرات ئې دزده کونکو سره سته.همدغسی محمد اعظم خان ایازي چي دپښتو ژبی ډیرلوړاستاد تیرسوی دی اودپښتو ژبي دپاره ئې په لیکلي ډول مختلف کتابونه اواثارهم لیکلي دي چي دهمدغه جملې څخه ئې موږ دپښتو ګرامریادولای سو. چی دپښتنوپه لیکلوکتابو کي دګرامرپه برخه کې ډیردقدروړکتاب ګڼل کیږي. نوموړی کتاب دګرا مرپه برخه

کی به لومړی کتاب وي چی په دغه ساده پښتو او په عام فهمه ادبیاتو لیکل سوی دی.که چیری تر دې دمخه کوم دګرامر کتاب لیکل سوی هم وي،خوپه دغه محتوابه نه وي.دهمدغه کتاب څخه په مختلفو ښوونځیوکې په زرهاو زده کونکی دګرامردپه برخه کې دعلم او پوهي څخه ګټه اخیستې ده .اونوموړی ګرامر دپښتنو دپاره ډیري اسانتیاوی برابری کړي دي.

خدای بخښلی محمد اعظم ایازی دخدای بخښلی شاه جهانی استاذي خسرکیده ، چی خپله کورنۍ به ئې تل هیوادپالني اودعلم په رڼاکي ښووني اوروزنی ته هڅول.اوهمدغسي خدای بخښلې شاه جهاني خپل اولادونه دهیوادپالني په روحیه را لوی کړه، چی دهغه دجملې څخه یوهم خدای بخښلی محمد اکبرایازی وو، چي دافغانستان لوی ژورنالیست اودامریکا ږغ نطاق بیا په پراګ کي دآزادۍ دراډیو اوخپرونومشر وټاکل سو.اودژورنالیزم په میدان کی یوتکړه اوبریالی ژورنا لیست وو.

همدغسي د محترم اعظم ایازي صاحب کورنۍ او دهغه میرمني شاه جهانه ایازي هم ددغه غورځنګ یوه ستره مبارزه وه.چي په وروسته کې دښونکي په توګه دنده هم ترسره کوله اوپه سلهاونجوني اوښځي ئې دزده کړودپاره چمتوکړي دي.اوپه لوړوافکاروئې ښوونیزي وروزلې.

دغه وخت په کندهارکي په ډیرولږوکورنیوکي دغه جرئت را پیداسوچي دښووني اوروزني د بهیرسره دي مرسته وکړي.خوپه وروسته کی دغه لږکی په ښارکي په اکثریت سره بدل سوه.ښوونکي ډیرسوه اوزده کونکی هم په بشپړه توګه دکندهاردښار،دکوڅواوسړکانودکورونوڅخه په جرئت سره په لڅ مخ او په پټ مخ ،هلکان اونجوني دښوونځی پرلورروان سول.اودوخت حکومت هم ددوی دتشویق دپاره ډیراوچت ګامونه واخیسته.

لومړی خوداچي دښووني اوروزني ټول لګښت دحکومت پرغاړه وو.ښه تعمیرونه،ښه ټولګۍ ،ښه میزاوچوکۍ دزده کونکواودښوونکودپاره داداري میزاوچوکی،داداري کوټه اود ضرورت وړلازم مواد دحکومت پرغاړه وه.اوحتا کله کله به ئې دبهرنیومرستوڅخه اوړه اوشیدې هم دزده کونکواو ښوونکودپاره ورکول کیده.دوخت دناروغیوپه مقابل کي دواوی اوواکسینو نه هم دښووني اوروزي

داړونده کسانوسره مرسته کیده.ښوونکویولړامتیازات هم درلودله.لکه:درې میاشتنۍ په کال کي رخصتی،نیمه ورځ کارکول،چی ددولت د نیکوټولنیزوخد متونوپه کړنوکي حسابل کیدای سي.

دغه وخت دافغانستان حکومت د ډ موکراسۍ په لاره کې اودبیا آبادولوپه لاره کې ډیراوچت ګامونه واخیستل.چي دغه دوره دلنډ محال دوره وه د۱۳۳۵ هـ ش کال څخه تر ۱۳۵۷ هـ ش کال پوري.دغه شل یا دوویشت کاله دافغانستان ترټولودارزښت څخه ډ ک کلونه وه.په دغه وخت کي ډموکراسي اوقانوني اساسي په ډیرمترقي یاپرمخ تللي شکل منځته راغلی. چي په دوام ئې ګوندونه آزادسوه، سیاسي فعالیت په چټکه توګه دځوانانو په منځ کي راوچت سو.اوډیرځوانان ئې د سیاسي،اقتصادي اصطلاحاتوپه پو هولوسره سمبال کړه.په ښار،هوټلونو،ښوونځیو، پو هنتونونوکي سیاسي مبارزې یوعام ډول ځانته ونیوه.بیخي ډیرځوانان دلوړوزده کړودپاره بهرني پرمخ تللوهیوادوته دلوړوزده کړودپاره واستول سوه. چي په را تګ سره ئې هیوادته نوي مفکورې هم راوړې،دترقۍ غورځنګونه د ګاونډ وهیواد وپه کچه ډیرښه ارزیابي کیدای سوای.چي دغه وخت دافغانستان دلوړو چارواکوپه رآس کي خدای بخښلی پاچااعلیحضرت محمد ظاهرشاه اودهغه کورنۍ په ډیره بیاخدای بخښلی سردارمحمد داوخان په دغه پروسه کي دیادولووړخد متونه وکړه.

چي دهمدغه دوران لاسته را وړني کیدای سي .چی ستاره اڅکزی اودهغې په شان نوری هیوادپاله نجوني اوښځي هم دهیواد په دننه کې دهیواد په ۲۸ ولایتونوکی وروزل سوې اودافغانستان په ګوټ،ګوټ کی د خد مت دپاره وګمارل سوې.دغه وخت په کندهارکي دښځوغورځنګ پرمخ ولاړی او ستارې اڅکزۍ هم دوخت څخه په ګټه اخیستلوسره د میرمنودټولنی او دمعارف یا ښوونی اوروزني په بهیرکی د قد روړګامونه واخیسته. خو دلته یوازې په کندهار کی ستاره په ښوونه اوروزنه کي نه وه فعاله، بلکي ؛ تر هغې مخکي دښخو غورځنګ لاره ورته هواره کړې وه.لکه مخکی چي موږ داستاد شاه جهاني(ایازي)، ساجدې(بڅرکې)، صفیه (اعمه جانه) ،نفیسه( سلیمي )او داسی نورنومونه یاد کړه. خودستارې اڅکزی دوخت ښځواو نجوني هم ددغه غورځنګ دبهیر ملګري وې.چی که ئې دهریوې نوم موږ یاد کړو، خورا ډیروخت غواړي او دغه کتاب ئې توان نه لري دهمدغه وخت دټولومباریزو ښځواو نجونونومونه دډیر والی په حساب موږ نه سو یادولای.. خو موږ ئې یوازي

ددې یا ستارې په اړوند دکهول دځینو ښځواو نجونونومونه دبیلګې په توګه یادولای سو. لکه: محترمه بي،بي شیرینه (شیهلا )، میرمن ملاله (معاوینه ) ،محبوبه (ختیځ یار)، نجیبه (میوند )، بریښنا (بڅرکې)، زرغونه (میوند)، رحمت النسا ( عد ل اڅکزی انور) ،(معصومه اڅکزی) ،سعد یه ( اڅکزی) انجنیره ګل غوټۍ (میوند ) اعطیه (اڅکزی )،لیلما (روښانه ،اڅکزی ).دغوټولوښځواونجونولوړتحصیلات درلودله اودښوونکي دنده ئې پرمخ بیول.



**ننګیالی بڅرکی دخدای بخښلي ستارې اڅکزی او لیمې بڅرکی سره په هالینډ کي**

## دستارې دوړکتوب دوره :

دهغه ځایه چی زما ستاره اڅکزی په یادده ،ځکه چي زه اوستاره اڅکزی ممکن یوکال اویاهم یونیم کال دژوندتوپیرسره ولرو.موږیودبله سره همزولی وو.میندی موسره خوندي وې اودازماهم اعمه کیده اوهم مي دخاله لورکیده.نوځکه می اړیکی هم ډیری ورسره وې.دکوچنیاولي څخه ترلوی والی پوري ډیري په زړه پوري خاطرې ورسره لرم.ستاره په وړکتوب کي هم ډیرهوښیاره اوځیرکه نجلۍ وه.دهغې طبعت دنارینوپه څیروو.ستارې تل لوبی دهلکانوسره بیجلی اومردکی ترډیره وخته

کولې.او په کښي بريالۍ هم وه،که به ئې دهلکانو سره جنګ کيده ترهلکانو په جنګ کی هم څه کمه نه وه.دبيجلواومرد کوټوله دلوبوډولونه اومهارتونه ئې زده وه.خودښوونځۍ درسونه ئې هم ورسره تعقيبوله.دښوونځۍ په درسوکې هم مناسبي نمرې ترلاسه کولې.دوړکتوب په دوراکې کله ناکله زه هم وهلای سوای. يا (لت و کوب)کولای سوای.اوما د ستارې دلاسه ښه وهل هم خوړلی دي.هميشه به ئې ترغوږنيولم اوغوږ ئې دومره را زخمی کړی وو،چي دزخم ټپ ئې تراوسه لاهم سته.زما پياددي چي:زماپلاربه زما پرغوږ ملهمونه ايښول او يو سرپوښ به ئې هم زما پرغوږ ټينګ راوتړی،خودې به بيا د جنګ په وخت کې هغه راڅخه وغورځوی اوغوږ به ئې رازخمي اووينی کړ.دهغه ټپ تراوسه هم زما پرغوږ سته،دا پرماغښتلې وه . ما به بيا کله نا کله خپل ملګری ددې وجنګ ته چمتو کړه، بيا به موږ په دونفرووهل اوټکول ورکول.هغه د کوچنيوالی خاطرات ئې زما سره سته اوډيري ښې خاطرې وې.خوکله ناکله به ئې زما په دفاع کي هم کومک اومرسته کوله،زه خورا ډيرپرګران وم، ځکه چي په وراره ګانوکي ئې زه تريوه حده همزولی هم ومه.که به ئې جنګ ؤ؛هم به زماسره ؤ، که به ئې ساتيری ؤ؛هم به زما سره وو.نوداسی دوستي مووه لکه مشره خوريا کشرورور.دهغې يوه جالبه خاطرزما سره دښهري صفا دسفر يوه نه هيريدونکې خاطره راسره ده.

**د ښا ري صفا خاطره دستارې سره:** لکه مخکی چی مي وويل : ستاره زما دخاله لوراواعمه هم کيده ددې معنا داده چي زما پلاراوزما نيکه دواړوديوه کوره څخه دوې خوندی راواده کړی وې،چي مشره خورئې بي،بي (باضيغه) نوميده چي زما نيکه حاجي محمد انورخان اڅکزی په نکاح کړې وه .اوزماموربيا بی،بي ساجده نوميده چي زماپلارمحمد علم بڅرکي په نکاح کړې وه.نومی ځکه ستاره هم دخاله لورکيده اوهم مي اعمه کيده.زموږ کورونه دستارې دکورسره څنګ په څنګ کي جوړسوی وه.ددوی کورزموږترکورډيرغټ کوروو،درختي اوښه باغ ئې درلود.داځکه چي هغه دحاجی محمد انورخان اڅکزی کوروو.خوداسي وه لکه دغه غټ کورچی زموږ دټولووي.دنيکه لمسيان او لمسياني به هره ورځ دخپل کور څخه دغه لوی دنيکه کورته راتلل.هلته به غټه کمبله هواره کيده.اودنيکه لمسيان او کورنۍ به کله ، کله هم دلته حاجی محمد انورخان اڅکزي پرکمبله ناسته وه. موږ خپل نيکه (حاجی کاکا )باله.حاجی کا،کادخپلو اولادونواولمسيانو سره ډيره مينه درلودله.حاجی

کا،کابه مازديکردلمانځه څخه وروسته راغلی اودهريوه پوښتنه به ئې جلا،جلا کوله.ترڅو دخپلي غټي کورنۍ په حال اواحوال خبرسي.نودحاجی کا،کاپه کورکي لمسيانوهمزولونجونواوهلکانوښځواونارينوبه هريوه دهغه خپل عمردچاه سره خبري دزړه رازاو مجلسونه کوله.زما چی په ياد دي زموږ په هغه غټ کورکي دحاجي کا،کا په ژوند کي خوراډير سات تيروو.

خو؛هغه زما بل نيکه چي زما اودستارې ددواړو نيکه کيده، هغه بيا زموږ څخه په ډيره ليري فاصيله کي ژوند کاوه ، هغوی په ښاري صفا کی اوسيدل چی زموږ.څخه ياد کندهار څخه ۳۵ياڅلويښت کيلومتره ليری دزابل ولايت پوري اړونده صحرا کې ژوند درلودی.

زمادمورپلارعليجان خان نوميده : عليجان خان هم دخپل وخت خان او نامتو شخصيت تيرسوی دی.خدای بخښلی عليجان خان په قوم پوپلزی وو، چی دولت شاهي کورنۍ ئې ورته ويل. داځکه چي داحمدشاه بابا دکورنۍ پاته کسان وه چي پردغه د وکاريزوئې ژوند کاوه.لکه:تنګک،خاتونک کاريزونو کې اوسيدل. دوی ته دغه سيمه ددولت خان او شازمان خان اودشازمان خان دمشرزوی ذلفقارخان چی داحمدشاه بابا مشرورورکيده دهغه څخه ورپاته وه.عليجان خان په سيمه کي ديوه پاک نفسه،هيواددوسته،ښه سړي نوم درلود.عليجان خان ته موږ ( بابک )ويلی.بابک دسردارمحمد داود د ولايت په وخت کي چی په کندهار کي والی وو. په دغه وخت کې عيلجان خان دده قلم مخصوص په توګه کارکاوه او د زراعت د برخی مشرهم وو.په کندهارکې ښه نوم اونښان په دولتي چارواوملکی برخه کی درلود.خدای بخښلی عليجان خان برسيره پردې چی دښاري صفاه خان وو، همدغسي ئې په کندهارکي هم يولړکورونه اودوکانونه درلودله.چی دنيکونوڅخه په ميراث ورپاته سوي وه.عليجانخان چی په قوم پوپلزی اودولتزی وو،دکورنۍ په لحاظ يو خان اودپاک والي په نظردخپل وخت دهغه ډيروښواومتد ينوخلکو څخه وو.درشوت دنامه څخه ئې دومره کرکه درلودله چي که به ئې ديوچاه کارهم په دولتي رسمي برخه کی ورخلاص کړ،نو که به چاه ودته دده دخوشحاله کولودپاره يوڅه شيان او يا هم پيسې راوړلې.نوخلک ددې شاهدان دي چي هغه کس به بيله وهلو،ټکولو څخه نه سوای تلای.نوچاه درشوت ورکولوجرئت هم نه سوای کولای.په دغه صفت

دکندهارټولوخلکو هم پيژندی. پرعليجان خان باندی ولسونودغه غزل دميني اومحبت په عنوان سره ويلې ده،چی اوس هم دسيمي دخلکو په ذهنو کي سته .

## پرعليجان خان پوپلزي باندي ولسي غزله

دنائب صاحب ميرزا دی

نوم ئې دی عليجان خان

دی په خوی کي لوی ولي ۀ

مهربانه ۀ پرخورداوپرکلان

دنائب صاحب ميرزا دی

پر کاغذ باندي قائم

که ئې نورنصيب دښه ۀ

شهنشاه به ورکي د م

کل عالم ئې دعا ګوی دی

هم ئې قوم دی همد م

دنائب صاحب ميرزا دی

نوم ئې دی عليجان خان

دنائب صاحب ميرزادی

خدای دي ورکړي ډير ثواب

چي ئې ځان دی ستړی کړی

په خد مت کي د خپل قا م

دنا ئب صاحب میرزا دی

نوم ئې دی علیجان خان

پر آسانه ئې کړې خدایه!

دقیامت سوال او ځواب

دی په عقل کي ډیرپوه دی

له چاه نه اخلی غیـرا ن

غـټ منصب دی خدای ورکړی

نه ده چاه اخلي حرام

دنائب صاحب میرزا دی

دی په اصل پو پلزی

خد متګاره دخپل ملک دی

دښمن نه لري سرِی

دنائب صاحب میرزادی

دی دخلکوخد متګار دی

کل عالم ئې دعا ګوی دی

خدای دي ورکړي ډیر ثواب

ماته هم دده دښه همت په ویاړدغه یوخوبیته یادغه ځلوریځه راپه زړه سوه.چي دده دشان او شوکت انځور په کښي تمثیل دی.

**دهرچاه وی خپل عمل دلاری مل**

**چي كرې هغه ريبې به تل تر تل**

**كه ته موړسوې په حراموړشوتونو**

**په نامه به دي نسلونه شرميد ل**



پورته درې کسان دحاجي عليجان خان پوپل زي درې لوڼي دي. چي درې سره دخپل وخت په مروجه علوموباندی ښې پوهيږي.مخامخ لومړۍ زمامورخدای بخښلې ساجده بځركې ده، ورپسې حجانۍ بي،بي شافيعه اوحجانۍ بي،بي باضيغه دستارې اڅكزی موركيده.اوس به راسوبيرته هغه خاطراتوته چي زمااوستارې اڅكزی دښاري صفاپه سفركي وې.

**نه هيريدونكي خاطرات دستارې سره :**

خدای بخښلی عيلجان خان پوپلزی چي دحاجي محمدانورخان اڅكزي خسرهم كيده،خودوی دهيواددابادۍ په لاره كې خواخوږي دوستان اوملګري هم وو.ديو څوورځو دپاره هغه دښاري صفا څخه كندهارته دخپل لوركورته دحاجی كاكا كورته ميلمه راغلی ؤ.ځكه كندهارخودښارمركزوو،دصحراخلكوبه دهمدغه ځايه دښار توكي د ضرورت په خاطرسره وړل.دغه وخت به ستاره دښوونځۍ په لومړی ټولګی اويادوهمه ټولګی كی وه.ممكن زه په ښوونځی كي لانه وم داخل

سوی.خوددوبی وخت ؤ،چی زموږنیکه بابک راغلی وو.هغه دخوشپودتیرولو وروسته هیله وکړه چې زه اوستاره دواړه لمسیان ئې ورسره ولاړسو.ځکه دیوه پلوه په دوبي کی ښوونځی رخصتي دي او دبله پلوه به دښاري صفا میوې هم خورا ډیري وې.نوزموږ نیکه وغوښتل چی دغه دوه لمسیان هم دځانه سره بوزي.زه اوستاره هم ډیرخوشحاله ؤ، چی موږ دنیکه سره ځوښاري صفا ته.دومره خوشحاله وو،چی په کالوکي نه ځایدو.زما هغه خاطرې ډیري ښې پياددي.میندوموهم کالی را تیارکړه،چې سباځو دبابک سره.موږسبا دبابک سره دموټرانودهاډې وخواته حرکت وکی.په موټرکي ئې دنوروغټانوپه څیرموږته هم دوه سیټه راکرایه کړه.معمول داسی وو.چی کوچنیان به دریدل اوغټان به کښیناستل.خودادهغه چادپاره وه.چي دسیټ ټکیټ به ئې نه وکړی. خوموږته زموږنیکه(بابک)ټکیټان راکړي وه.اودی موهم ومخته کښیناسته.موټرحرکت وکی دغه وخت یوکس غوښتل چي موږدسیټ څخه ولاړکي.خو!بابک ورته وویل:چی دوی ټکیټان دسیټ لري.دموټرکنینروهغه ته پیټ وویل:دوی دبابک لمسیان دي،ځکه چی بابک په سیمه کی نوم درلودنوهغه کس بیاچپ پاته سو.اوزه اوستاره هم ډیرخوشحاله سولو.ترښاری صفاپوري په سیټ کی ناست وو.اوسیل موکاوه.چی ډیرستردښتونه دي.آبادي ډیره لږوه.خودښاري صفا ودوکانوته پسله دوه ساعته څخه راورسیدلو.بابک یو نفرواستاوه اودوه خره ئې دیوه نفرپه وسیله راوغوښتل،موږته ئې ترهغه وخته په دوکانو کي خټکی رامات کی اوموږ خټکی خوړی،دلته بابک دسیمی یوپیژندل سوی خان وو.نوزموږ چی د ښاره څخه راغلي وو.اودبابک نازولي لمسیان وو.خلکو ډیره مینه راسره کوله.اوموږهم ډیرخوشحاله وو.چي اوس به انا ته ځواوانا به وینو.موږاناته ببواناویله.پسله څه وخت څخه هغه نفرچی دوه خرونه ورسره وه راغلی.داوخت دغرمې وخت وو. څه ناڅه ګرمي هم وه.اودخره په وسیله ترنیم ساعت هم ډیره لاره وه.زه اوستاره پریوه خره سپاره سو.اوبابک هم پربل خره سپوروو.یوه نفرزموږ دخره جلوهم دځانه سره نیولی وو.موږ ددکانو څخه ترکلي(تنګک کاریزه )ځکه پرخراراغلو چی دغه وخت دموټرلاره نه وه اوترکوره پوري ډیري لوړي غونډۍ اوکښته اوپوره لاري وې،چی بیله آسانواوخروڅخه ددکانوڅخه ترکاریزه بله چاره هم نه وه.

څه وخت چي ديوې ډيري کښتي برخي څخه لوړی برخي ته ورپورته سوو،نوهلته يوډله خلک ولاړوه.اوکارئې دسپيني ګاري پرنوي کاريزکاوه.دبابک په ليدوسره ئې کارپريښود.اوزموړ.خواته متوجې سول اوبابک ړ.غ پروکی هلکوڅنګه ياست ؟ کاريزموترکومه ځايه ورساوه.هغوی هريوه سلامونه واچول.اووې ويل:دسپينی ګاري کاريزاوس يوه اندازه اوبه ښکاره کړی دي، ځوانان په اخته دي.دغه نوی کاريزدسپيني ګاري کاريزوو،چي بابک ئې په خپل ابتکارکارراموښلولی وو.اوپه دغه سيمه کي هغه غوښتل چي خپلي شاړي مځکي هم آبدی کړي. دلته ګرمی هم وه موږ ته دليري څخه باغونه اوابادي رامعلوميده. اوتلوارموهم ووچی ژردغه نوی ځای دنيکه اوآنا ووينو.نوموډبابک څخه وپوښتل:کورڅونده ليري دی! بابک هم يوه سووې ويل:هغه درختي چی معلوميږي،هغه زموږ.کوردی.موږ.خوشحاله سو.بابک پرهغه ځوان ړ.غ وکی چي زموږ.دخره تناوياجلوئې نيولی وو.هلکه حرکت وکړه.هغه هم حرکت وکی اوکورته راورسيدلو.زموږ.اناچی دسرای په غولی کی زموږ انتظار کاوه.زموږ.په ليدودومره خوشحاله سوه، چی ماته ئې دلته الفاظ نه راځي.اوهغه دنازکلمې ئې راته خيرات اوعطا کړې چی بيائې هم زما سره هغه دنازالفاظ نسته. موږئې دځان وڅنګ ته کښينولواودنازشربتان ئې يخ،يخ راکړه.ترڅه وخته خوموږداناسره ناست وو.بابک هم زموږ په راوستلو سره ډيرخوښ و. وخت دغرمې دډوډئ وو. ډوډئ راوړل سوه.موږ.ستړی هم وو. خوغوښتل موچی دسرای اوباغ غولی ته ولاړسو.مخکی ترهغه چی موږ.دسرای غولی ته ولاړسو.اناموراته وويل:اوس ګرمی ده.دباندي مه وزی، چي ډوډئ مووخوړل ماپښين چی هوآيوڅه ښه سوه بيابه بازئ وکی اودباندی به ووزی.اناموويل:چی دترکويا کوچيانو،کوچنيان هم دلته دبازيواولوبودپاره راځي.بيابه ښه لوبي اوساتيری وکړی.موږ.هم ورسره خوښه کړه،خودغه اوږ.ده غرمه تيره سوه.بياموږ.دباندي ورووتلو،لومړی مو دکاريزخواته وروځغستل،چی يوه لويه وياله دکورپه منځ کی بهانده بهيږي اود کاريزهغه صافي رڼې اوبه په کښي بهيږي،چی دچيښلودپاره هم تياری دي.هلته په کاريزکی بيادماهيانوننداره يوه په زړه پوری ننداره وه.دکاريزماهيانورنګ خړاوسپيره رنګونه ئې درلودله،خوپه صافواوبوکې روښانه اوصاف معلوميده. موږ.د ماهيانودنيولوهڅه هم وکړه،خو!مااوستارې ونه کولای سوای،چي دغه

دکاریزښوی اوچابک ماهایان ونیسو،ماهیان اموخته وه اوزماانابه کله،ناکله دکاریز ماهیانوته ډوډۍ هم ورکوله، نوځکه که به یوځل راڅخه ولاړل ،خوپه بله لحظه کي به بیا زموږخواته دډوډۍ په تمه رانژدې سول.موږلادماهیانوپه لوبه اخته وو. چي دسرای ددروازې دخوا ښځه یوې کوچنۍ نجلۍ چي عمربه ئې هم دستارې په اندازه وو.هغه راښکاره سوه،هغه زموږخواته نه راتله.شرمیدله دښاردکوچنیانوڅخه،ځکه دهغوی کالي،خبري اوکړنه زموږ ښځه یوڅه په تغیراوتفاوت کی وه.اناموږغ پروکی چی راسی،زمادلمسیانوسره ساتیری وکی،زموږ انا (ببوانا) پرمسکینانوډیره مهربانه اودښه زړه خاونده وه.دوی مځکی لازموږداناسره بلدیت درلوداوکله ناکله به ئې دباغ میوې هم دوی ته ورکولې.خودوی ترپایه زموږخواته رانه غلل.نوبیا موږخوددې جرئت درلودی چي موږددوی خواته ورسو.څه وخت چی موږ ورغلونودوی چي یوه خوراودوه ورونه وه. خوشحاله سوه.اوپه خنداسوه،موږهم ددوی په لیدوخوښ سو.ستارې دهغه ښکلی کوچۍ ښځه دنوم پو ښتنه وکړه:چی ستا نوم ښشي دی؟هغې وویل : مستانه ،مستانه دغه نوم زموږ دپاره نوی نوم معلوم سو.نوځکه ستارې بیاهم پوښتنه ځینی وکړه،مستانه؟هغې وویل :هوکې؛ ستارې هم خپل نوم ورته وویلی.مستانه چي ژړطلائي لیکن خیرن وریښتان ئې درلودل،یودانه پینک ئې هم په دغه خیرنووریښتانوکی وهلی وو.قیمتی دهنداروکالی ئې اغوستي وه،خوهغه هم خیرن وه.خوددوی کالی که خیرن وه، خو! بیا زړونه ئې دومره پاک وه،لکه د کاریزاوبه...اودومره مهربانه زړونه ئې درلودله چی تابه ویل: دکلو،کلو ورک وروراوخورئې پیداکړی دي.مستانه اوورونه ئې مځکی دلته په کلي کي شناخته اوبلد یت درلود.نوهره ورځ به ئې موږ دیوه باغ اوبل باغ سیل ته بیولو.په باغ کي دباداموونې ډیري وې،اوونې ئې ډیري غټي وې،چی موږورختلای نه سوای اوهغه بادام چي پرمځکه به رالویدلي وه، یا به موپه ډبره راوغورځول هغه بادام مو خوړل.زه اوس نه پوهیږم چي هغه میوې چي موږ په ګډه سره خوړلې، ولي ئې دومره خوند اومزه ډیره وه؟. چي تراوسه ئې خاطرات را سره دي.

مستانې یوه ورځ موږوخپلوکیږدیوته هم بوتلو،دهغه موراوپلارهم ډیرمهربانه وه. موږته ئې قروت اودغړکی یخي شلومبې هم راکړې.هغوی یوغټ سپی درلود چي

موږډيردهغه څخه بيريدلوخومستاني اوورنبوئې اتمنان راکی اوويل ئې: مه ځيني ځغلی هغه په تاسوکارنه لري. همدغسي هم وه.په موږ کې چورت هم نه واهه.يوازي به ئې دشناخت په عنوان راته وکتل.مستاني اوورنبوئې بله ورځ موږد محمدسليم زيارت ته هم بوتلو،هغه زماکشرماما کيده.هغه په ټاپه ځوانه ،ځوانی اويا هلک توب کي دکال داني په سبب مړسوی وو.نيک اخلاق ئې درلودله،خلکوزيارت پرجوړ کړی وو، هغه ته دليري ځايوڅخه خلک تراوسه هم راځي .اودسال دانې اويا کال دانې دزخم په باب دهغه د قبرياشاه وخواخاوره اخلي اودغه ئې تسکين يااعلاج بولي.مستانی زموږپه مخ کي دهغه دقبريوه اندازه خاوره وخوړل.اوې ويل: ئې دغه ثواب لري، مستانی ته خپلومشرانودغه خبره کړې وه. خوستارې دمستاني دغه خبره وررډکړه.ويل خاوره خرابه وي.ځکه دغه وخت لاستاره په دې هم نه پوهيدل چی په خاوره کي دتيطانوس دمکروب برسيره نورمکروبونه هم لري.خومستانی ته دستارې خبره يوه ټوکه معلوميدل.ځکه دهغوی مشرانوهم ددغه زيارت څخه دخوردې په توګه ګټه اخيستل.خوپه هرصورت:موږد محمد سليم پوپلزي پرقبردعا وکړه.اوبيرته دکورخواته راغلو.په کورکي مودغه کيسه کټ مټ وببوانا ته وکړه. هغه وويل:هو؛محمد سليم زماکوچنی زوی وو،دغسي ناروغه سوه،کال دانه پررا وخته، خواعلاج ئې ډاکټرانوته هم ستونزمند سواومړسو.دمحمد سليم مړينه زموږ دنيکه اوانا دپاره ډيره سخته وه موږخولاهغه ليدلی لاهم نه ؤ.خود ميراني کيسې ئې اناراته وکړې.نوزموږهم ډيرارمان سو.ددغه يوې مياشتي په تيريدوسره چي موږ دنيکه يابابک اوانا په څنګ کي تيري کړې هغه خاطرات اوس هم زماسره سته ،که چيری خدای بخښلې ستاره هم ژوندی وای نوخامخا به ئې ډيري کيسې دښاري صفادرته کړي وای.لنډه داچي زموږهلته ډيرسات تيرسو.اوزمادنيکه اواناهم په موږباندی سات تيروو.مابنام به دپاليزختکی اوهندوانې دپاليزه راته راوړلې.او دغسي نورنازونه.موږدنيکه اواناسره بيده کيدو.هغوی به موږ ته رنګارنګ نقلونه کوله.زموږ خدای بخښلي انابه ماته سهاروختي ديګلی هم راساتلی وو.اوبيله دې چی ستاره خبره سي مابه ديګلی صاف،پاک خوړلی وو.ليکن ستاره موپه دې رازنه خبره وله. ممکن علت ئې داوی چی هلکان پرانا ترنجونوګران وي.اودازموږ دفيوډالی ټولنی ځانګړنه بولم.

یوه بله دپاملرني وړخاطره داوه چې یوه ورځ دمازدیګرترلمانځه مخکی خلک وار خطاو لاړدي.موږهم په دغه ټولۍ کې ولاړیو.دوی یودبله سره وای چې دهغه تور دیوي دغوائي پښه ماته سوې ده ... بابک چې په مزاج توند اوپه زړه نرم انسان وو.خلکویوه اندازه بیره هم ځیني درلودله ،چې که چیري بابک خبرسو.نوخدای خبرچي موږته به څه ووائي.نوپه همدغه خاطرئې وختي دغه خبره خلکوملا صاحب ته وکړه، ملاصاحب هم خلکوته وویله: ځه ! خدای بې خیرکړي... زه به دلمانځه نه وروسته دبابک سره خبري وکړم.تاسی مه وارخطا کیږی.بابک چې دملاصاحب سره ئې نیکي اړیکي هم دلودلې،دلمانځه څخه وروسته ملاصاحب وبابک ته رانژدې سو.دانوهغه وخت دی چې بابک نوردکورخواته روان دی، خوملاصاحب ئې مخي ته ورغلی. ملاصاحب وویل:یوڅه کارمي درسره دی. بابک په خنداورته وویل:چي خیردي وي وئې وایه؛ملاصاحب یوه مقد مه خبروته کښیښودل اووې ویل :دخدای پیبني دي ! نن نظرمحمد کاکوچي دمځکي یوې کوله دهغه توردیوې دغوائي پښه په یوې کې ماته سوه.قسمت هم داسي کیده اووسوه.بابک په خنداسو.ملاصاحب ته ئې وویل:خدای دي خوارکه زمازړه دي ترتلوراوښویوه،ما چی ویل څه پیښه ده.نوتاسي ماته ولي راتلاست خوغوائي به موحلال کړی وای اودکلي په منځ کی به موخیرات کړی وای. داخوددې خبره نه ده چي تاسو غټه کیسه ځیني جوړه کړې ده. دسرتاوان دی نه وي... دغه وړې،وړې خبري دی. دکلي ټوله خلک دبابک په دې مهربانه خبره سره ډیرخوښ سوه.اوغوائي حلال سو،غوښي ئې ټوله د کلي خلکوپه خپلومنځوکې سره وویشلې.په کلي کی خوشحالي جوړه سوه.

ما اوستارې دخلکودغه وارخطائي وبابک ته کیسه وکړه.هغه وخند ل اووې ویل : دوی ملامت یا ګرم نه دي.خوران ډیرغریبان دي.

بله خاطره چي زمانه هیریږي دستارې هغه غښتل توب وو.چي زه ئې هم پر غیرت راوستلم :زموږانا یوسخت تکلیف درلود چی پراوږه ئې یوه دانه وه چي ممکن دادسرطان دانه به وه.ببوانا دهغه دانې څخه سخته په تکلیف وه.ترډیره وخته به دا دشپې ناسته وه اودرد به ئې درلود.خوموږبه کله بیده اوکله به ویښ وو، په سهارکې مااوستارې پوښتنه ځیني وکړه، چی ته ولي ټوله شپه ناارامه وې، انا وویل

ماښام مې دردډېروو.او هغې دېزې نصوار هم کوله، ویل: نصوارمې هم خلاص سوی وه.ما اوستارې تصمیم ونیوه چې ببوانا به نه خبروموږبه دوکانوته ځواوببوانا ته به نصوارراوړو.زموږڅخه یوه اندازه پیسې هم وې. چې ستارې دکوره څخه را ووړي وې.موږدغرمې ډوډۍ څخه وروسته پټ دوکانوته رهی سو.لاره اوږده وه دېزې نصوارمورانیول.دبیرته راتګ په وخت کې لږڅه ناوخته سواولمرهم پر لویدو وو،نوپه ډیروچټکوګامونودکلي خواته راروان یو.مځکه هواره هم نه ،غونډۍ،غونډۍ لاره وه، خوزموږ سره دبیري ډیرسخت احساس هم سته، داځکه چې مستانی موږ ته ډیری کیسې دبیري کړي دي.اودائې هم راته ویلي وه،چې دلته شرموښان اوډیرغټ ماران هم سته، ډیربدحیوانات موږپه دې کلي کې لیدلي هم دي حتا د ببریا هغه غټ زمری په باب ئې هم یادونه کړې وه.همدغسي هم وه.نورومشرانوهم دغه خبره موږته کړې وه،خوڅنګه چې دمستانی اودهغې د کورنۍ ژوند ددښتو او صحراؤسره وو.نوهرڅه ئې لیدلي ،اوریدلي وه.په هرصورت دلته ناوخته هم سو.اودچیغالانواوزونه هم اوریدل کیده،خوسپوږمۍ هم دپنځلسم یاڅورلسم وه او ترډیره ځایه ئې روښنائي هم جوړه کړې وه.لیکن زه خوډیربیریدم اوستاره بیا لږترماغته وه اوماته ئې تسلیت راکوه.چې موږولاړسو انا به ځومره خوشحاله سي. زه هم په دغه خبره خوشحاله ومه. خومنزل پرمنزل راروان یودبیري مولاسونه هم سره نیولي دي. چې سپیني ګاري ته راورسیدوهلته یوسړی معلوسو، چې تروني لاندي لمونځ کوي.اودبابک دکورسپي هم غاپي اوموږئې غپااورو،نویوه اندازه موروحیات سم سول.اومورال مویوه اندازه قوی سو. په ډیره بیا چې هغه سړی مو ولیدی. هغه ته را نژدې سو. هغه زموږ څخه وارخطاسوفکرئې وکی چې دغه دوه کوچنیان دلته په دغه خطرناکه دښته کی څه کوي. خوموږ ورته رانژدې سو... هغه زموږ څخه پوښتنه وکړه، څوک یاست؟ څه کوی؟....موږورته وویل : موږدبابک لمسیان یواو انا ته مودېزې نصوارراوړل ددوکانوڅخه.اوس بیریږو،هغه سړی وویل: مه بیریږی زه مواوس کورته رسوم.نووروسته ئې ترلاس ونیولواوڅه وخت چې کورته رانژدې سو.دبابک سپی زموږ سره اموخته سوی وو، هغه هم داسي معلومیده چي خوشحاله سو.انااونیکه خومودسره خبرهم نه وه.خوموږنصوارانا ته راوړل.اناداسی هک،پک پاته سوه،چې تاسي یوازي دوکانو

ته تللي واست،داموځنګه بدکارکړی دی. خودهریوه سرئې په غیږ کي ونیوه. اوپه زړه کي دومره خوشحاله سوه، چی موږتصورهم ددغه خوشحالي نه سوکولای.ممکن!دادنصواروپه خاطربه نه وه؟ممکن!زمااودستارې په دغه ډیرلوړاحساس سره ئې افتخاراوخوشحالی کړې وي.بابک ته ئې هم کیسه وکړه.هغه هم ډیرراته په قهرسو.خوموږدغه کاردخپله سره ترسره کړی وو. بابک موږته اخطارراکی چي بیرته به کورته ځي،موږپه دې خبره ترهرڅه ډیرخوابدي سو.انامومداخله وکړه اووې ویل : کوچنیان دي غلطي ئې وکړه. خیردي وي.په هرصورت څه وخت لانورهم داناپه غوښتني سره پاته سو.

دستارې یوبله یادونه هم دلته ضروربولم چي ترهغه وخته چی داپه ښاری صفاکي وه ،مستانه اودهغه ورنوته ئې د خپل سلیټي تختی په وسیله الفبأ درسونه هم ورښوول . په دې کي ددې خوند داوو،چي څه وخت به ئې درس ورښوی، نوهغه ایکټونه به ئې کول کوم چي معلیمي یاښوونکي به کوله اوځان ئې ښوونکې تصوره وی. اوپرموږئې دمعلمي یا ښوونکي ایکټ کاوه. خودایکټ په هرصورت په دغه لږ وخت کې مستانه دالفباسره بلده کړه.اودکلی نوروهلکانواونجنوهم ګټه ځینی واخیستل.دلته موږدنیکه اواناپه کورکي ځانونه ډیرآزاداوخوشحاله ګڼل.اوترهغه وروسته،نیکه مودیوه ناظریا خدمتګارپه وسیله ترکندهاره اوکوره بیرته راورسول.

**دستارې اڅکزی پیژندنه :**

مخکي هم پردې بحث سوی دی چي ستاره اڅکزئ دحاجي محمدانورخان لور اخیرینه اووړوکې لوره وه.حاجي محمد انورخان اڅکزي پنځه زامن اوڅلورلوڼې درلود لې چی ټولو په خپل منځ کی ډیرښه اتحاداواتفاق درلود،ګډ ژوند ئې سره کاوه اوټوله ئې هم دلوړوزده کړوخاوندان وه.دحاجی محمد انورخان اڅکزي دښه فکراو نظرپربنسټ نراوښځي دزده کړوخاوندان سوه. اوپه هیوادکې په مختلیفوبرخوکي خدمت کاوه، خو! د ښځود نده ئې په رسمي توګه په ښونځی کي دښووني اوروزني په چاروکي ښوونه اوروزنه وه یعنی زموږ دکورښځي د کندهار، کابل په مختلفو ښوونځیوکې ښوونکی وې.حاجي محمدانورخان خپله کورنۍ آزادطبعته اودآزاد فکر

پربنسټ روزلې وه. چې په وروسته کي به دمحمد انورخان اڅکزی په باب هم يولنډ نظرولرو.دحاجي محمدانورخان اڅکزي کورنۍ،کورونه پريوې محد ودي مځکي باندی په جلا،جلاتوګه ديوال په ديوال جوړسوي وه.اوهريوه زوی ئې دځان اوخپلي کورنۍ دپاره کارکاوه.حاجي محمدانورخان دوی ته په ژوند کی هم يوه اندازه جايداد يا باغ اومځکه ورمعلومه کړې وه.چی دهغه دلاری هم دحاجی محمد انورخان اولادوته يوه اندازه عائد راتلی.اوهغوی به خپله ګذاره په کوله.ليکن دهغوی ترمنځ اړيکي پرعلمي اوربنانفکري معيارونوولاړي وې. که څه هم دحاجی محمد انورخان جايدادډيروو،خوداولادونوترمنځ ئې دجايدادپرسرکومه پيښه نه ده رامنځته سوې.چی دغه ممکن ديوې منوري اوروښانفکري کورنۍ ځانګړنه وي.که څه هم دخدای بخښلي حاجي محمد انورخان اڅکزي ترمړيني وروسته دکندهاروالی (سلطان عزيزذکريا)نظردرلودچي ديوې محکمې يا قاضی په وسيله دجايدادتقسيم وکړي، خوداکاردخدای بخښلي محمدانورخان اڅکزي زامنوردکړ.اوپه خپلومنځنوکې هرڅه په مناسبه توګه سره تقسيم کړه. دحاجي محمد انورخان اڅکزي کورنۍ په دغه ګراف کی ليدل کيدای سي.

**محمد انور خان اڅکزی**

---

**محديوسف * محمد افضل خان* محمد اکرم* محمد علم * محمد حسن* محمدکريم**

**د محمدانورخان اڅکزی لوڼي: نورجهانه،بي،بي شيرينه ـ ملاله(معاوينه) ، ستاره اڅکزی.**

**محمد يوسف خان اڅکزی چي کورنۍ نوم ئې کوکو لالا وُ: په ځوانه ځوانی کې په کال ۱۳۲۵هـ ش کي وفات سو.دوزامن اويوه لورئې په ميراث پاته سوه.چي محمد طاهراڅکزی او محمد قاهر اڅکزی نوميده.او لورئې کوکوګله نوميده.**

**محمد افضل خان اڅکزی : چی اولادونه ئې نه درلودله دکوټي په ګليستان نومي کلي کی دپلارپر جايداد ناست وو.**

**محمداکرم خان اڅکزی:محمداکرم خان اڅکزي پنځه زامن اوڅلورلوڼي درلودې. لکه محمد ظاهرافق،محمدصادق،محمدرفيق،محمدداواد،محمدسعيد پټيالی**

**لوڼې : شاه ګله ،محبوبه ، محفوظه ،معصومه اوعطیه نومیده.**

**محمد علم خان بڅرکی : چي درې زامن او یوه لور ئي درلودله زامن ئې : زمری محقق ،ننګیالی بڅرکی زمریالی بڅرکی اولورئې هم بریښنا بڅرکې نومیده.**

**محمد حسن خان اڅکزی : محمد حسن خان هم دوې لوڼي او دوه زامن درلودله لکه : عبدالله (شاه جهان اڅکزی) روح الله اڅکزی اولو ڼی ئې هم محترمه رحمت النسا او ګل غوټي دي.**

**محمد کریم خان اڅکزی : محمد کریم خان اڅکزي هم دوه زامن اودوې لوڼي درلود لې لکه : عبدالغفو(خشنک اڅکزی ) محمد موسا شفق اولوڼی ئې هم سعدیه (میرمن)، لیلما (روښانه).**

دحاجی محمد انورخان زامن اولمسیان ټوله دلوړوزده کړوخاوندان دي.اوهریوئې په خپله ساحه کي ښه نوم اونښان لري.داځکه چي دخدای بخښلي محمد انورخان اڅکزي دروحې سره سم ټوله هیوادپاله اودهیوادپه لاره کې کوښښونه اوسختۍ ګاللي دي.دخدای بخښلي محمدانورخان اڅکزی په زامنواولمسیانوکي دپام وړمحبت، یووالی اومینه شتوٌن لري.که موږدهریوه په باب لیکني وکړوممکن دهریوه دژوند پیژندنه یوجلا،جلا کتاب غواړي،لکه څنګه چي په پورته کسانوکی دعلمي اثارواو کتابونوخاوندان هم شته.چي دافغانستان خلک ئې د نوم اوکړنوسره بلد یت لري.

نوځکه موږدډیري یادوني څخه ډه،ډه کوو.په پورته کسانوکي ځیني دهیوادپه لاره کي شهیدان سوي هم دي.اوزموږدنوروهیوادوالوپه څیرددغه ناوړه شرایطواو انقلابونوپه په بد وحالاتوکي دوی هم قربانۍ ورکړي دي.اوځیني بیاپه طبعي مرګونو سره مړه سوي دي.دهغه شهیدانونومونه چي دثوردناکامه انقلاب وروسته بیا ترنن پوري زموږ کورنۍ دلاسه ورکړی دی اوزموږ کورنۍ ته نه هیریدونکي دي لکه : محمدرفیق شهید،ستاره اڅکزۍ شهیده ،زمریالی شهید اوشهید ضیاوالدین چی زما اخښی یعنی زمادخوردژوند ملګری وو.دلته که موږدنوروپیژند لګلوی څخه ډه،ډه کوو.خودخدای بخښلي ستارې دپلاردلنډي پیژندني ضرورت شته.داځکه چی هغه دخپل وخت غازي اودهیوادبیا سمسورتیا په لاره کې زحمتونه ګاللی دي.ترمقام تیرسوی دی اودډموکراسۍ اواساسي قانون دپاره ئې هم نه ستړې کیدونکې مبارزه دزندان ترکچي هم کړیده.دلته دیوې لنډي یادوني په ترڅ کی دحاجي محمد انورخان

اڅکزي مبارزې په دوبرخوکی سره توضیح کوو.چی دآزادۍ په لاره کي دسقاویان اوانګریزانوسره اړونده ده.دهغه نه ستړې کیدونکې مبارزه دپیروزۍ ترحده.اوبیا په دوهم پړاوکي په افغانستان کي دمشروطه خواهانودغورځنګ پیاوړی مبارزاو دپیروزۍ ترحده.په زندان کې هغه بدشرایط پرځان قبول کړه، چی په نتیجه کې په ۱۳۴۲هـ ش کال کي قانوني اساسي اومشروطه حکومت رامنځته کی.دغه شرایطو ستاره اودهغه کورنۍ راویښه کړه اودحاجي محمد انورخان کورنۍ ئې په هره برخه کي دستارې اڅکزۍ په شمول دهیواد خد مت ته چمتو کړه.




**حاجي محمد انورخان اڅکزی د ملی اوډموکراټیکي مبارزې اتل**

**نوم د ښو او بد و دواړه رسوا ئي ده**

**خو یو ښه او بل خرابه پا لیسي ده**

**دادښوغوښوخو ښه ښورواجوړیږي**

**دبد نسله څه بد نسله پیدا کیږي**

**څلوریځه : ننګیالی بڅرکی**

**دپورته څلوریځي څخه زما مراد دادی چی خدای بخښلي حاجي محمد انور خان دخپلي کورنۍ خښته په ښه ډول ایښې وه.او په حلالو پیسوئې دخپلي کورنۍ پالنه کړې وه.نو ځکه ئې اولادونه او لمسیان هم نیک عمله او ښوونیز،هیوادپاله تربیه سوه.**



**حاجي محمد انور خان اڅکزی د حاجي داروخان اونورو اڅکزوپه منځ کي**

## « د حا جي محمد انورخان اڅکزی لنډه پیژند نه »

حاجي محمدانورخان اڅکزی دحاجي سعادت الملوک خان زوی ،دسربلند خان لمسی ،دیارمحمد خان کړوسۍ اودروشند ل خان کوسی دی.

دی دګلیستان په کلی کي چي دپښتونخواسیمه وه،په ۱۸۷۶م کال کي زیږیدلی دی.او په ۱۹۷۱م پر۲۹دمی دمیاشتي دکندهارپه ده خواجه کی حق ته ورسیدی «روح دې ښادوي».په ۱۸۹۶م کال حاجي محمد انورخان په ګلیستان کې د ابتدائیه ښوونځی څخه فارغ سو.ترهغه وروسته یې متوسطه یا منځنۍ ښوونځی هم خلاصه کړه.اوبیا

يې په مسجد کې فارسي اوعربي درسونه وويل.که څه هم دغه وخت يې واده هم کړی وو،خو! بيا يې هم د ښوونی اوروزني لمن ټينګه کړې وه.

تردرسونوويلووروسته يې په مختليفودولتي مؤسيسوکې هم د نده ترسره کړې ده ،خودانګريزانوسره داختلا ف په سبب ديوه ځايه بل ځای ته تبد ل سوی دی.او اخيرنۍ دنده يې دحقوقي دمسايلوپه برخه کی دتوبي په سيمه کي وه،چي ډيروخت به يې دقوم دخلکو حقوقي پرابلمونه ورحلول.هغه دخپل وخت په مروجه علوموباندي پوه وو،په پښتو،اردو،فارسي ، انګليسي ژبوئې ليک لوست کولای سو.خو په عربي ژبه هم پو هيده.

حاجي محمدانورخان اڅکزی ۹۵کاله ژوند کړی دی.اوپه خپل وخت کې ځانته په پښتني اوافغاني تاريخ کې ځانګړی ځای درلود.که څه هم پښتنوخوهميشه دآزادۍ دپاره ځانونه داورولمبوته ورکړي دي اوآزادي يې هم په ډيروزحمتونود ډيرو غټوقوتونوڅخه ترلاسه کړې ده اوبيا يې دآزادۍ څخه دفاع کړيده اوهغه يې دخپلو وينوپه قيمت ساتلې هم ده،خو!! دبده مرغه،چي ترنن ورځي پوري يې دآزادۍ اواستقلال څخه خوندهم نه دی اخيستی. تنها دبورا په څيرپر شمع ئې هميشه ځانونه ستي کړي دي.

دحاجي محمدانورخان اڅکزی دځوانۍ عمردوخت په ډيروحساسو،څپاندواو دتاوتر يخوا لي په يوه ډيره خطرناکه مرحله کي را پيل سوی دی.

دده دځوانۍ وخت د۱۹۲۵کلونوڅخه راپيل کيږي،داهغه وخت دی چی انګريز انوديوه پلوه په سيمه کی دپښتنواوافغانانودلاسه ماته خوړلې ده، حالات نا آرامه دي اوانګريزان دپښتنوپه سيمه کي لاس وهني کوي اوپه غازي امان الله خان پسي دانګريزانودخواپروپا ګنډې راپيل سوي دي اوپه دننه دافغانستان کي هم ددولت اومذهبي حلقوترمنځ کشمکشونه جريان لري ، ديوې خوادولت دآزادۍ اوډموکراسۍ دپاره تلاښ کوي اواميرآمان الله خان په هيواد کی دنوښتګری ، دښځودآزادۍ اوديوه مستقيل،آزادافغانستان خوبونه وينی،خودبله پلوه دځينو ملايانومخالفتونه اودهمدغه مخالفتوڅخه دبهرنيانوپه ډيره بيا دهند برتانوي رژيم ګټه پورته کړل،په اميرامان الله خان اودهغه دډموکراسۍ پلوه دوستانوپسي ډنډورې دکفراواسلام ووهلې... په

پای کی ددې سبب کیږي چي هیواد د داخلي جنګ وخواته راکش کي.او په کابل کي هم دپښتنوحکومت دانګریزانوپه مرسته دحبیب الله کلکاني دخواسقوط وکی.

مرحوم حاجی محمدانورخان اڅکزی چي په همدغه وخت کی په قوم اوسیمه کي یومطرحه اونامداره وتلی شخصیت وو.دانګریزانوپه مقابل کې خپلي سیاسي اوملي مبارزې روښانه اوڅرګندي وې.په ۱۹۲۹م کال کي د می دمیاشتي پر۲۳نیټه داهغه وخت دی، چي شاه امان الله خان دشپې له خوا دکندهار دلاري وانګریزي سیمي ته ورداخلیږي اوخپل کورنۍ یې وختي لاهم دافغانستانه څخه راایستلې ده.اوبیا دهمدغه ځایه څخه دایټالیا پرلوری ځي.

حبیب الله دسقاوزوی چی پرغلا نیول سوی وو، هغه هم دبند یخانې څخه را خوشې سو.اوپه افغانستان کې په چټکۍ سره د قد رت واک ترلاسه کړ.نه(۹) میاشتې دانګریزانوپه مرسته حکومتي چارې په داسي حال کی سمبالي کړې چی دافغانستان ټول دپرمختګ چارې دسکون اونابودۍ سره مخامخ کړې.

دلته نوحاجي محمدانورخان اڅکزی چي په تاریخی لحاظ دغازي عبدالله خان اڅکزی ۱۸۴۰م کال راوروسته ئې ژوند کاوه،دهغه سره په قومي لحاظ او سیمیزلحاظ رابطه لري. اوهمدغسي په همدغه ګلیستان کاریزکي نورپه قوم کی غښتلي نامداره کسان هم تیرسوی دي لکه : ګلیستان خان ، عبدالصمدخان اڅکزی ، محمد ایوب خان اڅکزی اونور... چي حاجي محمدانورخان اڅکزی هم دیوه سیاسي مبارزپه څیرپه خپله سیمه اودسیمي څخه بهردقوم په آزادۍ، ډموکراسۍ کې په خپل وخت کي ډیرښه ځلید لی دی.نوترهغه وروسته چی خپل ژوندئې په کندهاراوافغانستان کي راپیل کړ،دنوروملګرومباریزینوسره لومړی د کندهار پرلوري دهیوداددنجات دپاره راودانګل اوکندهاریې دسیمی دنوروسیاسي مبارزینوپه مرسته دسقاویانودزورزیاتی څخه وژغوره، د مرحوم حاجي محمد انورخان اڅکزی نومړې سیاسي مبارزه اوپه پاکواحساساتودهیواد د خلکواوناموس څخه د فاع دکندهارد خلکوپه زړنوکي دپام وړځای وموند.حاجي محمدانورخان اڅکزی نورپه کندهارکي میشت سو.په کندهارکې خپله سیاسی مبارزه ددوهمی ستراتیژۍ په حیث راپیل کړه،ددې خبري معنا داده چی په لومړۍ مرحله یا پړاوکې افغانستان دسقاواو انګریزانوداشغال یاتیري څخه وژغورۍ،خوپه دوهم پړاوکې بیادسیاسي مبارزې په

سياسي تشکيلاتوکي ځان بوخت کړ.اوپه افغانستان کې دسولي،ډموکراسۍ ،ټولنيز عدالت اواساسي قانون ږغ اوچت کړ.او نوموړی ږغ ئې هم دافغانستان په کچه سرتاسري کړ.دويښ زلميانو دغورځنګ پلوشې په ټوله هيوادکی وغوړيدې.او دخپل وخت نامتو کسان ددې غورځنګ وشاه ته ودريدل.

اوس نومخکي له دې چی موږدحاجي محمدانورخان اڅکزي،دمبارزوپرمختليفو برخوورږغيږولازمه بولم چی د مرحوم محمد انورخان د مبارزوپرپيل پړاوپرپړاو څه نا څه رڼاوا چوم.

لکه مخکي چي هم يوه اندازه بحث پردغه باندی وسو،چی دسقاود زوی راتګ افغانستان ته دانګريزانويوه درنه اوخطرناکه پيښه اود سيسه وه.دانګريزانوددغي دسيسې بريالی کيده اودپاچا امان الله خان وتل دملک يا هيواد څخه پرټولوپښتنوډيره درنه تمامه سوه.خود لته خبره داده چی څوک مخته سي؟ چي ديوه ښه مشرپه حيث دې غميزي ته دپای ټکی کښيږدي.

همدغه پيښي حاجي محمدانورخان مجبورکړچي مخته سي،ځکه!چی په قوم اوخپلوو لسوونوکې په همدغه وخت کي ديوه ښوونيزاوعلمي،قومي مشرپه حيث ارزښت درلود.چي رامخته سي.نوخپله لومړنۍ صلاح اومشوره يې دخپلودغه دوقومي مشرانوسره شريکه کړه،چی افغانستان دسقاودزوی دچپاولګرۍ څخه وساتي ملګرويې هريوه ملک ايوب اوملک ولات وه چی په لومړي سرکې هوکړه ورسره وکړه. خو!! بيا په وروسته کي دبده مرغه هغه هم پښيمانه سوه.

نو بيا حاجي محمد انورخان اڅکزی خپل ټينګ **اوهغه منورملګری ته ورغی چي مرحوم عبدالعلي اخوند زاده نوميده.**

مرحوم عبدالعلي اخوند زاده دخپل وخت يوډيرنامتومنورباايمانه يوه شخصيت وو.هغه د کوټي په ښارکندهاري بازارکې د طبابت دوکان درلود.اوهميشه به يې پردوکان د خپل وخت منورين راټوليده اوهلته به يې سياسي اوعلمی بحثونه کول.مرحوم عبدالعلي اخوند زاده په دغه وخت کي د منورينومشروو.مرحوم محمدانورخان اڅکزی چی هميشه يې صلاح اومشوره دمرحوم عبدالعلي اخوند زاده سره وه،دهغه سره يې داموضوعوشريکه کړه .اوخپل پلان يې ورته وويلی، خودلته دمرحوم حاجی محمدانورخان سره قومي خلک يوه اند زه سته اوموجودوه،

ضرورت ؤچي باید یوملاهم دځانه سره دفتواه په خاطرولري.خوبیا هم ستونزه داده چي دلته کله داسي ملاسته چی همدي ملا وي او همدي مترقي ملاوي اودآزادئ دپاره دي دقوم ملاتړوکي، خو؛مرحوم عبدالعلي اخوند زاده وویل : په دې مبارزه کی په رښتیا هم یوه هیوادپاله ملاته ضرورت سته.بیا هم عبدالعلي اخوند زاده وویل: چي **مولوي بهرام خان اڅکزی داسي یوڅوک دی چی زموږ دلاري ملګری دي سي.** که څه هم مولوي صاحب بهرام خان اڅکزي اومحمدانورخان مځکي نه سره پیژندل.خودمرحوم عبدالعلي اخوند زاده په شناخت یې سره وپیژندل،دا وخت مرحوم مولوي صاحب بهرام خان اڅکزی د پیرعلي زوپه کلي کې د مسجد ملا ئي درلوده.هلته یې مولوي صاحب په هجره کي ولیداودموضوعو یادونه یې ورته وکړه.

مولوي صاحب بهرام خان اڅکزي ورته وویل:داخوښه خبره ده،پرعلماواو خانانوفرض ده ،چي داقومي ننګ ترسره کړي.خوزه هغه وخت ستاملګری کوم چي تا محا ذ خلا ص کی اوداخل دجنګ سوې.

هغه وخت چي محمد انورخان دمولوی بهرام خان څخه مثبت ځواب ترلاسه کی نو سمدلاسه وخپل کلی ګلیستان ته راغی.اوهلته یې پرقوم ږ.غ وکی؛چي که زه د ننګ دساتلو په مؤخه دسقویانوسره جنګ ته ولاړسم تاسوزماحمایت کوی؟.

قوم سمدلاسه ورسره ومنل اووې ویل: چی ته خان؛دادومره مځکي اوجایدادپرېږدې اودننګ اوناموس دساتلو په خاطرځې نوموږ.خوڅه هم نه لرو ،موږ په سرکی درسره روان یو.دلته ددونوروخانانو یادونه سوې ده چی محمدافضل اوملاقاسم ادوزی دی ،چي دوی هم دقوم مشران وه.مځکي لاواستول سوه او یوه اندازه توپونه اواوټوپکونه یې سره راغونډ کړه.

داوخت شپیته (۶۰) تنه توپچي اوتوپکدارتریوې واحدي قومندې لاندي راغله او پر سقاویانویې دبولدک دسیمي په شاه وخواکي بریدونه راپیل کړه دوه تنه سقاویان ټپیان سوه.د لته خبره یوه اندازه غټه سوه اوکندهارته خبرورغلی چی سپین بولدک اوشاه وخواسیمي داڅکزوترولکې لاندي راغلي دي،نوپه دې وخت کي سقاوي دولت نماینده ګانوهم په کند هارکې اعلان وکی،چي که هرچاه موږ ته داڅکزوسررا وړی دوه سوه روپۍ ئې انعام دی.

پردغه ټولو هلوځلوبرسیره اڅکزي وتوانیده چي په داخل کی دافغانستان ځانوته محاذ جوړکړي. اونورقومي مشران هم دځان ملګري کړي.چي په دغه وخت کي حاجي زقوم خان د خپل زوی حاجي داروخان سره ومحا ذ یا کمپ ته راورسیدل. اوپرموضوع ئې خبري سره وکړې. اومرحوم حاجي زقوم خان هم ودې نتیجې ته ورسیدی چي په کندهارکی دسرتوروعزت په خطرکي دی اودغه جنګ دننګ اوعزت دساتلو جنګ دی، نو په دې وخت کی حاجي محمد انور خان وښاغلي زقوم خان ته وویل : نوچي داسي ده نوترمخه سه چي موږ درپسي درسو.خوزقوم خان داخبره ونه منل اوحاجي محمدانور خان ته یې وویل:چي ته دپلار اونیکه داڅکزوخان راغلی یې په تاپسي ټول اڅک پسې کیدای سي ،مصلحت دادی چی ته ترمخه سې،نودلته محمد انور خان ترمخه سو. چی دنیکه مرغه مولوي بهرام خان اڅکزی هم راورسیدی.

دوی حرکت وکی اودویمه ورځ دمیل ورباط ته راورسیدل.دلته ددوی دلښکرو سره (دادرکزو) بهیرهم ملګری سو.مد د خان کاکوزي ئې ملاتړونه کړ،چي داوخت دکاکوزوخان وو.

په دریمه شپه دمیل درباط له خوادسقاولښکري د موټرانوسره راښکاره سوې، خودوی وختي لا پنځوس کسان دجاغوري توپکواو پنجتیره توپکوسره ورته درولي وه. نو څه وخت چی هغه دموټرانوڅخه را کښته کیده ،داڅکزوتربرید لاندي راغله اوښه ډیرتلفات یې ورکړه.چي په دې وخت کی اڅکزودانګورودباغ په جووکي محاذ ورته نیولی وو.( دنورمعلومات دپاره دحاجي محمد انور خان خاطرات کتاب ۹۱مخ وګوری).

خوپه هرصورت جنګ د لته څوورځي اوشپې دوام پیداکی،وروسته داڅکزو مشرانودالازمه وګڼل چي په یوډول کندهارته ځانونه ورسوی اوهلته د نورو قومونوملاتړهم ترلاسه کي، ځکه دلته که بوخت سوی وای، نوممکن هم یې جباخانه اوهم یې اذوقه خلاصه سوې وای.دوی هم دغه تصمیم درلود چی آوازه خپره سوه چي مهرد ل خان بارکزی هم ددوی په ملاتړانقلاب اعلا ن کړی دی. اوداخبرددوی دپاره په زړه پوری سو،خو بیا په دې فکرکی هم سوه چي ممکن دایوعسکري چال او تاکتیک وي.

ليکن: په واقيعت کي مهردل خان بارکزی داڅکزوپه حمايه خپل غونډ سره تنظيم کړی اودسقاوپرضد ئې په بريالیتوب سره ټوله سپن بولد ک تسليم کړ. همدغسي په دې وخت کی په تخته پول کی دسقاودعسکروپه مقابل کې چي ماشينداران هم ورسره وه ډيرسخت مقاومت وسو، دلته بيا هم يوه ډله دلته دمهمند و رباط تينګ کړاو پر سقاويانو يې شپول ترسره کی : چی نوې قوه ورته راونه رسيږي.

خو بله ډله بيا دحاجي محمد انور خان په مشرۍ دکندهاردزاکراو کرزپرلوري راغله ځودسقاويانومخه راوګرځوي،چي مهمندورباط ته کومک ونه رسوی،لنډه داچی ښارمحاصره سو.اودکندهارنورقومونه هم داڅکزوپه ملاتړودريدل او هغه کسان چی سقاويانو بنديان کړي وه هغه يې بيرته راخوشي کړه،دلته دحکومت چاری په دولتي لحاظ ومهردل خان ته ځکه وسپارل سوې چی هغه يوخودښار سړی وو،دبله پلوه په حکومت کې هم تجربيه درلودله.خودحاجي محمد انورخان دخولې خبره ده چی ماته يې کړيده.(هغه پښتانه قومونه چي په کندهاراودکندهارڅخه بهريې دسقاوملاتړکړی وو،هغوی بيرته خپلوکورنوته سلامت وليږدول سوه. اوهغه چي د حکومت دنوروغيري پښتني سيموڅخه راليږلی سوي وه هغوی همدلته بنديان وساتل سوه، ترڅوژوند يې دګواښ سره مخامخ نه سي.)په دې وخت کی خال ، خال جنګ هم دښارپه ارګ کې روان وو، چي په پای کې دسقاويانوزورورملګری (حاجي کرو) هم مړسواومړی يې پرميدان پروت و دخلک دليدودپاره، دی هغه څوک وو چی پراڅکزويې دکفرفتواورکړې وه.

وروسته ترهغه چي ښارمکمل داڅکزواو کندهاريانو په لاس کښيوت نوبيا يوه لويه غونډه پردوموضوعوګانوجوړه سوه ، چی يوپراداري تشکيلاتوخبری وسوې اودښارقاضي ئې مولوي بهرام خان اڅکزی وټاکه.اوبل هم هلته د کابل حکومت دنادرخان په لاس ورغلی. خواڅکزوهميشه دامان الله خا ن په پلوی خپله مبارزه مخته بيول اوهغه يې دپا چهی مستحق ګاڼه اوخپله نادرخان هم دامان الله خان په نامه خپل فعاليت را پيل کړی وو، خو څه وخت چي واک ته ورسيدی نو ئې تصميم واوښت . دلته دکندهارپه غونډه کی هم نادرخان ځکه وړوګڼل سو چی يوخودامان الله خان راتګ بيرته ناممکن وو.اودبله پلوه امکان دبيا کورنی جنګ موجود وو.دکندهارخلکودغه انتخاب درست وګڼی.اوڅه وخت چي نادرخان کابل ونيوه نويې سمدلاسه په اصلاحاتولاس پوری کړ.اوکند هارته يې عبدالغني خان دوالي په

حيث راواستاوه.اومحمدهاشم خان بيا په دې وخت کي دکوټي دلاري کندهارته راورسيدی.په دې وخت کي په کندهارکي حکومت دمهردل خان په لاس کی وو.اوهغه والي عبدالغني خان اومحمدهاشم خان دواړه ترنظارت لاندي نيولي وه.په دې مجلس کي مهردل خان دمحمد انور خان څخه هيله وکړه چی اڅکزي دي زما سره مرسته وکي. خو په دې مجلس کي بيا پخوانی والي ( محمد سرورخان) هم ناست وو، هغه سرسرتورکی اووې ويل : چي دخدای روی وګوری مسلمانان مه سره قتلوی.په دې وخت کي حاجي محمدانورخان اڅکزی ولاړسواوداڅکزوپه استازيتوب يې وويل:(موږ چي دلومړي سره په جنګ پيل کړی دی .غرض اوغايه مودوريندارګانوپوړني پرسرسمول وه،اوس شکردخدای په فضل هغه مقصد حاصيل سو.نورنووروروژنه اوبد بختي قوم ته نه را وړو.) مهردل خان نورچپ سو.

په سبا شپه سردارعبدالعزيزخان دکندهارداڅکزوډوډی کړې وه، په دعوت کې دمحمدهاشم خان اوعبدالغني خان دقوله وويل:اڅکزوداجنګ دڅه دپاره کړی دی؟.حاجي محمد انورخان اڅکزي ځواب ورکړاووې ويل:( اڅکزودغه جنګ دقوم پرننګ کړی دی.اوپه قوم کي چي هرڅوک ددې کاردپاره موزون وي،دهغه دپاره موداجنګ کړی دی.ځرنګه چي په اوس وخت کي ترمحمد نادرخان بل وړکس نه سته نومود محمد نادرخان دپاره داجنګ کړی دی).

دلته موږ بياهم په لنډه توګه يادونه کو،چي مهردل خان چی حکومت يې په لاس کي وو، ديوه پلوه ئې دخلکو په مقابل کې برخورد يوه اندازه خښمګين وو، خودبله پلوه يې حکومت ومحمدهاشم خان اوعبدالغني خان ته نه سپاره، خودحاجي محمد انور خان په ويلويې حکومت محمد هاشم خان ته وروسپاره.اود محمدهاشم خان امنيت هم اڅکزوساته،موږد لت ددغه موضوعوڅخه تيريږو، که يې نور هم وڅيړونوممکن تاريخ ځيني جوړسي، نوکه څوک په دې باب ډيرمعلومات غواړي نوبا يددحاجي محمدانورخان کتاب ( دمحمدانورخان اڅکزي خاطرات وګوري)چي مر حوم محمد علم بڅرکي ليکلی دی.

ولي دغه ټينګي ملي مبارزې دستارې اڅکزئ دپلارپرټولواولادونواوکورنيو اغيز مندی تمامي سوي وې.اودکورنئ ټوله غړي ئې هيوادپاله اودسرپه سودادهيواد ساتني ته چمتووه.چی په دې باب په نوموړی کتاب کي موږ د ستارې اڅکزئ دژوند

ملی اوډموکراټیکی مبارزې یادولای سو.دااوسنی وخت چي موږ ژوند په کښي کوو، هغه حالات دی چی تر بل هروخت هیواد ومنورینوته اړتیا لري. په ځانګړې توګه بیا ښوونیزودتجریبې لرونکوښځوته. چی په همدغه حساس وخت کی ستاره اڅکزی اودهغه خدای بخښلی د ژوند ملګری د کیمیا په برخه کي ډاکټردرویزه دجرمني هوساوښه شرایط پرېږدي اودواړه په صلایا مشوره سره دهیواددسمسورتیا په لاره کي خپل نه ستړې کیدونکی هلي ځلي کوي.ترڅودهمدغه وطن پالنی په روحیه دواړه دهیوادپه لاره کي دمذهب دټیکدارانودخواڅخه په شهادت ورسیدل. دخدای بخښلي درویزه شهادت می هم ځکه یادکی چي هغه پسله ستارې څخه ډیر لږوخت وروسته مړسو،زړه ئې بیله خپلي محبوبي (میرمني)څخه دحرکت توان او طاقت دلاسه ورکی.اودهغه بې وخته مړینه دهیوادد قربانیواودهیواد دابادولوپه لاره کي یوه داسی مړینه وه چی داترشهادت په کمه هم نه وه.دوی دواړه دهیواددابادولو په لاره کي مړه سوه.اوترهغه ځایه ئې دهیواد خد مت هم وکی کوم چي دوی ژوند درلود.دکندهارد پوهنتون لابراتوارئې په مجهزه توګه جوړکی، دغازي عبدالله خان اڅکزي لیسه ئې د بیا دپاره ورغول. اونور... روح دې ښادوي.



## دستارې دواده یوه لنډه یادونه :

ستارې اڅکزی ترډیره وخته دواده تصمیم نه درلودی.او همدغه رازئې تر دیرش کلنی وروسته دمهاجرت په شرایطو کی دیوه بل افغان مهاجرچی دډیره وخته په جرمنی کی دکسل په ښارکې ژوند کاوه،دواده دقسمت تړاووسو.هغه ځوان ښاغلی درویزه اڅکزی نومیده.چی مخکې هم په باب خبری سوي وې.دخپلي خوښي پربنسټ دژوند د ملګرتوب تړاووسو.

ښاغلی درویزه چي دمحمد ظاهر خان په وخت کي جرمنی ته په یوه رسمي او تحصیلي بورس سره راغلی وو،دکیمیاپه ریښته کې لوړي زده کړي دډاکټری اویا پې ، ایچ ، ډي ترکچي ئې لوړي زده کړي کړې وې.درویزه یوهیوادپال،پوهه اودپاک زړه خاوندپښتون ؤ.ښاغلی درویزه پخوالا دستارې دژوند اودهغې د کورنۍ اوښه شخصیت سره بلدیت درلود.اوهمدغسی ئې دهغه کورنۍ په ډیره ښه توګه سره پیژندل.اوددوی دمیني اواړیکوترمنځ هغه وخت دغه تړاوپیداسوکوم چی ستاره اڅکزی هم دافغانستان دهغه بد و شرایطو څخه مهاجره سوه اودجرمنی هیوادته ئې دنوروافغانانوپه څیرفناه راوړه.او همد لته په جرمنی کي قبوله سوه.اوهم دلته ئې دځان دپاره دکار دپیدا کولوهڅه وکړه، خو لږوخت وروسته ئې د ګلانود تنظیم، ساتلواونوروبرخوکې د ګلانوپه باب زده کړه وکړه. اوپه همدغه ریشته کې کار ځانته پیداکی.اوبیا وروسته دښاغلي درویزه سره دژوند تړون وسواوګډ کورئې سره ابادکی.ښاغلي درویزه یوزوی هم درلودچي نوم ئې وزیرپرایښی وو.دوزیر مورمخکي لاوفات سوې وه اوزوی ئې (وزیر)دپلاردرویزه سره اوسیده.ستارې اوښاغلي درویزه په دواړودخپل دغه زوی ډیره ښه پالنه کوله اوښاغلي وزیرته ئې د مورمینه ورکړې وه.وزیرهم دستارې په مینه باوردرلوداودمورارزښت ئې ورته درلود.خودغه خبره خپله د د وزیرخبره ده چي ماخود مورمحبت نه ولیدلی داځکه چي دهغه مورپه کوچنیوالي کي وفات سوې وه.خوستارې د د رویزه زوی ته د مورمحبت ورکړی وو.

ښاغلي درویزه او ستارې پسله هغه چي دمیني واده سره وکی نوګډ بریالی ژوند ئې په جرمني کي راپیل کړ.اودستارې دنوري کورنۍ سره هم اشناسو.همدغسي زموږکورته په پلا،پلاسره راغلی وو.دهغه مجلس ډیرخوږاوعلمي،مستند مجلس درلود،مستندي معقولی طرحي ئې دافغانستان دستونزوپه باب درلودلې.درویزه همیشه کوښښ کاوه چي په خبروکي یوازی پښتولغاتونه وکاروي،هغه لغاتونه چي هم اسانه وی اوهم ئې جمله سمه راځي د بیلګې په توګه:د خط پرځای(لیک) دتشکورپرځای(خوښنه) همدغسی په زرهاوعربي اوفارسي لغاتونه ئې د مطراد یفولغاتو په سلسله کي استعمالول. خوپه جمله کې دپښتو لغات ته ئې ارزښت ډیرورکاوه.څه وخت چی ما دښاغلي درویزه صاحب دغه استعداولید نومي دګډي مرستي غوښتنه ځینی وکړه.اوهغه په مینه زماغوښتنه ومنل.اوداحمدشاه بابا دعلمي

ادبي ټولني په نشراتي ارګان (ملی هنداره ) کې يوه صفحه دساينس او پوهني په نوم واخيستله.اودغه صفحې ډيرمينه وال هم پيداکړه. ددرويزه سره زموږ دکوردمشرانواو کشرانوهم بشپړه مينه پيداسوا.اودی زموږ دټوله کورنۍ د پاره په زړه پوري علمي شخصيت ګڼل کيده. ښاغلي درويزه هم زموږ سره مينه درلودله.که ددرويزه په باب نورهم وليکم ممکن يو بل کتاب ځينی جوړسي. خودومره په پای کي يادونه کوم، چي درويزه يو هيوادپال افغان وو.او دهمدغه ميني پر بنسټ افغانستان ته ئې دسختوشرايطو سره، سره هم تګ اورا تګ درلود.حتا په کابل کې دځان داستوګني په خاطريوکورهم په تايمني کي رانيوی.اوهميشه په دغه فکرکی وو،چی دجرمنی هيواد پرېږدي اوافغانستان ته ولاړسي اوهلته علمي اوګټور فعاليتو نه ترسره کړي.په دې باب ئې خدای بخښلې ستاره هم دځانه سره په يوه نظرکړې وه.څوپه دوه زره پنځم (۲۰۰۵م) کال کي دواړه افغانستان ته ولاړه.چي دغه وخت حامد کرزی جمهورريس وو.

خو که ددې موضوعو څخه ووزم نودلته دغه پوښتنه هم دیادولووړده چي ستارې اڅکزی ولی دغه دومره وخت دپلارپرکورتيرکړه یاناسته وه؟.او واده ئې ولی نه وکړی؟.

داځکه: چی دیوه پلوه هغه ترډیره وخته په درسونوباندي بوخته وه.اوډير ذوق ئې دزده کړی خواته اړولی وو.اوپه همدغه ډول دستارې اڅکزۍ سويه ترهغه زده کړی نوره هم ډيره وه چي دې ترينورسټی یا دپوهنتون دليسانس ترډيپلومه پوری درلودله.هغې ډيره زده کړه دمختليفوکتابونوڅخه ترلاسه کړې وه،په دې معنا چی دهغې دمطالعې کچه لوړه وه.نو که ديوې خوا څخه ئې په سويه ځوان نه پيداکيده، خودبله پلوه دهغې دپاره واده کول اوپرواده کولوباندی عجله ياتلوارکول يود لومړيوضرورتوڅخه نه حسابل کيده، بلکي؛هغه دهغه وخت دځپل شخصيت دتکميل په فکرکی ډيره وه.او په همدغه سبب ئې پسله تحصيلاتوڅخه په لوړوښوونځيوکې لکه :(زرغونه انا ليسه ، عينو ليسه اوپه کابل کې امينه فد وي ليسه کې ) زده کونکو ته زده کړه ورکول اوبيائې په کندهارکی دښځودټولنی رياست لوړرتبه ماموريت ترسره کړی ؤ، چی په همدغه لاره کې د ښځود تنويردپاره په زړه پوري ګامونه وچت کړه.چي دغه ګامونه دکندهارپه هغه شرايطوکي څه اسانه خبره هم نه وه.او دوخت حکومت هم په هغه شرايطو کی يو داسي وړ کس نه سوای تر لاسه کولای

چې هم دي دلوړوزده کړوخاوند ه وي،هم دی دباوروړوي،هم دي ظرفيت ددې ولري چې دکندهارپه شرايطو کې دي دښځودغورځنګ دپاره عملي ګامونه واخلی.ستارې اڅکزۍ ته تر واده کولو دا ډيره مهمه خبره وه،چې دکندهارښځې اونجوني بايد په لوړه کچه په ښوونه اوروزنه کې برخه واخلي.د کندهارنجونی بايد په سپورټي لوبوکی يولوړمقام ته ورسيږي.اوهمدغسي بايد دښځوونډه په وټيزوياقتصادی برخو کې دتوليد پرميدان ځرګنده سي.اوپه ټولورسمي اواداري ارګانونوکي بايد ښځي هم فعاله برخه واخلي، چې دادستارې اڅکزۍ دفعاليتونويوه برخه وه.اوپه هغه دوره کی چی دټوله کندهارد ښځومسؤليت اويادميرمنودټولني مسؤليت ورپه غاړه وو،هغه ئې په ډيره ښه توګه ترسره کړی، اودغه وخت د کندهارښځوپه مختلفوبرخوکې ښه دپام وړپرمختګ هم وکی.اودغه وخت دميرمنو ټولنه يوه فعاله ټولنه وه.چې ډيري فعاله ښځي ئې هم وروزلې.که نورهم هغه شرايط په افغانستان کی دوام پيدا کړی وای،نوپه دې کي شک نسته چی دکندهار دښځوتحصيلي کچه به نن دنړۍ دپرمختللو هيوادوپه کچه کی وای.ددې څخه وروسته ستاره اڅکزۍ دکندهار دنامداره ليسې عينو ليسې امره وټاکل سوه، ديوې ليسې مسؤليت هم څه لږ مسؤليت نه دی.هغې دخپلي ورسپارل سوي دندي سره بشپيره مينه دلودله،په پوره صداقت ئې خپلي دندي ترسره کولې.نوټوله فکراوتوجوئې د خپل ورسپارل سوي مسؤليت وخواته ؤ.دغه وخت که څه هم دستارې اڅکزۍ ټاپه ځواني هم وه.خودهغې توجووواده کولوته نه وه.خو؛دډيروځوانانوپاملرنه دې ته وه. ستارې اڅکزۍ دهيواد د بيا ابادولواو هيوادته نوی تمد ن اوپرمختګ ډير مهم ګڼل کيده.که په افغانستان کي پرله پسې انقلابونه اودبهرنيانولاس وهني دافغانستان دخرابولوپه برخه کي نه وای راغلي افغانستان به نن ډير يوپرمختللی هيواد دنړۍ په حساب په لوړه کچه کی وای.اودستارې غوندي ډيري هيوادپالي به ئې په خپل غيږ کي روزلي وای.

خو! لنډه داچي دستارې دواده څنډ اوپه وروسته کی واده کولوعلتونه دهغې سخت محبت دهيواداودندي سره وو.نوئې ډيره توجودځان اوکورنۍ دجوړو لودپاره ونه سوای کړای.اوهمدغسي دنورونجونوپه څيرئې د ډ يرارايش اوسينګارمينه هم نه درلودله اوډيره ساده ژوند اوساده به ګرځيد له.د نارينو سره به ئې هم دورنو په شان ټوکي ټکالي کولې،په کوڅه اوبازارکي دشناخته خلکوسره به ئې خبري اومجلسونه

کوله.د کورحال اواحوال به ئې په مینه اومحبت ځیني پوښتلی.هغې ډیریوپاک اومهربانه زړه درلود.اودهیوادټوله وګړي ورته دیوې کورنۍ په څیرښکاره کیده.ددې دغه ټولنیزطبعت دنارینو په څیرؤ.اودغه طبعت ئې دوړکتوب څخه بیاترپیغلتوب اوبیا د ژوند تر اخیره پوري درلود.

ستارې اڅکزۍ په ۱۹۸۹م کال په شاه وخوا کي دښاغلي درویزه سره دمیني پربنسټ دجرمني په هیواد کې د کورنۍ په صلاح اومشوره سره واده وکی.دنوموړوواده د میني،سلیقې اودګډ ژوند په خاطروو.دوی دواړه یودبل په خوی اوبوی ډیرښه سره پوهید ل.په ګډه ئې تصمیم نیوه،په ګډه نظرونه اوکارونه سره تنظیمول،همدغسي په خپلوکي یودبل په طبعت سره ښه پوهیدل.د د وی دواړواقتصادي حالات ډیرښه وه اودواړودجرمني په هیواد کې هم کارونه درلودله،داقتصادیوه برخه ئې دهیواددپاره په ښوونیزو چاروکي هم مصرفول.درویزه که څه هم په جرمني کي ژوندکاوه خود کورنۍ یولړاړونده کسان ئې په کندهارکي هم اوسیدل،چي دهغوی سره ئې هم خدای بخښلي ستارې اوخدای بخښلي درویزه صاحب مرستي اوکومکونه کوله.

ددوی دواړوخدای بخښلونیکي ځانګړني په دې کي هم وې، چي پراړونده دوستانوبه ئې پوښتنه کول.زه یووخت په کابل کي اوسیدم.اوپه دریم مکرویانوکی مي خپل کوروو. په څوځله ئې زما خبراخیستی دی اوزما پر وتیزحالت ئې پوښتنه کړیده. خو دنیکه مرغه هغه وخت دولت موجودو.اوزه ددولت ماموروم.اقتصادي حالات مي سم وه.ددوی دکومک یا مرستي څخه مي مننه وکړه، خودوی ددې لطف اومحبت درلودچي زماد وضیعت اوحالاتوخبر واخلي، چي دغه هم دښې دوستۍ بیلګه کیدای سي.

زه ددواړوخدای بخښلود ګډ ژوند اوواده کولوعلت ددوی دپوهي اوسوئې پربنسټ بولم.ځکه چي دهیوادپه کچه دوی دواړوهغه سویه درلودله چي زموږ.په دې ځپل سوي هیواد کي ددوي په شان دلوړوتحصیلاتودرلونکي به نه وه اویا به هم ډیرلږوه.اوبل علت ئې ددواړوکورنیومخکنۍ شناخت هم ددوی دګډ ژوند پرپیوند یااړیکو باندی ژورتاثیردرلودای سي.

مخکي مي هم یادونه وکړه چي دوی دواړوخدای بخښلودهیوادسره مینه درلودله،خوهیواددغه وخت دپردیوتریرغل لاندی وو،نوهیواددوی سره دمیني

داظهارتوان نه درلودی،ځکه چي دهیواد خلک آزاداومستقیل نه وه. دهیوادلوړپوړي چارواکی دبهرنیانوپه مرسته په سخت فساداخته وه او دغضب پرمیدان ئې دهیواد ګټې اودهیوادارزښتنوته پاملرنه نه کول،معنوي ارزښتوته ئې په سپکه سترګه کتل.او هغه هیوادوالوچي به ئې دد وی سره دجوال خوله نه نیول هغه ئې ډیربد ایسید ل اود منځه وړلود سیسې به ئې ورته جوړولې،مایوسه کوله به ئې اویابه ئې دهیواده فرارته اړایستل اویابه ئې خپله یا په دښمن باندي ترورول.هغه چا به په افغانستان کی ژوند کولای سو،چی یا به ئې دتوپک سړي درلودل اویا به هم دیوه خارجي هیواد دخوا څخه حمایه کیده. ددې خبری اثبات ته هیڅ ضرورت هم نسته ځکه هر څه دلمرپه شان روښانه دي.موږ په افغانستان کی دغه جنګ سالاران پیژندل او پیژنوئې،چي مخکنۍ ژوند ئې دیوه عادي انسان په شان وو،یا هم دغریبو خلکوڅخه وه.خودقتل اوقتال په میدان کي دومره سرمایداران سوه چي پیسې ئې ترمیلنونو ډالرووا وښتې.دغه وخت خارجی یرغلګرپه دغوخطاایستونکوشعارونود۲۰۰۱م کال دبن دغولونکي کنفرانس څخه وروسته هیوادته رااننوتل.لکه:نړیوال تروریزم، نړیواله دهیرو هینوقاچاق، ډموکراسي اوداسي نور...دغه ټوله برعکس سوه.اوپه هیوادکې دبن دکنفرانس څخه وروسته نااهله کسان واک ته ورسول. اوافغانستان ئې دوې لسیزي دنړیوالورقابتونودجنګ میدان وګرځاوه.دلته عمومی پالیسي دا وه چي هیوادپاله کسان هغه کسان چي دهیواد ملي ګټوته ژمندوه هغه کسان دهیواده څخه فرارته اړباسي اوکه هیواد ته دننه هم دهیوادپالني په اساس راداخل سي، نوباید یا دمایوسۍ په حالت کي ژوندوکي اویا هم بیرته دخپل دغه ملي روحې څخه پښیمانه او دهرځایه چي راغلی وو،بیرته هم هلته ولاړسي.ځکه په هیواد کي ځنګلی قانون اودځنګل وحشان اوسیدلای سي.دایوحقیت ؤ.ځینودغه حقیقت ډیرژردرک کړای سو.خو! ځینوبیادغه حقیقت ته دشک په سترګه کتل ، دامید په سترګه کتل، چي نن به سم سي اوسبابه سمیږي.خوهغه په دغه دولسیزوکي موږاوس وینوچي ورځ تربلې خرابیږي.اوهیواددبربادۍ خواته کشول کیږي. ددې خبری معنا داهم ده چي هغه وخت چي خدای بخښلي ستارې اڅکزی اودرویزه په افغانستان کی دکاراو خدمت دپاره راغلی وه ، دهغوی په وخت کي داعیش لاافغانستان ته سرنه وو،ورکښته کړی .خوموږوینو چي داعیش هم نن ورځ په افغانستان کي یوواقیعت دی، یو ه

خطرناکه پدیده ده.چي دیولږ هیوادوڅخه د تیاروااولوتکوپه واسیله دې هیواد ته د خپلو پاسپورټنوسره را داخلی سوی دي اودافغانانوسره جنګیږي.

ددې خبري معنا داده چي هرافغان چي په ملي روحیه افغانستان ته د کاراو خدمت دپاره تللی دی .یاوژل سوی دی اویا هم بیرته مایوس دهرځایه چي راغلی وو،هم هلته بیرته تللی دی.اویا هم په هیواد کي په فساد اخته سوي اویوفساتي ځینی جوړسوی دی. ځکه چي زموږ هیواددپردیوتریرغل لاندی دغه دوې لسیزي سختي شپې اوورځي تیروي.

خدای بخښلي ستارې اوخدای بخښلی ډاکټردرویزه دغه حقیقت تردیره وخته درک نه کړای سو.اوپه عجله دهیوادپه مینه ئې دهیوادپرلورپه هغه فکرونوکی ورودانګل،کوم چی ئې نقلونه د خد مت او هیوادپالني په ذهن کی تاواو بالاکیده. دوی فکرکاوه چي موږته د بیا ابادولوپه چاروکی ډیره ښه موقیع راکړل سي.خو!هغه داسی نه وه.ستارې هم غوښته چي دښوونی اوروزني په برخه کی کارولري. اودهمدغه لاري خپله پوهه دهیوادوالوسره شریکه کړي.همدغسي باید ښاغلي درویزه ته هم دکندهاردپوهنتون په برخه کي دهغه پوهنتون دریس په توګه کار ور ګمارل سوی وای.ځکه هم ستارې اڅکزئ دلوړي چوکۍ اومقام ارزښت درلوداوهم ډاکټردرویزه ددې استعداد درلود چي په پوهنتون کي دي دمشرپه توګه ګمارل سوی وای.خودغه کار دوخت حکومت ونه کړ.ځکه دغه وخت دغسي چوکۍ یا تنظیمي خلکو ته ورکول کیدې اویاهم هغه کسانوته!چي دغه چوکۍ ئې رانیولای سوای.اویا هم دیوه بهرني هیوادسره ئې اړیکي درلودلای.خودغه صفتونه خدای بخښلو ستارې اودرویزه نه درلودله. نوستاره مجبوره سوه چي دوولس دلاري انتخاباتوته چمتوسوه اوولس دې ته رایه ورکړه ستارد کندهارولایتي شوراته بریالۍ سوه.اوپه ټوله شوراکی یوازنۍ کس وه چی لوړي زده کړې درلودلې.ستارې اڅکزی دکندهار دځوانانوپه طبقه کې یولږمحبوبیتونه پیداکړه.اوورځ تربلي ئې دکندهارپه ښار اواطرافوکې دخلکوسره دمرستي اوټولنیزواړیکوپربنسټ مینه ډیریدله،چي همدغه علت سو چي ستاره دوخت حکومت هم تحمل نه کړای سوای اودښمن خولا مخکي دافغانستان دملي شخصیتونوپرضد تروریزم دیوې وسیلې په توګه استعمالاوه.نود لته ددولت د نه توجواونه پاملرني په سبب اودتروریزم د شوموهد فونو،غیری انساني عملونوپه سبب دتروربښکارسوه.که چیري دوخت رشوت خوره اودخارجي

يرغلګروجاسوسانوغوښتي واى چي داوساتي.په ډيره اسانتيائي ساتلاسواى. خوداکارهغوى ځکه نه کوه،چى ستارې به ټول وخت دخيانت په مقابل کې ټينګه اوبامسؤليته ولاړه اوهرډول خيانت ئې محکوموى.ليکن خبر داسي وه.چي هلته فساد ددولت يوه قانوني مسئله وه.ځکه ټوله په غضب اخته چارواکى دمځکوپه غضب اوفساداخته وه.نوځکه ستاره دملى مبارزې په ميدان کى دانساني کړنو، دهيوادپالني په جرم شهيده کړل سوه.روح دې ښاد وي.خودرويزه هم پسله ستارې څخه ډيرژوند ونه کولاى سواوپه هغه پسې ډيرلږوخت وروسته ئې زړه ودريدى،اوحق ته ئې خپل روح وسپاره ددواړودى روح ښادوي.اويادې تل وي.خودغه خبره بيا هم ديادولو وړبولم،چي دهيوادپالنى روحيه قربانى غواړي، خودوى مځکى لاهم په يوه اندازه دغه خطرليدى،احساسوى ئې،دغه مينه دهيواد پالني مينه وه.چى د بيري احساس ئې ځينى هيرکړى وو.اوپه نړۍ کي د قهرمانانوژوندکه څوک مطالعه کړي نوورته جوتيږي.چى هغوى هم لږ،لنډژوندکړى دى،خودقهرمانۍ ژوندئې تيرکړى دى.هغوى هم دهيوادپه لاره کې هرډول خطرونه پرځان منلى وه.خوهد ف ته ورسيدل.نوموړ.هم ددوى دغه قرباني دحق په لاره کي بيله هدفه نه ګڼو،بيله ګټى ئې نه ګڼواودغه علمى اثربه ددوي دتاريخ اومبارزوشاهد وي.



**په پورته عکس کي د ښځودغورځنګ دنورومخوروښځوپه څنګ کې ساجده بڅرکې مخامخ دراسته لاس خواته اوياپه ولاړو کسانو کي دڅپه لاس خواته ليدل کيږي.چي دميرمن ستارې اڅکزى ورينداره اوخاله کيږي.**



**په کندهار کې د کال ۱۳۳۷ هـ ش کال د ښځو دغورځنګ مخکښا نې**

## پا يله

که څه هم په افغانستان کې د منظموسياسي تشکيلاتواواصلاحاتوپيل د۱۸۷۱م کال څخه سوی دی، دغه وخت شمس النهارجريده هم داميرشيرعلي خان په وخت کي وځليده.اود مشروطه خواهانولومړنی حرکت هم را پيل سو.په افغانستان کې په ځينو کورنيوکي هم د ښځوشعوررابيداره سو،خوبرسيره پردې چی دوخت حکومتونواو مذهبي مشرانودنووپد يد وسره مخالفت هم کاوه،خودحرکت پيل محسوس کيدای سوای.

په دغه وخت کې په افغانستان کي مستوره غوري د سيد محمداعظيم لوردغور دپرچمن اوسيدونکې وه. چي په ۱۸۲۹م کال کې ژوند کاوه.دې خپل شعري ديوان دخپريدوترکچی ورسوی.دې دښځودغورځنګ دپاره نه ستړی کيدونکی هلي ځلي وکړې.اوډيره يوه فاضله اود مترقي سبک خاونده هم وه.

که څه هم تردې د مخه هم په افغانستان کي شاعرانی اوليکوالانی وې، چي موږ ئې بيلګه دشاه حسين هوتکی په زمانه کی د محمد هوتک په پټه خزانه کي ليدلای سو.زموږ په ګرا ن افغانستان کي ، چي دتاريخ په اوږدوکې وښځوته په ټولنيزوسا حوکي برخه ورکړل سوې ده.اودښځو تاريخ که وکتل سي ، نودناريوپه پرتله که درند نه وي خوسپک به هم نه وي .اودتاريخ په جوړونه کې بشپړه رول اوسهم درلودلی دی.البته داخبري موږدهغه دوران کوو،کوم چي افغانانوخپل سياسي

استقلال درلود.که موږخپل بحث ته ادامه ورکړونوموږبه دافغاني ښځوتاریخ ته یوځل دهوتکودمستقیل دولت په څیردافغاني ښځورول دهنر،ادب اوپه هیوادکي دننه دآزادئ اواستقلال په پروسه کي وګورو.دهوتکوپه دوران کي پسله هغه چي ښاغلي ملي مشرمیرویس خان نیکه دآزادئ بیرغ پورته کړاوافغانستان یې د ګورګین دظلمه څخه خلاص کړ،نوپه کندهارکي یوادبي مجلس دنارنج په تاریخي کلاکي جوړسوچي په دې وخت کي شعراوشاعرئ پوره پرمختګ اوانکشاف وکړ.اوپه دې وخت کي ښځینه شاعراني هم راڅرګندي سوې،چي یوهم دهغو دجملې څخه نازوانا وه ، نازو انا! یوه علمه ښځه وه او په علمي کورنئ پوري یې اړه درلودله ، چي دښا علم خان لورد کلات اوسیدونکې اوپه قوم توخې وه، خودهغه دشعردیوان که څه هم زموږ لاسته نه دی راغلی خوویل کیږي ، چي شعري دیوان یې هم درلود.دهغه دغه پوخ شعرچي دنن ورځي په شاعرئ کې هم بیلګه نه لیدل کیږي ددې خبري پوره ثبوت ورکوي ، چي نازوانا به خامخا شعري دیوان هم درلودی.

**سحر ګه وه د نر ګس لیمه لا نده**

**څاڅکي ، څا څکي یې له سترګوبهیده**

**ما ویل څه دي ښکلې ګله ولي ژاړې**

**ده ویل ژوند مي دی یوه خوله خند یده**

نازوانا نه یوازي یوه شاعره وه بلکي؛هغه یوه ملي مبارزه هم وه ، چي د مغلوپه مقابل کې دکلا په ساتلو کي دناربنوپه څنګ کي ملي د فاع کوله.

او په دغه شان بي بي زینب هم ددغه وخت یوه نامتو شاعره او دمیرویس خان نیکه لوروه ، چي دشعرنمونه یې موږدشاه محمودپاچا پرمړینه ویرنه کتلای سو. را بعه شاعره هم دخپل وخت نامتو شاعره ، رابعه بلخي هم دبلخ نا متو شاعره وه او داسي نوري مباریزي ښځي او شاعراني موږ په افغانستان کي درلود لې ، چي دهیواد دپر مختګ په مختلفوبرخوکې ونډه ترناربنوپه کمه نه وه.

دښځوپه تاریخ کي دهوتکوددوران څخه که یو قدم را پورته سو، نو داحمدشاه بابا په پیرکي هم دښځوونډه څه کمه نه،چي موږبیاهم دزرغونې انانوم یادولای سو: چي هروخت به یې خپل زوی احمدشاه ته نیکي مشورې ورکولې.همدغسي عینوهغه

ښځه وه چي دملي ګټوپه خاطرئې خپل میره دکوره څخه منعه کړی،ورته ویل ئې : تاسوفتحه وکړه ، هغه وویل هو!موږفتحه په نصیب سوه، نومیرمن ئې پوښتنه ځیني وکړه، چي ستاسونورملګری څه سول؟.هغه وویل:زموږنورملګری هلته په اتراکو کي ناست دي... نوعینوویل: نوته څنګه راغلی ئې احمدشاه بابا اونورمبارزین په تا خبردي؟.خوهغه وویل:نه؛په همدغه شپه ئې بیرته عسکري محاذته بیرته ولیږی،چی دغه نقل تراحمد شاه باباپوري ورسیدی اوهغه قهرماني هیوادپالي ښځي یعني عینوبي،بي ته ئې دغه کاریزپه کندهارکي دعینو په نوم کی. چی تراوسه هم د ددې ملی مبارزي نوم پریادیږي. اویوغښ شعراویادونه هم دعینوپه نوم سته چی وائي:

## دعینو کاریز یادیږي

## ښه اوبد عمل پاتیږي

دائې دوخت د ملی مبارزي عینویوه نمونه یابیلګه وه. خووروسته بیا هم په افغانستان کي د میرمن ملا لي دوران چي د کال ۱۸۷۸م دافغان انګلیس په جنګوکې خپل رول ښودلی دی،اوهرافغان یې دنوم سره هم بلد یت لري.اومشهوره لنډۍ یې زموږ په ذهنونو کي ځای لري . هغه دانګریزانوسره په مخامخ جنګ کي دنارینوسره په یوه سنګرکي دآزادۍ دپاره جنګید له اودازادۍ بیرغ یې اوچت وساته،هغه په خپله یوه ناره کي داسي وایي :

خال به دیاردوینو کښیږدم ـ چي شینکي باغ کي بلبلان وشرموینه

که په میوند کي شهید نه سوې ـ خدایږولالیه بې ننګۍ ته دي سا تینه

دمیرمن ملالي نوموړې لنډۍ ترتوپ اوتوپک هم په کمه نه وه،خویوازي زموږ دپورته بیان څخه مراد دادی ، چي په آزاد افغانستان کي دښځورول دنارینوڅخه کم نه ؤ.اودژوند په ټولوساحوکې دنارینوپه څنګ کې خپل حقوق درلودل،خوداچي ولي دژوند په چاروکي وروسته ترهغه چي موږ خپله ازادي دلاسه ورکړه او ښځي هم دنارینوپه ډول دناخوالوسره مخامخ سوې اوپرښځو پا بندۍ ولګیدې،زمادنظره دژوند په ټولوچاروکي ترهرڅه نه مخکي آزادي یولوی نعمت دی.په افغانستان کي دښځو نهضت هغه وخت خاموشه سو،چي انګریزان دې خاوري ته رانننوتل اود لته یې

دخپلوګوډاګيانوپرلاس مصنوعي اسلام رواج کړاودخپلوملايانوپه وسيله يې داسلام څخه شومه ګټه واخيستله اواسلام يې دتند روی وخواته سوق يا ټيلوهه. چي موږته داغميزه د۱۸۳۹م څخه دانګريزانودلومړي يرغل څخه وروسته راپه برخه سوه. په دې هيوادکي آزادي ترفشارلاندي ونيول سوه،بيا تر ۱۹۱۹م کال پوري چي اعليحضرت امان الله خان خپله آزادي دبيا دپاره اعلان کړه اوافغانستان په نړيواله سطحه آزاد افغانستان وګڼل سو .

خوترهغه وروسته چي نړۍ دافغانستان آزادي په رسميت وپيژندل،نويوځل بيا افغانستان دډيموکراسۍ پرلوري ګامونه اوچت کړه،دښځونهضتونه رامنځته سوه د نا پيلوهيوادونوسره اړيکي په نړيواله سطحه ټينګي کړل سوې، دقانون جوړولو فکرونه په سيا سي اوتنظيمي توګه را پيدا سوه اوقانون ګذارۍ ته نوي لاري اوپلونه جوړکړل سوه ، مشروطه خواهان نورغښتلي سوه ،دنړۍ ګوټ ، ګوټ ته سفيران واستول سوه،اخبارونه اوجريدې رامنځته سوې،دښځونهضتونه،دښځوخپروني اولڅ مخي راپيل سوه ،چي داټوله زموږ په آزادۍ پوري اړوند بنسټونه ګڼلای سو. په دې وخت کي دښځويوقوي حرکت راپيل سو،او په آزاده توګه دښوځو ښوونځی هم راپيل سوې چي موږ يې دلته ياد ونه کوو.

په افغانستان کي دښځولومړۍ جريده په ۱۹۲۱م کال دارشادنسوان په نوم خپره سوه چي دجريدې مشره د مرحوم محمود طرزي ښځه محترمه اسما وه ، چي د دې په څنګ کي محترمي روح افزا د نوموړي جريدې دتحريرچاري مخته بيولې ،محترمه روح افزا د محترم محمد زمان خان لوروه. نوموړې جريده دحمل دمياشتي پرلومړۍ نيټه ۱۳۰۰هـ ش کال په کابل کي خپره سوه.

همدغسي دمستورات په نو م ښوونځی هم په همدغه کال کي په ۱۹۲۱م کال دجنوري په مياشت کي افتتاح سوه ،.چي داوخت غازي امان الله خان پا چا دي اود پيښواو پر مختګونوڅخه ئې داسي معلوميږي ، چي په دې وخت کي دجاپان ،امريکا اوداسي نوراروپايي هيوادوسره ئې سويه ډيرتوپيرنه لري.خودافغانستان دغه پرله پسې انکشاف اوپرمختګ استعماري هيوادونوپه سترګونه سوای ليدلای نويې بياهم دهغه خپلي پخوانۍ زړې وسلې څخه کارواخيست اوپه ملک کې د کفراواسلام تحريکات را پيل کړه اوخپل لاس پوڅي ملايان يې بيا هم داميرحبيب الله (بچه سقاو) ترمشرۍ

لاندي سره وهڅول اوپه هيواد کې يوځل بياآزادي د ماتي اوخطرسره مخامخ کړل سوه، دښځومکتبونه وتړل سوه اودنارينودښووني اوروزني بهيرهم په ټپه سره ودريدی،په هيواد کي اقتصادي رشد هم مخ پرزيوال سو.ترهغوچي بيا هم په افغانستان کي دسقاولاس پو ځی حکومت دمنځه ولاړاوځاي يې دپا چا محمد نادرخان حکومت اوبيادهغه دزوی محمد ظاهرخان حکومت تنګ کړ،بيا هم د بيا دپاره دښځو آزادي اوجنبشونوموج وکړاودافغانستان په ۲۸ولايتونوکي دنارينوپرڅنګ کې دښځواونجونوتعليمي مؤسيسې،جوړي سوې اودهيوادپه لويوښارونوکي په توليدي مؤسيسواودولتي اداروکي ښځودنارينوسره يوځای ټولنيزکارونه راپيل کړه، نوموړې د موکرا تيکه پروسه ترهغه وخته دوام درلود،چي يوځل بيا دمذهب په جامعه کي لاس پوځي ملايان دامريکااوانګليستان ترمشرئ لاندي افغانستان ته دجهاد په نوم سره راغونډ سوه اومرتجع عرب يې هم شاته ودريد ل ، يوځل بيا دافغانستان آزادي د پاکستان اوعربي هيوادونوتراغيزي لاندي راغله .اولومړئ حمله يې دښځوپرښوونځيواودښځوپرلڅ مخي اوپه ټولنيزوکارونوکي د ښځوپرکاراو فعاليت باندي وکړه ، چي تراوسه هم دغه لړئ دوام لري.

نوزموږ په ګران هيواد کي چي هرڅومره د پرديولاس برى وي په هم هغه اندازه به زموږپرټولنيزبهيرکرمينليزم سياست جريان لري اونه دا چي ، دښځو حقوق به ترپښولاندي وي ، د نارينو حقوق به هم نه وي تامين .

نتيجه : لومړی: داچي ښځو دتاريخ په اوږدوکې خپله آزادي په خپلومټوترلاسه کړې ده .

دوهم : داچي دښځوازادي دهرهيوادخپل حق دی،چي دانساني نړئ نيمه برخه جوړوي نو دغه حق بايد په توليدي اوټولنيزوبرخوکې فعاله وساتي .

دريم : دښځوآزادي دهيوادونودآزادئ سره مستقيمه رابطه اواړيکي لري .که يو هيوادآزادوي هلته دبشري حقونوڅخه دفاع ممکنه ده ، خوکه بياغلام وي نونه دا چي ښځې بې ازادي ونه لري ، خپله خلک اوچارواکي به يې لا هم نه وي آزاد.

که بيرته خپلی موضوعوته راوګرځونوستارې اڅکزی دغه رازاودغه نړيوال ټولنيز شرايط دافغانستان دستونزواصلي علتونه په ډيرښه ډول پيژند لی وه. نوځکه ئې هم د افراطيت په مقابل کی مبارزه کوله اوپه همدغه جکړه کې خپل ژوند هم دلاسه

ورکی.سهوه دلته ډیره واضیح ده.ځکه چی دبن د کنفرانس څخه وروسته ۲۰۰۱م کال څخه وروسته په افغانستان کي یوضعیفه غلام حکومت د ډیموکراسۍ ، دبشرد حقوقواونړیواله مافیا اوداسي نوروښکلوشعارونوسره جوړسو.نوموړی حکومت ډیر ضغیفه په فساد ککړ ،دچوراوچپاول،نړیواله مافیا ، فساتیان اودهیوادهغه سرسخته غله اودښمنان دناټوپه مشرۍ پرهیوادحاکم سوه.اوپه نتیجه کې،دهیواد قیمتی مځکی ، د کورونو په منځ کی پارکونه،خالي ټاټوبي حتا د خلکو شخصی مځکی اوباغونه ئې په زوره لاندی کړه.دولتی چوکۍ دتنظیمونوترمنځ سره وویشل سوې.تولیدی مؤسیسات د منځه ولاړه.اود جنګسالارانوترمنځ وویشل سوه.تولید په ټپه ود ریدی اودخارج دکومکونوپرویش باندي هم جنګونه اود تنظیموترمنځ ناخوالی را پیداسوې. دتاریاکوکرل،دهیروهینوقاچاق اوددې لاري څخه سرمایداران راپیداسوه.دولت یوازي دهغوکسانودساتلووسیله سوه کوم چی د ناټوځواکونوته ئې خد مت اووفا داري درلودله.په دغه وخت کي دپاکستان څخه راغلي اوه (۷)تنظیمه اودایران شعیه اته مذهبي تنظیمونه اودهغه د مشرانوترمنځ د حکومتي چوکیوویش اود سیاسی قد رت تقسیم ئې دناټوپه مرسته سره وویشی.دغه ټوله هغه کسان وه چی دطالبانوتروااکمنۍ ترمخه ئې هم داهیوادچوراوچپاول کړی وو.دهیواددتجزئې دپاره ئې هم سخت کارکاوه خود طالبانودخوا څخه دوی وشړل سوه.بیرته ناټواوامریکا دوی ځکه راوستل چی دوی بد نامه خلک وه.اوهرڅه چی ناټوورته ویل هغه ئې هم ترسره کول.دجهاد تر نامه لاندي ئې ډیره شتمنۍ ترلاسه کړې وه.اودا هغه کسان وه چي امریکا ئیانواو نا ټوته ئې په افغانستان کي دمداخلې زمینه برابره کړه.اوناټوهم ددوی دپاره ټول شرایط دغلا،چوراوچپاول ورته برابرکړه.ناټوپه افغانستان کې دملی اوډ موکراټیک ګوند یعني دخلک دکومرا ټیک ګوند په را چپه کولوکې دهمدغه پا کستان ،ایران اودهغه تربیه سوی جهادیانوڅخه ګټه واخیستل.اوسیاسی قدرت ئې ور وسپارۍ، په دوی کي ځیني ئې عقیده وي ملایان،پیران،اغاګان اومکتبي ایخوانیان وه. چی هغوی دتاریخ په اوږدوکي دغربیانودخواڅخه تربیه سوی وه.اودتاریخ په اوږدوکې دافغانستان د پرمختګ مخه نیولې وه.اویوازی ئې دیوه وروسته پاته نظام اودفیوډالي شوړید لي نظام د پاره کارکاوه.

دلته امریکائیانواوانګریزانوسخته تیروتنه داده چی پرملایانوباندي هیڅ وخت هم ډموکراسي نه سي راتلای اونه هم دبشځوحقوق بشپړه کیدای سي.لکه څنګه چي

موږ.په دغه شلوکالوکی ولیدل چي ښځي ددغه حکومتی چارواکو دخوا څخه تر فشار لاندي راغلي دي، دتاوتریخوالي قربانی سوی دي. اودآزاد ژوند څخه محرومه سوی دي.په دغه دوران کي ښځي دلځ مخي ،آزد کاراوآزاد ژوند څخه د چارواکو له خوا منعه سوي دي.دلیل ئې دادی چي : تند روه مذهبی ملایان په واقیعت کي ښځه دنارینوپه څیریوژوندی موجود نه ګڼي.اونه ئې حقوق دنارینوپه څیرمساوي ګڼي.نود لته پوښتنه داده؛چي ایا اروپا ئیان اوامریکا ئیان په دې نه پوهیږي؟. نه! دوی ډیر ښه پوهیږي ولي؛زموږددغه وروسته پاته ټولنی دوروسته پاته فرهنګي بنسټونوڅخه دوی ناوړه ګټه اخلي.نوئې دخپلو اهدافو په خاطردټولني هغه ډیرپه فساد لړلي، بیسواده اوپه مذهبی افراط اخته کسان په لاس سره راټول کړه اودپا کستان سره ئې په ګډه په صلااومشورې سره ئې دغه په لاس را ټول کړی کسان واک ته ورسول. اوپه جیبوکې ډیر،ډیرډالرونه ورواچول.خو!دهیواداختیارئې ځینی ترلاسه کړ. مخامخ منورشعارونه،خوندورشعارونه ئې په لاس ورکړه؛خوترپردې شاته پټي معاملې ئې په ډیرخطرناکه ډول روانی وې.په هیواد کي دتبلیغ دلاري تلویژنونه را ووتل اوهمیشه ددولت په خدمت کي ددولت په تبلغ کې تبلیغات وکړه، اوټوله خبري ئې په را تلونکی کي د جنت ایندې ته منسوب سوه. خو په عمل کي ئې بیا هم په دغه ۱۹ اویا شل کاله کي یودښارینووبازارته چي دکابل دپایتخت مرکزدی برق یا بریښناونه رسیدل. چیري هغه د کجکي د ما شینونوترمیم چي پخوا هم امریکائیانو جوړکړی اورغولی وو.همدغسی دهیوادپه کچه د برق په لسهاونوري د ستګاه وې.داخولاهغه خواته پریږده.دناټواوامریکائیانوپټي اوښکاره دسیسي خولاداهم دي ،چي غواړی افغانستان دپاکستان ترقیمومیت لاندي دیوې صؤبې په ډول راولي، نو ځکه ئې دخپلولاس پوځوجنګسالارانوپه وسیله ترټولونه مخکي په تولیدي ماشینونواوددو لت په مالکیت پوري ترلووټیزوفابریکواوتولیدي مؤسیسوباندي په ډیره بیرحمانه توګه برید وکړ. چي په نتیجه کي یولړفابریکی خرابي کړې او دوسپني په قیمت ئې ماشینونه وپلورل اومځکي ئې جنګسالارانوپه نه څه ترلاسه کړې.دبیګې په توګه دمزارد کودبرق فابریکه سقوط سوه.دنساجۍ فابریکي سقوط سوې.اوهمدغسي نوري تولیدی مؤسیسې، چي ددې څخه هد ف یوازي دغه کیدای سي چی موږ اقتصادي توان ونه لرواوهمیشه ګاونډي پاکستان ته اړیواودهغوی دپاره وارداتي بازاروګرځواوهمدغسی هم وسوه.افغانستان چي دمخه تر دې چي دناټولاس

ته ولوېږي،تريوه حده خود کيفايا پرخپلوپښوولاړهيوادئ.ترډيره ځايه پرځان اوداخلي توليد ئې تکيه درلودله. خواوس موږدومره ناتوانه سو،چې ټوله توليدی جنسونه مودپا کستان څخه راځي اوموږ ئې په اقتصادی لحاظ سخت وپا کستان ته اړايستلو.

همدغسی امريکا ديوه پلوه که ناري سوري وهي چي موږ په افغانستان کی دافراطيت ځالي دمنځه وړو. خو داخبره ئې کوچنی هلک او ړوند سړی هم درک کولای سي. چې دتروريزم ځالی په پا کستان کی دي. اوهغه دافغانستان په ټولوتخريبي پيښو کي لاس لري، خوامريکا په ډاګه ناري وهي چي پاکستان دامريکا ستراتيژيک دوست دی.نوبيا سوال دا پيدا کيږي چی هغه ستا دوست دی او ستادوست تاته دطالب داعيش او نورو تروريستی ګروپونوپه شمول تخريب کاران درته را استوي، اوهره ورځ د۲۰۰ څخه تر۳۰۰ پوري افغانان دافغانستان په خاوره کی وژني،نوداڅنګه دوه مخی سياست دی.چی هم ئې دافغانستان سره لري،هم دي دپا کستان سره ستراتيژيکي ګټي دي.معلو مداره خبره دوخت خو داده چی امريکائيان دافغانانو سره په دوستۍ کي صاد قه نه دي.او نن چي افغانستان دافراطيت اوتروريزم نړيوال مرکزوګرځيدی اوهمدغسي په فساد کې په نړۍ کي لومړۍ درجه ترلاسه کړه او ياهم دککني هوا،غربت،بې امنيتۍ،اداری فساد بد ترين هيواد په ټوله نړۍ کي نامتو وګرځيدی،مسؤله ئې ناټواودهغه شريکان دي.ناټوپه دې پوهيږی چي پرملايانو حکومت او ډموکراسي نه جوړيږي .دغه ټوله يوه غټه د سيسه ده زموږ ګران هيواد افغانستان ته.اوهمدغسي هغه هيوادپالو هيوادوالواومنورينوته چي دافغانستان دابادولو اودپرمختګ ليوال دي.اوپه دې لاره کې ډيری قربانۍ هم ورکړی دي.هغوی ته دغه د ګلو باليزم، ډمو کراسی،دبشر حقوق ،دښځو آزادي،دنړيوال قاچاق مخه نيول اوداسی نورغولونکی شعارونه چی نن ورځ ئې نا ټوجمعه پا کستان په افغانستان کی استعمالوي،داهغه دتلکي ژړچنجی ته ورته دی کوم چی خواربلبل په نيول کيږي. دلته ئې هم په دغه تلکه ډيرمنورين ونيول اود تروروموۍ ته ئې برابرکړه.په دې لړکي ځينی ځوانان دهيواد د بيا ابادولودپاره د خپل ښه ژوند څخه تيرسول اوهيواد ته راغلل. خولړوخت ئې لا نه ووتيرکړی چي دهد فمند وتروريستان دخواڅخه ترورااووژل سوه.خوځينی بيا په هيواد کی د ننه هيواد پال شخصيتونه چی ترډيره ځايه دناټواوامريکا ئيانوپه دغه نا خوالوخبروه. هغوی د هيواد پالني په درشل کي دناټوددغه غلام حکومت پرضد ويالړلی ريښتيا اوخبری کولې هغه ئې هم په خپلو

داخلي تروریستانو ووژل.د لته ستار ه هم دهغه خوښ باوره کسانو دجملې څخه سوه چي دناټواو امریکا ئیانو په دغه پټو شیطاني دسیسو ئې ترډیره وخته سرنه خلاصیده اوهغه وخت چې ئې ټوله د نژدوڅخه ولیدل اودغه نړیواله ګیم اود سیسه ئې دنژد و په مستند ودلایلوسره ولیدل اوپه پوهه سوه.نو هغه وخت بیاوخت تیروو.او دااومیړه ئې خدای بخښلی درویزه ددغه ترویزم قرباني کړل سوه.

دغه وخت چې دناټواوامریکا ئیانود موجودیت ۱۹ کاله بشپړه کیږي ویل کیږی چې امریکا ئیانوپه افغانستان کې یوتریبلون ډالره مصرف کړی دي. چې په تخمیني ډول نوموړی عاید ۱۲۰۰میلیارډه ډالره کیږي.نوکه داریښتیا وي.خوبایدلاسته راوړنه هم ولري.لیکن د خبري حقیقت خودادی.چې دافغانستان عسکري نظام ترپخواترهر وخت ضعیفه اودځان دد فاع توانمندی نه لري. موږ یوه اندازه شاه ته ولاړسو.نو دظاهرشاه نظام،دسردارمحمد داودجمهوري نظام اوبیاد خلک ډموکراټیک ګوند تر حمائې لاندی نظام چې څورلس کاله ئې دټوله نړۍ سره دفاعي جنګ وکړ.دنړۍ القاعده،دنړۍ امپریالیستې هیوادونه،پاکستان،دافغانستان داخلي جهادي قوتونه اوداسي نوردافغانستان د دموکراتیک نظام ضد قوتونه تراوسني حکومت چې ناټواوامریکا ئیان ئې پا لنه کوي. ډیر قوي وه.اودځان دد فاع ،د خاورې د تمامیت دفاع اود کاونډ وهیوادو په پرتله ئې دخاوري دساتني اود ملت دلاسته راوړنوتوان مندي ئې درلود له.

همدغسي په ټولنیزژوند کي دناټواوامریکا ئیانودراتګ څخه مخکي په افغانستان کي په هیروهینو اخته کسانوشمیریا نه وو،یاهم په هیڅ کی حساب وو.خواوس چي دناټواو امریکا ئیانوموجودیت څخه ۲۰ کاله تیریږي درسمي احسائې له مخي څلور میلونه کسان په هیروهینو اخته دي،دنړۍ په هیڅ هیواد کی دومره بیچارګي،لوږه یا خوارځواکی نسته لکه نن چي په افغانستان کی شتون لري.دتاوتریخوالي کچه هم دنړۍ په حساب په افغانستان کي ترټولوهیوادولوړه ښوول سوې ده.همدغسی دماشومانودژوند خطرناکه حالت ، دسوادکچه،دښځودتحصیل کچه دغه ټوله هغه څه دي چي په افغانستان کي دنړۍ په کچه خورا بد حالت ښوي .اوستارې اڅکزۍ هم غوښتل چي دغه ناخوالو ته دې دپای ټکی کښیږدي اوددغه ارمان په خاطرتردغه شعارلاندي: چي زموږ هیواد زموږ په مرسته جوړیږي.هیواد ته ورودانګل.اوخپل ځان ئې دلکونو هیواد والو په څیرددې هیواد د سمون په خاطرتجربیه کی.

دغه وخت دناتودقواوچي په پورته ښکلوشعارونودې هیواد ته دخپلو روزل سوو.جهد یانوپه مرسته ئې عسکردې خاورى افغانستان ته راداخل کړه،دا هغه وخت وو،چی لاخلکوفکرکاوه چی امریکائیان چي دیوې پرمختلل بورژوازی ټولنی مخکښان دی،زموږ په خاوره کي به هم بورژوازي بنسټونه ټینګ اوقوی کړي،یعني افغانستان به دتولید په پروسه کی یو سرمایداري اقتصاد ولري اودشخصی مالکیت په اقتصادی نظام کي به ټولنه دښوتولیدي وسایلوخاونده سي.اود پرمختګ پړاونه به تیروي.هغه وروسته پاته فیوډالي مناسبات به د منځه ولاړسي.ښځي به خپل ټولنیز حقوق ترلاسه کړي اود ډ موکراسۍ په چوکاټ کی به قانوني اساسي جوړسي او دقانوسره به سم انتخابات اودخلکوواقیعی استازی پارلمان ته ولاړسي اودا ټولنه به هم په سیاسي لحاظ یوه پرمختللې ټولنه سي اوهم به په اقتصادی ډګرکی دازاد رقابت دلاري دازادبازارڅښتنه سي.اود سیمي د ګاونډي هیوادونوداقتصا دي برترۍ څخه به خلاصه ټولنه دامریکا په کومک جوړه سي.اودغه بیلګې به ټولوخلکو دالمان او اروپائي هیوادوویل اوددوهم جنګه وروسته جرمني یا المان دامریکا ئیانوپه مرسته پر پښوودریدی.دسیاسي طالب اوسیاسي مولایانو کمبله به ټوله سي.اوبیا به افغانستان دمذهبی جنګونوشاهید نه وي.او نه به هم دپا کستان، سعودي عرب مداخلې د مذهب او د کفراواسلام په نوم دلته ترسره کیږي. باید هم دغه توقوع دامریکائیانوڅخه په دغه یوویشتمه پیړۍ کي سوې وای.اوپه واقیعت کی هم دبشردحقوقوترټولوسترډ نډوره چیان هیوادهم دغه امریکا اوبیاغربي هیوادونه دي.دغه هیوادونه که دیوه پلوه نارې وهي چي نړیوال تروریزم دې نړۍ ته خطردی، ډ موکراسي ښه ده ، نړیواله مافیا بشري ناورین رامنځته کوي. دغه ټوله خبري په تیورۍ کي ډیري ښې خبري دي. خوددې خبروڅخه ناوړه ګټه اخیستل اودخلکوخطاایستل بیادیوه واقعي انسان په نظریوغټ جرم ګڼل کیږي.هغه وخت چی ستاره اڅکزۍ دالمان څخه خپل هیوادافغانستان ته راغلل،دا وخت په وا قیعت کي یولړخلکو ددې انتظار درلوداوپه دې باورمند وه چی امریکا ئیان دلته سوله راولي، دتروریزم ریښي دبیخه کاږي اوداځکه چی امریکایوپرمختللی سرمایداري هیواد دی.اوسرمایداري تل دفیو ډالیزم په مقابل کي نوې پیښه اونوی نظام دی.چی هغه زوړنفي کوي.دا ډیالیکټکی منطق وه.اوخلکوحق هم درلوود چی دهمدغه امریکائي بورژوازی نظام اود ناټود قواوراتګ چي یونظامي برید وو،پرطالبانوباندي.په لومړیوپړاونوکي دالقاعده او

مذهبي افراطيانوپه مقابل کې داکثريت خلکوملاتړترلاسه کړ.اوستاره اڅکزی او خدای بخښلی درویزه هم ددغه اکثريت خلکود جملې څخه وه.خو! په وروسته کي دخدای بخښلي درويزه اوستارې اڅکزۍ هم سرپه دې خلاص سو چي امريکا ئيان جمعه دافغانستان هغه پخواني جنګيان (توپکسالاران) جمعه دخارج څخه راغلي اتنوکراتان په افغانستان کی خپل شوم عملونه سرته رسوي اودعام ولس دچورولودپاره راغلي دي اوغربي هيوادونه هم دوی دخپلوګټو دپاره استعمالوي.دغه وخت چي ستاره شهيده سوه ۲۰۰۹ م کال وودامريکا ئيانو دشتون؛ستاره اوخدای بخښلی درویزه په دغه وخت کي په دې پوه سوه چي زموږ.موجوديت دخطره سره تړلی دی.اوزموږ.موجوديت افغانستان ته ګټه نه سي رسولای نو سمدلاسه ئې تصميم ونيوه،چی بيرته المان ته ولاړسي.خو!!دبده مرغه داوخت ډيرناوخته سوی وو.دښمن داخلي اوخارجي مخکی لا د ستارې دترورپروګرام تړلی وو.اوپه دې بريالي سوه چي ستاره اڅکزۍ په سپنه ورځ د کورومخي ته په داسي حال کي ووژني يا ترورکړي ، چي دا د کوره څخه يو شل متره ليري د کورد لرغونی ګاونډي حاجي بشيردميرمني دپاره درخشې څخه راکښته سوه.او دهغې څخه ئې هم داخيرني ديدن په عنوان دخدای په امانی اخيسته ، داځکه چي نورهغه دخپل ځان دتروره څخه هم خبره وه اوطالبانواخطارونه ورکړي وه اوشبنامې ئې هم د کوروشاه وخواته وراچولی وې. نوڅه وخت چي درخشې څخه راکښته سوه،ترچادری لاندي ئې دهغې سره روغبړ وکی اوهغه ئې هم پرمخ مچ کړه، ځکه هغه دکلی مشره اوسپن سرې وه.ددې څخه وروسته يوپنځه ګامه وروسته دکوڅې دکونج څخه ورته پټ سوی تروريستان دخپلو تروريستي وسلو کلاشنکوف په وسيله خورا ډير ټکان پر دغه مزلومي بيګناه علمی شخصيت باندي په بيرحمې سره وکړه.اودومرئې ډيري مرمۍ پرواورولې چي ويل کيږ.ي چی دخدای بخښلي ستارې مخ نوردپيژندل کيدوهم نه ؤ.

تروريستان په نورمال،ارمه توګه ،بيله وحمه اوبيري څخه دغونډۍ اوملاعلم اخوند دکلي پرلوروولاړل اووتښتيدل.د کوڅې خلک پردې باندي راټول سوه اوهريوه دغم اوښکي پرتوی کړې،خو!څه وخت چي وروروئې محمد کريم خان اڅکزی خبرسو، هغه هم دغه وخت نا جوړه اودعمرپه لحاظ ناتوانه وو.خوډيرئې هم وژړل اوهم ئې د ښمن په سختوالفاظوباندي وغندی.د لته دوشيان دپا ملرني وړ وه.

لومړی : داچي ولس او د کلی خلک ددې پروژني اوښکي تویوي،ژاړي دکوځې ملا هم ددې شهادت تا ئیده وي.ولس حیران پا ته دی چي زموږد مظلوماو بې دفاع خلکوسره ولي دومره ظلمونه کیږي.دغسی وژني خودافغانانونسی کیدای.هریوه نارې وهلې چي موږ خو خپل اولادونه ددې ستارې ترسیوری لاندي غوښتل تربیه کړو. دازموږ انتخابی مشره وه.د ې وسله هم نه درلود له،ددې مرادافغانستان ته دیوې پښتنې په صفت خد مت کول، مینه دخلکواوهیواد سره وه.اودښمن بیغیرته دمیدانه څخه دغله په څیروتښتیده اودهیواد نورودښمنانو ته ئې پناه یووړل. دوی که افغانان وای اویائې یوافغاني دافتخارڅخه ډک کار کړی وای، نوباید پر میدان دریدلي وای.خو دوی دغه غلچکی برید ترسره کی اوپه تیښته بریالي سوه.ددې معنا داده چي زموږولس ناتوانه دی.نن افغانستان دسیمي په کچه دګاونډوهیوادوتر استخباراتي بریدولاندي په مظلومیت کي ژوند کوي.

دوهم : دولس د نا توانی په صورت کي ، ددې څخه دا هم معلومه سوه ،چي نوموړی برید داخلي نه بلکي د خارجي هیواد دخوا څخه لارښوونه ورته سوې وه.اوداهغه ګاونډی هیواددی چي دپیدایښت دتاریخه څخه بیا ترنن ورځې پوري دافغانستان پر ضد هرډول ضد بشري،ضد حقوقي اودنړۍ دټولومتمد ینوقوانینوڅخه خلاف عملونه دی چي زموږ په هیوادکې ترسره کوي.نوبیا دا راجوته سوه،چي دستارې په شان دنوروشهیدانوتروررونویا وژنوشاته هم دپا کستان دهیوادلاس پروت دی.

**دهیواد شهیده**

دهیواد پر نوم خو مړنه ده ژوند ۍ ده

کارنامې ئې پاته کیږي تل ترتله دیادیږي

دهیواد په نوم ویاړلې دهیواداصلي بچۍ ده

دهرعصر یوه ښځه خپل دعصرملالۍ ده

دهیواد په نوم خوډیرشهیدان سوي نارینه وه

خواوس ګوروچي دښځوناره هم دآزادۍ ده

که دلمرسپوږمی ښکلا بیا پرآسمان نه وي

دآسمان ننداره ټوله سرپرسر په تاریکۍ ده

دادم او دهوا په نوم جوړه سوې دا نړۍ ده

ښځه نرخوداسمان څخه راغلي پریشتې دي

چي شیطان ئې وي په څنګ کی خودبه داسي مامليې وي

هره ښځه حوصله کې ترمیړونوګړندۍ ده

پرمیدان د سیاست اودجګړې هم دا ځلیږي

یومثا ل ئې دی ایند را بل ملا لۍ ده

پرد نیا چي نراوښځه دانسان په نوم یا دیږي

ښځه نرواړه بنسټ د د ې نړۍ ده

کوم هیواد چي انډول وي خراب کړی

هلته هر انصاف سم د مه وي با د وهلی

ستاره چي د هیواد په نوم نن مړه سوه

یاد بې تل وي دامړه نه ده شهیده سوه

ستاره وه قهرمانه دهیواد په نوم شهیده سوه

دحق پرلوررروانه وه په وینوکې ګلګونه سوه

دننګیال بځرکی فکرداویله ستاره موستاره سوه

دهیواد سره داهم په وینو سره سوه

**یادونه :**

**دیادولووړبولم چي دغه کتاب چي د ستارې دژوند بیلا بیلي برخي په کښي څرګندي سوي دي، دخپل وخت یوځانګړی تاریخ اودخپل وخت یوروښانه حالت درا تلونکو نسلونو دپاره کیدای سي. په افغانستان کي سوله را تلونکې ده، اوداچي دافغانستان جنګ دومره اوږدسو،علتونه ئې د بهرنیانوشتۉن دی زموږ په هیواد کي ځکه ددې جنګونومحتوا بهرنی مداخلې دي اوزموږپه هیوادکي د بهرنیانو شۉمي ګټي ددې سبب سوې دي،چي جنګ پیچلی**

**اومغلق کړي. هر وخت که افغانان دې نتیجې ته ورسیدل چي بهرنیان دهیوادڅخه وباسي،نوډیرژربه دافغانستان مسئله دافغانانودخپل منځي جرګودلارې حل کړل سي. که موږ دافغانستان تاریخ ته وګوروهغه وخت چي انګریزانوده ۱۸۳۵م کا ل څخه وروسته دافغانستان خاورې ته راننوتل او دداخلي دښمنانوسره ئې یو ځای پرافغا نستان باندې جنګونه تحمیل کړه.بیا تر ۱۹۱۹م کال پورې چې افغانستان بشپړه استقلال ته ورسیدی.وروسته تراستقلالاخیستلوڅخه په افغانستان کې کورني جنګونه،اختلافات موجودوه. خو!څنګه چي دبهرنیانومداخلي نه وې نوجنګ لږوخت وروسته ختم اوپایته ورسیدی.چي په باب ئې خورا ډیرتاریخونه دهغه وخت دتاریخ پوهانواو دلیکوالانو دخواڅخه خپاره سوه.**

**او همدغسي که لږ څه نورهم مخته ولاړسم ، په ۱۷۰۹م کال کې داپریل په میاشت کي چي دایرانیانو ظلم دګورګین په وسیله پایته ورسیدی. پرپښتنو باندسختي ور ځي را وستلې نو پښتنو لو مړی خارجی دښمن دخپل یوالي اوجرګو له لاري تر خپلو سرحداتو تیرکړه ،بیا ئې خپلو داخلي چارو ته پاملرنه وکړه او ایران ئې په ۱۷۲۲م کال کي داکتوبر پر ۲۱نیټه ونیوه او داصفهان شاهي تاج دشاه محمود پر سر کښیښودل سو. ایران په بشپړه توګه پښتنو ته وسپارل سو. چې نن هم هغه یووالی ته ټنګ ضرورت سته.**

**خو: نن چې ما دغه کتاب درا تلونکو دپاره ولیکی؛نه یوازې دستارې دژوندبیلا بیلي برخي په کښي روښانه سوي دي، بلکي دوخت پیښي هم داسنادوله مخې په همدغه کتاب کي لیکل سوي دي.**

**یادونه مي داده چي که په کومو ځایونو کي دموضوعاتو تکرارراغلی وي، دهغه علت دادی چې مختلفورسانیو،مختلیفو لیکوالانواواخبارونوچي خپل دتحلیل مواد را خیستي دي هغه ئې دیواوبله څخه نقل کړي اود خپل ځان دخوائې هم خپل معلومات ورسره شریک کړي دي.اوخپل مضمون ئې ثوقه کړی دی.خو ما تر ډیره ځایه کوښښ کړی دی چي دوخت رسانئ را واخلم او دهغوی په مرسته نوموړی کتاب بشپړه اوغنی کړم.څو دهمدغه لاری څخه درسانیوپاخه اسناد هم خوندی وساتم او دستارې شهیدي دژوند یاد هم په تازه کړم. په درناوي**

**ننګیالی بڅرکی**